# ادبي یادښتونه

عبدالغفور لېوال



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب نوم: ادبي يادښتونه
لیکوال: عبدالغفور لېوال
ناشر: د افغانستان د قلم ټولنه
د نشر شمېر: ۴۸
تیراژ: زر ټوکه
د پښتې طرحه: ژکفر حسيني
د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ. لمریز
د چاپ ځاي: د افغان مسلکی مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا مقالې

د ادبپوهنې د یوه زده کوونکي په توګه مې وخت ناوخت یو شمېر یادښتونه کاږلي، چې له کښلو یې موخه د ځینو ادبي تجربو بیان، یا د یوې ځانګړې سکالو شننه وه.

په شعر او شاعرۍ کې، چې هر کله له خپلو تجریو یا د نورو په ښکلو شعرونو کې له یوې ځانګړنې سره مخامخ شوی یم نو یې په اړه مې څو کرښې لیکلي، چې د ځوان کول لپاره پاتې شي.

زه په مشاعرو او ادبي ناستو کې د زلمیو لیکوالو او شاعرانو له ډېرې مینې سره مخامخ کېږم، کله کله دا ادبپوهنې د ځینو مسألو په اړه پوښتنې راڅخه وکړي، زه په هغه شیبه کې څه ماتې ګوډې څرګندونې ورته وکړم، خو چې یو ازې شم نو ځان راته اړ او پړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاره شي، بيا کتابونو ته سر ورښکاره کړم، خپلې تجربې راوشاربم او پر هاغو مسألو څه ليکنې وکړم، د همدې لپاره په خپلو دغو ليکنو کې نه د ژورې څېړنې دعوا کوم او نه هم د کوم مهم پرمختګ ډېره پر سينه موښم، بس هسې له خپلو زلميو دوستانو سره يې صميمي مشورې ګڼلای شم.

په دغه کوچني غونډ کې د شعر او تصوير په اړه زما يو څو مقالې شته او همدلته يې ښايي ياده کړم، چې په دې اړه زه نورې ليکنې هم لرم، چې يو مهال به يې د يوه ځانګړي څېړنيز کتاب په ترڅ کې خپرې کړم ،انشاالله. د پښتو ژبې او ادب د ماسترۍ د دورې ځينې څېړنيزې ليکنې مې هم را اخيستي، چې ماته يې خپريدل ګټور بريښېدل. دا ليکنې د کلاسيکې دورې پر متونو را چورلي. له تاريخ سره د ادبياتو اړيکې، تل زما لپاره په زړه پورې څه وو، زما ځينې ليکنې د دې دوو بشري پوهنځانګو په بريد کې کارېل شوي دي او د تيورۍ له پلوه مې هم په دې اړه څه نا څه ليکلي چې يو دوه يې په همدې غونډ کې درته وړاندې کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به پوښتنه رامنځته شي، چې ولې دغه لیکنې دلته راغونډې وو؟

ما په ژبو او ادب پوهنځي کې د زده کړې له مهاله د داسې کتابونو کمی احساساوه، چې ځینې ادبي نوموونې او مسایل دې تر بحث لاندې راولي، هغه مهال ما فکر کاوه لږ تر لږه د جدي بحثونو د پیل کېدو لپاره ښایي لومړنۍ لیکنې وشي، په افغان ادبي بهیر او د قلم د نړیوالې ټولنې په غونډو کې زموږ له څو کلنو ناستو ولاړو سره دغه اړتیا نوره هم جدي ښکاره شوه، ما فکر وکړ، چې ابتدايي بحثونه ښایي را پیل کړو، ولو که نیمګړي هم وي، همدا چې یو زلمی محصل را پاڅي او ددغو پیلیزو لیکنو نیمګړتیاوو ته ګوته ونیسي هم موږ به لوی کار کړی وي. ځینې دغه لیکنې چې تاسو یې په دې مجموعه کې لولئ، هلته او دلته خپرې شوي دي او له نیکه مرغه هرې یوې یې زما له زلمیو ملګرو سره یو شمېر پوښتنې او د بحث لپاره تنده را پاروله ده، هغه څه چې موږ یې تمه کوله او کوو یې. نو ښه به وي چې دا ټولې په یوه ټولګه کې راټولې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له څو کلونو را په دې خوا غوښتل د خپلو ګڼو ادبي مقالو يوه غوښنه برخه په بېلا بېلو مجموعو کې راغونډې کړم، خو د روزګار بوختياوو نه ورپرېښودم، په همدې ورځو کې پرما ګران اجمل تورمان (چې نوښتګر او هڅاند ليکوال، شاعر او رسنوال دی) په ما غږ وکړ، چې د دې ليکنو يوه منځنۍ ټولګه ورته چمتو کړم، چې را چاپ يې کړي او د هغو ځلريشت ساعتونو په موده کې، چې ګران تورمان وخت راکړی و، ايله مې همدومره راغونډې کړې، دلته د دغه ځوان فرهنګي له هڅو څخه د زړه له کومې مننه کوم.همدا راز له هريوه ښاغلي ژکفر، ښاغلي همت، ښاغلي صلاحي او نورو څخه هم مننه چې د کتاب په خپراوي کې يې لاس وکړ.

زما د ادبي اړيکو له کور (د قلم نړيوالې ټولنې) څخه خوښنه، چې د دې مجموعې چاپ يې پر غاړه واخيست او له خپلو ځوانو ادبي دوستانو څخه هم مننه چې د کتاب تر لوستلو وروسته به دا ليکنې په غځېدونکو بحثونو وارزوي، له خپلو مشرانو او استادانو څخه هم هيله لرم چې زما د بحثونو خامۍ او نيمګړتياوې را په ګوته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ګران عبدالواسع ساهو څخه مننه، چې که دده فرهنګي مینه نه وای نو زما په شان د نامنظمه لیکوال یوه لیکنه به هم نه وای خوندي.

تردې ډېر د خپلو ماتو ګوډو کرښو او ستاسو ترمنځ نه خنډ کېږم.

د ملي ادب د ښېرازۍ او ودې په هیله.

عبدالغفور لېوال

۱۹/ثور/۱۳۸۸

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په شعر کې د فکر او خیال موازنه

د شعر لپاره یو تر ټولو او سمهالی تعریف دا دی: (شعر په لنډه او آهنګینه ژبه د انداو تخییل عاطفي ترون دی)

ددې تعریف له مخې مورږ د شعر لپاره دوه ډوله لازمي عناصر پېژنو، لومړی د شعر بهرني عناصر او دوهم د شعر داخلي یا محتوا ايي عناصر. د شعر بهرني عناصر لنډه او آهنګینه ژبه یعنې وزن، آهنګ، ایجاز، قافیه او نور دي، چې تر ډېره بریده د شعر په تخنیکي جوړښت کې ونډه لري. دوهم ډول عناصر چې د شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخلي عناصر يې بولو هغه فکر(اند)، تخييل، عاطفه او نور دي.
په شعر کې يو شمير نور جوړوونکي عناصر لکه تصوير، سمبولونه
او اساطير په دواړو برخو يعنې بهرنيو او محتوايي عناصرو پورې
اړه لري.

اوس راځو دې ته چې فکر او خيال په شعر کې کوم ځايونه لري؟
فکر د انساني ذهن او اعصابو د هغه فعاليت نوم دی، چې يو انسان
يې په ارادي توګه د خپلو ورځنيو چارو لپاره کاروي. د دغه فعاليت
متداوم شکل ته تفکر وايي چې تر ډېره د يوې پېښې، شيز،
مفکورې يا غوښتنې په اړه حقايق ترلاسه کوي.

خيال د انساني ذهن د هغه فعاليت نوم دی چې له موجودو
واقعيتونو څخه داسې څه ترسيم او تصوير کړي، چې له همدې
ذهني چاپيريال پرته په حسي محيط کې وجود ونه لري. له هغه ځايه
چې د تخييل جوړونکي عناصر حقيقي او حسي شيزونه دي ځکه
خو ويل کيږي چې هر تخييل په يوه نه په يوه بڼه په حقيقت کې ريښه
لري. د خيال او خوب ليدو تر منځ توپير همدومره دی چې تخييل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارادي دی او د عقل له خوا رهبري کیږي خو خوبونه غیر عقلي، غیر ارادي او دلاشعور په ساحه کې پېښېدونکي دي.

که موږ احمد پنځه کاله مخکې لیدلی وي او اوس یې بیا وینو، نو د فکر په مرسته یې را په یادوو، چې ددې شخص نوم احمد دی او پنځه کاله مخکې مو په دغه یا هغه ځای کې لیدلی دی. دلته احمد ـ پنځه کاله ـ ځای او پیژندل ټول واقعي حقایق دي، چې د فکر په مرسته تشخصیږي.

خو همدا چې فکر کوو احمد به یو ښه سندرغاړی وي، په یوه ستیژ به ناست وي ښکلې سندرې به وایي، ډېر خوږ غږ به یې وي او خلک به ورته لاسونه پړکوي، دا ټول د احمد په اړه زموږ تخیل دی، دلته هم احمد، سندرغاړی، خوږ غږ، ستېژ او د خلکو د لاسونو پړکول عیني شیزونه دي خو ځرنګه چې حقیقت نه لري او یوازې زموږ د تخیل په ځواک سره یو ځای شوي نو خیالي بڼه لري.

بل ځل موږ وینو چې احمد له یوه ښامار سره جنګ کوي، یا احمد وزرونه پیدا کړي او په اسمان کې الوزي، یا خو احمد له ملا ځخه کوز په یوه کب بدل شوی او په اوبو کې ګرځي، کیدای شي دا خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي ځکه ښامار، د احمد وزرونه او له ملا څخه کوز په کب بدليدل په واقعيت کې ريښه نه لري او يوازې په خوب کې پيښيدلای شي.

دا مفهومونه د انسان پيژندنې او اروا پوهنې په ويش کې راتلای شي خو په شعر کې داسې نه ده. په شعر کې فکر، خيال او خوب ترمنځ ښکاره سرحد او پوله نشته، دا به ډېر ستونزمن کار وي، چې وواېو د يوه شعر په جوړښت کې کومه برخه فکر دی، کومه خيال او کومه خوب. ځکه چې په شعر کې د خيال ساحه دومره پراخه او ځواکمنه ده چې هم فکر او هم خوب ليدل رانغاړلای شي ،دلته کيدلای شي احمد هم يو ښه سندرغاړی وي او هم يو زرين کب يا وزرلرونکی مرغه، خو په دې شرط چې خپل شاعرانه منطق ولري. او دا عقل دی چې موږ ته د شاعرانه منطق حدود ټاکي.

شاعران شعر د خيال بچی بولي، حال دا چې خيال د شعر سينګار کوونکی او د ښکلاييز ارزښت پنځوونکی دی. د شعر اصلي اډانه فکر جوړوي. د شعر محتوا، مفهوم او مانا د فکر له لورې رامنځ ته کيږي يعنې فکر غواړي يو څه وواييي، يوه خبره وکړي خو دا خبره وچه او يوازې خبره وي، تخييل چې ورته راشي دا خبره شاعرانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي سینګار یې کړي او ښکلې یې کړي همدلته ده چې د فکر او خیال له پیوستون څخه د شعر بدن جوړ شي راځئ په دغه شعر کې د فکر او خیال ونډه وپیژنو:

نن دې یادونو لکه مسته پېغله
زما زړګی لکه ښکلوکی ماشوم
په هوس و تخناوه
څومره دې وخنداوه
له ډېره شوقه دې پرې سپین غاښونه ولګول
څومره دې وژړاوه
اوس یې په غیږ کې نیسه
او ښکلوه یې په ناز
رضا کوه یې که رضا دې نه کړ
نادان ماشوم دی زمانې خبروي.
پیرمحمد کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر: د معشوقې یادونه د عاشق زړه په هوس کې اچوي، ژړوي یې او ځوروي یې، که معشوقه د خپل عاشق زړه خوشاله ونه ساتي نو د عاشق زړه به رسوایي جوړه کړي.

دا د شعر سناریو، خاکه یا طرح ده او فکر جوړه کړې ده، خو بس یوه طرح ده اولا تر وسه ښکلې نه ده، ځکه شاعرانه نه ده، مګر د فکر له خوا رامنځ ته شوې ده، اوس نو خیال راځي او خپل نقش ادا کوي ګورئ:

خیال: د معشوقې یادونه دومره ښکلې او خواږه دي لکه یوه مسته پیغله چې د عاشق پاک، معصوم او نازولی زړه، چې دیو ښکلي ماشوم په شان دی تخنوي خندوي او بیا له شوق او هوس څخه خپل سپین غابنونه پرې لګوي، له همدې امله ښکلی ماشوم ژاړي اوس نو ددې ښکلې پیغلې وظیفه ده چې دغه ښکلی ماشوم په غیږ کې ونیسي، ښکل یې کړي او رضا یې کړي او که نه د عاشق د زړه ماشوم به تولې زمانې خبرې کړي.

دلته تشبیهات، استعارې او تصویرونه، چې په واقعیت کې ریښې لري خو حقیقي نه دي، د تخییل په مرسته رامنځ ته شوي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



معشوقې يادونه له مستې پيغلې سره او د عاشق زړه له ښکلو کي ماشوم سره تشبيه شوي، دلته خبره يوازې تر تشبيهاتو پورې محدوده نه ده پاتې دا دواړه (مشبه او مشبه به) د خيال په مرسته ګڼ عاطفي تصويرونه رامنځ ته کوي، په هوس تخنول، له شوقه په غاښول، په غيږ کې نيول دا ټول ښکلي خيالي تصويرونه دي، خو دا هر څه د فکر له خوا په رامنځ ته شوې طرحه کې پېښېږي او خيال د فکر رعايت کوي، په شعر کې د فکر او خيال ترمنځ تناسب او موازنه رامنځ ته کيږي او په نتيجه کې شعر جوړيږي.

شعر کټ مټ لکه انځورګري، د کلماتو په مرسته تصوير جوړوي انځورګر (نقاش) لومړی فکر کوي چې څه انځور کړي مثلاً غواړي چې يوه ښکلې پېغله له يو اوښ سره رسم کړي او د کوچياني ژوند يو تصوير رامنځ ته کړي. هغه تصوير چې له پېغلې، اوښ او کوچياني ژوند څخه شته د انځورګر فکر يې د پنسل په مرسته طرح کوي وروسته فکر ورته رنګونه ټاکي مخ سپين غنم رنګه، شونډې سرې او سترګې تورې خو د ښکلا معيارونه او د رنګونو تناسب د کوچياني ژوند اغېزمنتيا يا تاثير د کوچۍ پيغلې په څېره کې يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټه او مرموزه غمجنه غمزه د خیال په مرسته رامنځ ته کیږي چې د هنرمند انځورګر په خیال کې شته. شاعرهم همدا کار د کلماتو په مرسته کوي او د فکر او خیال په عاطفي تړون او آهنګینو کلماتو کې یوه ښکلې انځورګري زموږ په مخ کې ږدي.

بې فکره تخیل داسې دی لکه څوک چې یوې سپینې ټوټې ته سره، شنه او ژیړ رنګونه وروشیندي او هیڅ ډول انځور را منځ ته نه کړي. او بې تخییله فکر داسې وي لکه څوک چې په کامره د یوې پیغلې عکس واخلي او موږ ته یې راوښیي. په لومړي کار کې هدف او په دوهم کې هنر نه شته، هغه مهال چې هنري هدف او هنري سینګار د فکر او خیال په مرسته رامنځ ته شي هنري اثر رامنځ ته کیږي. له همدې ځایه ده چې موږ په خپله هنري هستونه کې هم د فکر او هم د خیال موجودیت، توازن او منطقي تړون ته کلکه اړتیا لرو چې ځوان هنرمند شاعران یې ښایي موجودیت او موازنې ته کلکه پاملرنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعر او تصوير

تصويري کلام څه ته وايو؟ کله کله موږ په ورځنيو خبرو کې دداسې مطلب په هکله خبرې کوو، چې اوريدونکی يې د خبرو اوريدو پر مهال، نه موږ او نه زموږ د خبرو کلېماتو ته توجه کوي، بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ د هغې موضوع لړۍ تعقیبوي چې موږ پرې خبرې کوو. دلته دوه څیزونه زموږ خبرې تصویري کوي، یو دا چې یوازې پر ټاکلې موضوع خبرې وکړو او له ډېرو حاشیو څخه ځان وساتو او بل دا چې د ټاکلې موضوع کیسه په داسې بڼه وکړو چې پېښې، خبرې، اشیاء او حرکات د اوریدونکي لپاره تمثیل شي. د هرې کلېمې شاته یو مفهوم پروت دی، د مفاهیمو منظمې او په ارادي بڼه جوړې شوې مجموعې ته ژبنی تصویر او د کلیماتو مجموعې ته تصویري کلام ویلی شو. مثلاً آس-شنه-ورشو-سهار-منډې وهل، ټول کلېمات دي او په انتزاعي توګه د هرې یوې شا ته یو مفهوم شته اوس که ووایو: "سهار دی او په شنه ورشو کې یو آس منډې وهي" دا جمله یو تصویري کلام دی ځکه موږ ته یو تصویر تمثیلوي. هغه څه چې موږ یې د یوې ذهني پروسې په لړ کې ددغه تصویري کلام له برکته ګورو (مجسم کوو یې) همدا ژبنی تصویر دی، ولې ژبنی تصویر ورته وایو؟ ځکه د کمرې، فلم یا رنګ په وسیله نه دی ترسیم شوی، بلکې د ژبې (کلیماتو او مفاهیمو) په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته ترسیمیږي ځکه يې ژبنی تصویر ګڼو. اوس نو لاندې دواړه عبارتونه داسې تعريفولای شو:

تصويري کلام: هغه دی چې غرض ورڅخه د يو شي، فکر يا پيښې تصويرول، ترسيمول، او ذهن ته رسول وي.

ژبنی تصوير: د مفاهيمو هغه مجموعه ده چې د ژبې په وسيله شی، يو فکر يا پيښه تصوير کړي.

تصويري کلام نثر او نظم دواړه په بر کې نيسي، کيدای شي يوه کيسه، يو حکايت حتی يوه عادي خبره او يا شعر ټول تصويري وبولو، خو له شعر سره د تصوير د مناسبت په اړه د شعر لپاره داسې تعريف غوره کولای شو، چې: شعر د ژبنيو تصويرونو مجموعه ده. يعنې اوس له يو عام تعريف څخه "چې تصويري کلام دی" يو څه خاص تعريف ته ورننږدې شوو.

تصويرونه د شعر خاصيت نه بلکې رغوونکي توکي (اجزا) دي، يعنې شعر له معنوي پلوه له تصويريونو څخه جوړيږي. يوشمېر هغه شعري لوازم چې کلاسيکو بلاغت پوهانو د شعر لپاره نومولي لکه تشبيه، استعاره، مجاز او نور او همدا راز هغه لوازم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې معاصرو لويديځوالو په شعر کې په ګوته کړي لکه سمبولونه، اسطورې او تمثيلونه ټول هغه توکي دي چې د شعري تصويرونو د روښانولو او په زړه پورې کولو لپاره استعماليږي. له همدې امله په شعر کې ګڼ هنري فنون او د کلام صنعتونه د ښو تصويرونو د ايجاد لپاره کاريږي. کلاسيکو شاعرانو هم په خپلو شعرونو کې د ښو تصويرونو د ايجاد لپاره هڅه کوله، دا چې هغه مهال د تصوير مقوله په همدې معاصر مفهوم نه وه مطرح، بيله خبره ده خو د لويو شاعرانو شعوري هڅه دا وه، چې په خپلو شعرونو کې راښه تصاوير رامنځ ته کړي. دا ځو بيلګې به تحليل کړو:

ګوره راته څه وايي دا ستا دواړه چشمان
نور عالم نور ښکار کا، مونږ د دين او د ايمان
مري، چې لينده ويني کارګه ستا د خال د وروځيو
ناست دی تور کارګه، په ځو په موټي د کمان

خوشال خان خټک

خان په دغو دوو پرله پسې بيتونو کې لږ تر لږه پنځه بيل بيل شاعرانه تصويرونه پنځولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـومړی تصـویر: راوي (شـاعر) خپلـې معشـوقې تـه مخـامخ دی، ورسره خبرې کوي د "ګوره" کلېمه. یوازې یوه کلېمه. دغه حالت په بشپړه توګه تمثیلوي یعنې راوي او د هغـه مخاطب د خبرو پـه حال کې. راوي خپل مخاطب مخامخ کتلو یا متوجه کولو ته هڅوي.

دوهم تصـویر: د مخاطب (معشـوقې) دواړه سترګې خبرې کـوي. دا رېښتیا، چې یو ښـکلی تصـویر دی، تاسو کله د چا د دوو سترګو خبرې لیدلي؟ د سترګو حرکات کله کله بشپړ مفهوم افاده کـوي؛ یا غوسه دي یا خوشـاله، یـا مهربانـه او یـا هم بې تفاوتـه همدا خبرې دي، او دا چې تاسـو د خوشـال بابـا د مخاطـب د سـترګو ځـانګړی حالت تصور کوئ حتماً مو په ذهن کې یو تصـویر جوړوئ، د شـاعر کلېمات د کمپیوټر هغو الکترونیکي جریانانونه ته ورته دي چې په سکرین (پرده) باندې د جوړ شوي تصویر یوه برخه ایجادوي، یعنـې همدا کلېمات د شاعر له مقصد څخه راځي او ستاسو پـه ذهـن کـې یو تصویر جوړوي، د معشوقې د سترګو د خبرو ذهني تصویر.

درېیم تصویر: چې د لوستونکو ذهن سمدلاسه د راوي د مخاطب د سترګو له خبرو څخه لرې کوي دا دی چې نو رعـالم نور ښکار کـا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه سترګې د دین او ایمان په ښکار پسې ګرځي، دا د عیني او ذهني انځور جوړونې یو ښکلی تلفیق دی، عیني برخه یې د "نور عالم نور ښکار" او ذهني یې د "دین او ایمان" ښکار دی.

څلورم تصویر: چې دوه حرکتونه لري د لومړي حرکت په نتیجه کې دوهم حرکت ایجادیږي یعنې کله چې کارګه (کارغه) د معشوقې د خال او وروځیو لیندۍ ویني نو مري دلته د لینده لیدل یو تصویر او د کارګه مرګ بل تصویر دی خو خوشال بابا له منطقي پلوه دوهم انځور د شعري اړتیا له مخې اول راوړی دی یعنې "کارګه مري" کله چې "لینده ویني".

پنځم تصویر: خوشال خان یوځل بیا متقدم تصویر متأخر کوي او هغه کارګه چې مرګ یې په اول حرکت کې تمثیل شوی تعریفوي.

دا کوم کارګه دی؟ هغه چې د کمان په موټي باندې په څو ناست دی او له رنګه هم تور دی.

په کلاسیکه دوره کې- زما په نظر -خوشال بابا لومړنی شاعر دی چې په شعر کې د تصویرونو داسې تلوسه پنځوونکي بافت ته توجه کوي. دا ځانګړنه لږو ډیره په رحمن بابا -حمید موشګاف او کاظم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان شيدا کې هم شته چې حميد موشګاف د انځور هستونې ښه استازي دی، دا بيلګه وګورئ، چې د تصويرونو د بيلتون له مخې په تصويري ارکانو ويشل شوې:

خط پر مخ د صنم راغی

که سپوږمۍ شوه په هاله کې

دا يې غاښ په خوله کې زيب کا

که ژاله شوه په لاله کې

دا زما له غمه شين زړه

په کې خيال د يار د شونډو

هسې رنګ زيب و زينت کا لکه مې په شنه پياله کې

پاس هره بيله ليکل شوې کرښه د يوه ځانګړي راښه تصوير ښکندويه ده.

د کلاسيکې دورې په شاعرۍ کې تصويرونه د وړو انځوريزو قطعاتو په څېر يو د بل ترڅنګ کتارېږي ډېر ځله له موضوعي پلوه يوازې دي او کوم تړون نه لري په يو واحد شعر کې د کوچنيو تصويري برخو له مجموعې څخه يو عمومي تصوير اکثراً نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړیږي او دلیل یې هم د کلاسیکې دورې د شاعرۍ په فورم کې دی، غزل، رباعي، قطعه او نور فورمونه اکثراً په هر بیت یا حتی هره مصرع کې بیله موضوع بیانوي ځکه خو تصاویر هم سره بیل وي او لرغونې شاعري د همدغو فورمونو شاعري ده، په دې کې قصیده (بولله) او مثنوي هغه فورمونه دي، چې کله کله د خپلې موضوع د تنوع له مخې کامل او مجموعي تصاویر هم ارائیه کوي په تیره بیا هغه بوللې او مثنوي ګانې، چې د یوې خاصې موضوع په اړه وي که څه هم په کې د هرې تصویري ټوټې هڅه همدا وي چې د لوی او مجموعي تصویر یوه برخه سازه کا، خو زموږ لرغوني شاعران د انځوریزو ارکانو د تړون پر اهمیت ډیر نه وو خبر - په دې برخه کې بیا هم خوشال بابا سرلاری دی، د هغه ځینې قصاید او مثنوي ګانې او د حمید مومند ځینې تمثیلي آثار دا ځانګړنه لري.

په پټه خزانه کې راغلې درې بیلګې د مجموعي تصویرونو د ایجاد لپاره د کوچنیو تصویرونو د مرستې او تړون په برخه کې شهکارې نمونې دي: د غوري ښکارندوی نامتو قصیده:

د پسرلي ښکلونکي بیا کړل سنګارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا يې ولونل په غرونو کې لالونه

تر پايه

دوهم د شيخ متي بابا مناجات:

په لويو غرو، هم په دښتو کې

په لوی سهار، په نيمو شپو کې

تر پايه

او دريیم؛ قصه د سوی او د اوښ، چې حافظ عبداللطيف اڅکزي ليکلې ده. سره له دې چې د دريیمې بيلګې انځورونه له فني اړخه پوره دي خو د لومړيو دوو بيلګو په څېر ښکلي نه دي.

په هر صورت راځو اوسمهالې (معاصرې) شاعرۍ ته، دا چې په معاصره شاعرۍ کې ولې آزادې شاعرۍ ته ميلان او پاملرنه ډيره شوه، دليل يې په شعر کې د لويو انځورونو کامل ايجاد او د هغو د عناصرو ترمنځ د کلک هنري تړون موجوديت و، چې دا کار په غزل، مثنوي، رباعياتو، مخمساتو او نورو کلاسيکو فورمونو کې (له قصيدې پرته) ناممکن و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزاد شعر د تصویر جوړونې د ټولو ظرافتونو د کارولو لپاره مناسب قالب دی، دلته د قافیې او ردیف نشتوالی او د قراردادي وزني محدودیت د نه موجودیت له امله شاعر کولای شي ډېره پاملرنه موضوعي انسجام ته وکړي او په اصطلاح جدي اثر رامنځ ته کړي. د تصویر جوړونې په اړه به لومړی یو مثال توضیح کړو چې په آزاد شعر کې څومره ځای لري، بیا به د شعر لپاره د انځور هستونې اهمیت وڅېړو او تر هغه وروسته به ځینې خاص اصطلاحات تعریف کړو.

## بیدیا

سپېره بیدیا ده پکې پل د بنیادم نشته
یو څو پیریان دي له پردیو غرو راغلي
بربنډ یږي، ناخي، ناخي
چې تیاره شي بیا سینې پر خپلو میندو سړوي
پر خواړه خوب پریوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



+++

د زهرو ونه ده ولاړه

پر بیزو ادي یې سیوری کړی

بیزو د زهرو پرګي خوري هره ګړۍ ورځینې حمل اخلي

د ورځې دیرش، څلویښت بچیان زیږوي.

د ورځې دیرش، څلویښت ځوانان شي

بیا قتلیږي

خو بیزو ادې پرګي خوري

او لګیا ده هره ورځ نوي بچیان زیږوي

پیریان ګډیږي

د بیزو ادې په ویر او پر خواریو خاندي

چې شپه تیاره شي

بیا سینې پر خپلو میندو سروي

پر خواږه خوب پریوځي

سپیره بیدیا ده پکې پل د بنیادم نشته

اسحق ننګیال

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شعر یو دوراني اصلي انځور لري چې د دریو تصویرونو په پیوستیدو سره تکمیلیږي. د شعر د تصویرونو د متحرک خصوصیت له مخې د انځورونو اجزا ډېر د لمس وړ دي او حتی هر جز په خپله یو کوچنی تصویر جوړوي دداسې فضا ایجاد په کلاسیکو قالبونو کې ستونزمن حتی ناممکن کار دی د همدې لپاره د آزاد شعر قالب ورته انتخاب شوی، شعر له ناخوداګاه څخه راوتلي تصورات په یو عیني زمینه کې تمثیلوي یعنې د شعر زمینه عیني او د تصویرونو متحرک اجزا ذهني دي، د نامتجانسو اجزاوو راغونډول په عیني فضا کې د شاعر (اروا ښاد اسحق ننګیال) د شاعرۍ یوه ځانګړتیا ده چې تر ډېره بریده رواني - سمبولیک اړخ لري.

ولې په شاعرۍ کې انځور جوړونه مهمه ده؟:

پل والري عقیده لري چې: «شعر داسې دی لکه نڅا او نثر داسې دی لکه پر لاره تګ، پر لاره عادي تلل د یو مقصد پر لوروي حال دا چې نڅا په خپله مقصد دی، ځکه د کوم مقصد لور ته په نڅا نڅا تلل به خندوونکی کار وي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دې مثال ته وګورو نڅا تصويري ارزښت دی، يعنې که تاسو د چا پر لاره تلل د څو شيبو لپاره وګورئ نو درته جالبه به نه وي چې لا هم دغه مزل تعقيب کړئ بلکې ښايي پر دې فکر وکړئ چې روان سړی چېرته غواړي ولاړ شي؟ مګر که د نڅا ليدلو ته ناست ياست دا مو په فکر کې نه ګرځي چې نڅا کوونکی چېرته ځي بلکې تاسو غواړئ په خپله له نڅا څخه خوند واخلئ. په شعر کې تصوير د نڅا کوونکي د حرکاتو حيثيت لري، شعر نڅا کوونکی دی او حرکات يې تصويرونه دي.

بې تصويره شعر د ولاړ نڅا کوونکي په شان دی.

د هنر د اروا پوهنې يو اصل دا دی چې موږ له هر هغه هنري اثر څخه خوند اخلو چې د پرمختګ بهير يې زموږ په ذهن کې دوړاندوينې (پيشبينی) وړ نه وي، يعنې موږ دې ته منتظر يو چې څه به کيږي؟ کټ مټ په نڅا کې دا راز پروت دی، موږ د نڅا له ننداړې څخه ځکه خوند اخلو چې د نڅا کوونکي حرکات نه شو پيشبيني کولای، څوک ويلای شي چې اوس به د لاسونو، پښو، سر او سينې حرکتونه څه ډول وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شعر کې تصویرونه همداسې دي، د اسحق ننګیال په پورته شعر کې وینو چې په سپیره بیدیا کې ناڅاپه پیریان بربنډېږي او ناڅي بیا د زهرو ونه پیدا کیږي او بیزو بچیان زیږوي او بیا پیریان په بیزو پورې خاندې دا هرڅه زموږ له ذهن سره تصادم کوي، یعنې نوښت لري موږ یې د وړاندوینې ځواک نه لرو. په شعر کې تصویرونه زموږ خوبونو ته ورته دي، یعنې ارادي نه دي، هیڅ څوک نه شي کولای تصمیم ونیسي چې نن شپه داسې یا هسې خوب ووینې. مثلاً ، موږ پر خپلو خوبونو واکمن نه یو، په خوب کې کله یو ژوندی سړی مړ او یا مړ سړی ژوندی کیدای شي، په خوب کې یو پرهیزګاره سړی بربنډ لیدلی شو یو ځوان هلک سپین ږیری کیدای شي او تاسو به دا هم ومنئ چې څوک دې خپل نیکه په خوب ووینې چې سر یې د آس، بدن یې د مرغه او لاسونه یې د انسان وي. په هماغه لحظه کې چې موږ خوب وینو فکر نه کوو چې دا تصویرونه دې غیر حقیقي (یعنې دروغ) وي.

شاعرانه تصویرونه د شاعر لپاره ارادي خو د لوستونکي لپاره غیر ارادي دي. په شاعرانه تصویرونو کې بیزو هره ورځ دیرش څلوېښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



بچيان زيږولی شي او پيريان ورپوري خندلای شي، دلته هر څه ممکن دي خو په دې شرط چې خپل هنري منطق ولري.

په پورته بحث کې مو يو شمېر خاص اصطلاحات ياد کړل لکه اصلي تصوير، فرعي تصوير، تصويري توکي (اجزا) او تصويري حرکت، چې دلته به يې بيل بيل تعريف کړو:

اصلي تصوير: دا د شعر عمومي تصوير دی چې په مجموع کې د شعر پر ټولې موضوع حاوي وي، د اسحق ننګيال په پورتني شعر کې د سپيرې بيديا عمومي تصور د شعر د اصلي انځور له مخې ترلاسه کيږي.

فرعي تصوير: دا هغه تصويرونه دي چې د اصلي تصوير په دننه کې د کوچنيو موضوعاتو پر تمثيل تمرکز کوي، له هر موضوعي بدلون سره د تصوير اجزا بدليږي او د يوې خاصې برخې اجزا په مجموع کې يو فرعي تصوير جوړوي لکه په راوړل شوي شعر کې چې د پيريانو برخه د بيزو له برخې سره توپير لري او شاعر د هرې برخې لپاره يو فرعي تصوير ايجاد کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصویري اجزا (توکي): هر هغه شی، مفکوره، حرکت او حالت چې د تصویر په جوړولو کې ونډه لري او وجود یې په شعر کې د لمس وړ وي تصویري توکی دی لکه په پورتني شعر کې سپیره بیدیا، پیریان، تیاره، میندې، د زهرو ونه، بیزو، بچیان او نور ټول تصویري اجزا دي.

تصویري حرکت: هر هغه عمل، چې د تصویري توکیو له خوا ترسره کیږي د تصویر حرکت یې بولي. د تصویر حرکت د شعر پیښې پر مخ بیایي او تصویر ژوندی کوي.

په پورتني شعر کې له غرونو د پیریانو راتګ، نڅا، پر میندو سینه سرول، ویده کیدل د بیزو بچې زیږول، قتل، د پیریانو خندل او نور هغه حرکتونه دي چې د شعر د کلیماتو په مرسته زموږ په ذهن کې د موضوع تمثیل کوي او په مرسته یې شعري دوران بشپړیږي.

په شعر کې ساکن تصویرونه د نقاشۍ او متحرک هغه د سینما د یوې صحنې په شان ګڼل کیږي، په معاصرو شعرونو کې متحرک تصویرونه تر ساکنو هغو ډېر پلویان لري د همدې لپاره شعر یو ځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا د ژوند د پېښو تمثيل ته مخه کړي او تمثيلي څه چې آن قصصي شاعري دود شوې ده.

دا چې په شعر کې د فرعي او اصلي تصويرونو تناسب څنګه وي او د شعر حرکت څه ډول د تصويرونو په حرکت پورې اړه لري، يو څه تخنيکي او تشريحي بحث ته اړتيا لري، چې ليکونکی يې د يوې بلې مفصلې مقالې په اوږدو کې د بحث هوډ لري، البته له يوشمېر نورو شاعرانه مقولو لکه سمبول، تشبيه، اساطيرو او تمثيلونو سره د تصوير اړيکې هم د جلا بحث غوښتنه کوي، ځکه خو د دغه بحث نورې برخې هم ښايي بشپړې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په شعر کې حسي تصويرونه

په شعر کې د تصويرنو په اړه زما د ليکنو په لړۍ کې، ما پر ذهني او عيني تصويرونو بحث کړی و. موږ له دې دوه ډوله تصويرونو پرته يو بل ډول تصويرونه هم لرو، چې هغه ته حسي تصويرونه وايو. يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال د پښتو ژبې پياوړې شاعرې پروين فيض زاده ملال د نويو شعرونود اوريدو پر مهال په هغو کې ځو حسي واضحو تصويرونو ته متوجه شوم.ما له پخوا څخه غوښتل پر حسي تصويرنو څه وکاږم،د پروين جانې نوي شاعرانه انځورونه مې خوښ شول او فی المجلس مې ورته وويل چې خپل تازه شعرونه راوسپاري چې بيلګې ترې واخلم،زموږ درنې شاعرې په پوره علاقمندۍ هماغه شعرونه راکړل چې اوس ددې ليکنې د کرښو برکت شول.

حسي تصويرونه: هغه دي، چې په شعر(يا په هنري نثر)کې د کلماتو په مرسته داسې حالت ايجادوي چې موږ يې پر خپلو حواسو او عواطفو درکولای شو. موږ په عادي خبرو کې وايو کله چې مې د هغه غږ واوريد نو غونی مې زيږ شو ،د غوني زيږيدل د خوشالۍ اضطراب،ويرې،يا خوند په حالتونو کې پېښيږي او تقريباً هر انسان يې تجربه لري،که د خوشالۍ، اضطراب، ويرې، خوند يا بل حالت تصوير د کلماتو په وسيله داسې دقيق بيان شي چې موږ د غوني زيږيدل احساس کړو ،په حقيقت کې موږ يو ښه حسي تصوير لرو.په اروا پوهنه کې يو بحث شته چې اروا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګیزې یې بولي، په ساده ژبه دا د رواني عکس العملونو د ایجاد د پروسو پېژندل دي. په شعر کې د حسي انځورونو درک او پېژندل مخامخ په همدغو رواني انګیزو پورې تړلي دي. مونږ وایو د ځړوبي تر څنګ کله چې د اوبو یخه څپه راغله زه وریږدېدم. مونږ کله چې دغه کرښه لولو ـ که ډېره شاعرانه وي ـ باید له تصویر سره یې پر خپل پوست د ځړوبي د یخي څپې راتلل حس کړو که داسې وشول نو مونږ یو کامیاب حسي تصویر ایجاد کړی دی. د حسي تصویر د پیژندلو پر تیوري به وروسته وغږیږو خو اوس د پروین فیض زاده په شعرونو کې بیلګوته را ګرځم.

زه چې سهار زمونږ د کلي د ملا

په خوارږه بانګ ویښه شم

وی توبه خدایه

زړه نا څاپه راته وتخنیږي

د دوبي ښکلې ورځ چوغکې په چونې چونې

پیل کړي

چې یېلې پښې د یخ کاریز په سړو شګو کښېږدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدن مې سرترنو که څړيکې وکړي

داسې خوږې داسې پستې څړيکې

لکه زموږ د خان د هسکې کلا

په سروي ناستي دوې (ګو ګو )کوترې

د اوبو شړق مې په مخ لارې لاري

زما د لپو کربښې ولولي

د پښو په تلو کې مې روح د لطافت پاڅوي

بيا د کوټي د چت د تيرد ملانه

دراځوړند لور لاستی ونيسمه

زه يم لوګره نجلۍ

بيا و پټو ته ځمه

په نيم کښ مخ باندې به لو کومه

پرون تر تير ماښامه

آن د سپوږمۍ په رڼائيو کې ما

لو د غنمو وکړ

پرې سوو وږويې خوږ وږم لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه یې راوتو ساوه

دلور په پړق کې به مې سیوری د جانان لیده

لکه سپوږمۍ، سپوږمۍ شیبې وې د چنار په اوږو

لکه د عاد جنت

لکه نګهت د شنو چندڼو او د تور لونګ

لکه وشورد سپین پاولو

لکه و خیال د شهنشاه

لکه قبوله نکاح

زما تربور، زما جانان

زما وسرته ولاړ

لوګره نجلۍ شعر(ناچاپ)

موږ په دغه ښکلي شعر کې د څو عیني او ذهني تصویرونو ترڅنګ

یو څو واضح او ښکلي حسي تصویرونه لرو چې دا سي یې شرحه

کولای شو:

د دوبي ښکلې ورځ چوغکې په چوڼ چوڼ

پیل کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې یېلې پښې د یخ کاریز په سړو شګو کښېږدم

بدن مې سرتر نوکه څړیکې وکړې...

لوستونکی دا احساسوي چې داوړي په یوه ورځ د سوړ کاریز پرلمدو شګو باندې لوڅې پښې ګرځیدل څه ډول خوند لري، وګوری زموږ شاعره په څومره نوښت سره دغه حس موږ ته را انتقالوي، کلمات د دغه انتقال وسایل دي دغه ښکلی حسي تصویر عیني زمینه لري مګر موږ یې په لوستو سره خپل حواس د شاعرې (یاراوي)له حواسو سره منطبق کوو او له شعره کیف اخلو د شعر بله برخه وګورئ:

د اوبو شړق مې په مخ لارې لارې

زما د لپو کرښې ولولې

د پښو په تلو کې مې روح د لطافت پاڅوي

دا د شاعرې تجربه ده چې د اوړي په ورځ کله چې د یخ کاریز اوبه مخ ته اچوي هر څاڅکي یې پر مخ رارغړي او په لپه کې د یخو اوبو ساتل څنګه حس تولیدوي، پر شګلنه سړه ځمکه د بربنډ ه پښو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تماس او د ستړي روح لطیف لذت دا ټول په شعر کې د حسي انځورونو شهکار بېلګې دي چې موږ یې وینو.

دا اړینه نه ده، چې ټول حسي تصویرونه دې موږ (لوستونکي یا اوریدونکي) چې د شعر مصرفوونکي یو، هم کټ مټ د شاعر په څیر احساس کړو یا دې کټ مټ هماغه تجربه په ژوند کې ولرو، خو د شعر دننه هغه برخه چې د شخص شاعر یا شخص راوي حسي تجربه تمثیلوي او تعریفوي همدا پخپله د حسي انځور هدف او غایه ده.

د همدې شعر یوه بله برخه ګورو:

پرون تر تېر مابنامه

آن د سپوږمۍ په رڼائیو کې ما

لو د غنمو وکړ

پرې سوو وږو یې خوږ وږم لاره

زړه یې راوتو ساوه

مابنام مهال کله چې د لو شویو غنمو د پرې شویو ډنډرونو وږم د راوي زړه توسوي دا یو خاص حالت دی، موږ یې نه په ذهني ځواک

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصور کولای شو اونه هم د عیني توکیو د یوې مجموعې په حیث د هغو تصور ممکن دی یوازې همدغه وړم باید احساس کړو او یا د راوی (شاعر) احساس باید درک کړو.

دغه ښکلی شعر په یوه عجیب حسي تصویر پای ته رسیږي:

... زما تربور، زما جانان

زما وسرته ولاړ

دیوې لوګرې پیغلې محبوب، د غنم لو پر مهال تیر ماښام د هغې شاته ولاړ دی، او یا یې دا وجود احساسوي، کیدای شي دا یو نامرئي (نه لیدل کیدونکی) احساس وي یعنې د محبوب یا د هلته وي، یا لوګره پیغله د خپل محبوب تاوده نفسونه د خپل څټ پر پوټکي احساسوي، دغه مرئي یا نامرئي احساس ډیر جالب دی او داد شعر قوت دی چې موږ ته یې رالیږدوی.

د پښتو ژبې یو بل معاصر شاعر په سمندر کې یوه سره شپه د بیړۍ پر عرشه تمثیلوي چې له خپلې معشوقې سره ولاړ دی د محبوبې په څیره کې حیرانتیا، ویره او خوشالی سره جمع شوي دغه حواس کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې راڅرګنډېږي چې د حسي تصویرونو یوه نوې مجموعه د لوستونکي تر مخ ږدي.

په کلاسیکه شاعرۍ کې هم موږ د حسي تصویرونو بېلګې موندلای شو، حسي تشبیه چې د تشبیه یو ډول ده پخپله د حسي انځور جوړونې لپاره یوه ښه وسیله ده، خوشال بابا وایي:

تور اوربل به یې و چاوته غوړېږي

په وصال به یې د چا تتر سړېږي

د لبانو له بوسي به یې بس نه کړم

په خوږو نباتو کله څوک مړېږي

د محبوبې په وصال د تتر سړېدل حسي انځور دی همدا راز له خوږو نباتو سره د یار د لبانو د تشبیه د درک لپاره د حواسو مرسته په کار ده او دا د حسي انځور جوړونې توکي دي. په کلاسیکه شاعرۍ کې داسې خوږې بېلګې ډېرې دي.

مګر معاصره شاعرۍ چې تر تفننه زیات پر تصویري اصالت تکیه لري د ډول ډول تصویري برخو بشپړول موږ له شعر څخه خوند اخستیتو ته ورنږدې کوي. د حسي انځورونو ښې بېلګې په معاصرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غزلونو کې هم موندلای شو ،د پیاوړي غزل سرا ښاغلي محمد صدیق پسرلي دغه بیت وګورئ:

ژمي کې نرې سیورې هم په سرې پیتۍ شي
سوړ زړه به د بل حکم څرنګه او څله وړي

د ژمي په پیتاوي کې د سیوري پیتۍ کیدل، یا له سیوري څخه د پیتۍ احساس کول یو شاعرانه تصویر دی چې موږ یې د حواسو په مرسته تصور کولای شو ،موږ ګورو چې د غزل په څېر په تنګ قالب کې هم ښه حسي تصویرونه ځايیداى شي.

په معاصرو شاعرانو کې ارواښاد اسحق ننګیال، عارف خزان نور محمد لاهو او درویش درانی هغه شاعران دي چې ډیر ښکلي حسي تصویرونه یې ایجاد کړي ـ البته دا څو نمونه یوازې د بیلګو په څیر یادوو ګنی زموږ ځوان کول اکثر د داسې بیلګو خاوندان دي ـ

د درویش دراني دغه ممتازه بیلګه وګورئ:

زړه مې درد کوي له زړه وړپسې ژاړم
دښمنان چې مې وې مړه وړپسې ژاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه درد کول او د زړه له کومې ژړل موږ ته يو څه مجسموي( دلته زړه يا دوينې د پمپ کولو وسيله درد نه کوي ) خو دغه حالت څنګه احساسولای شو کله چې شاعر د دغه کار دليل وايي يعنې د دښمن مرګ يې هم ځوروي د شعر په مصرفوونکي کې يو څه ماتيږي، عجيبه ده د انتقام او زړه سوي ګډولـه احساس بايد وپيژنو.درويش د زخمونو او څريکو ګڼ تصويرونه روزلي دي.

حسي تصويرونه کله د راوي (شاعر)پټ احساسات، وسواس روحي عکس العملونه بې دليله خوشالۍ او حتی د ځانګړې ښکلا خوښونې حس هم تمثيلوي. کله کله حسي تصويرونه ډير فردي وي يعنې ودې شي چې يوازې يوه شخص ته د درک وړوي، دا له رواني پلوه غريزي لاملونه درلودای شي. د افريقې يو شاعر ليکي:

ژباړه:

تا کله د سترې آس پرتوده ډډه مخ ايښی دی؟

څومره چې د هغه د خولو بوی تاته آرامي ببښي

هومره هغه ستا په مهرباني باور لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ وينو چې رواى د ستړي آس پرتوده او خولجنه ډډه سر بږدي او خوند ترې اخلي، دى حتى له خپل دې حركت څخه هغه لذت هم حس كوي چې آس يې احساسوي، كيداى شي دا په دنيا كې د بل وګړي لپاره مطبوع حالت نه وي، حتى كيداى شي د چاور څخه بد راشي مګر په هر صورت دا يو مكمل او شاعرانه حسي تصوير دى، شاعر بريالى دى، خو تصوير به د ځينو په نظر ښكلى نه وي.

كيداى شي زموږ درنو لوستونكو به نتيجه اخيستي وي چې حسي تصويرونه هغه دي چې درک يې د انسان په پنځه ګونو حواسو پورې مربوط شي يعنې يا يې واوري، يا يې ووينى، يا يې وڅكي، يا يې بوى كړي او يا يې هم لمس كړي.مګر دا ددې برخه تصويرونو يوه برخه ده، په كليت كې ډيره برخه حسي تصويرونه په هغو عواطفو پورې اړه لري چې شعر يې ليږدوى او ښايي موږ يې په خپل يوه حس هم لمس نه شو كړاى، بلكې يوازې په عاطفي حالت كې ورسره شريک شو يعنې هماغه رواني انګيزه چې د شعر هستوونكى يې بيانوي موږ هم هغې ته ورته انګيزه ولرو ،د بيلګې په توګه د يوه اروپايي شعر دغه برخه وګورئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې بیرې خپل بادبانونه ورپول

او ما نورد هغې پر څنډه د خپلې مسا پرې محبوبې لاس ښورول نه

لیدل

او کله چې زه ډاډه شوم چې هغه ولاړه

که څپو هر څومره او به راوشیندلې

خو زه د یوې ترخې خدای په امانۍ ویرې هېښ کړی وم........

موږ که د دغې ترخې خدای په امانۍ په عاطفي حالت کې شریک

شو او لکه شاعر د محبوبې خدای په امانۍ ته هېښ شو دا هغه

عاطفي ګډون دی چې له پنځه ګونو حواسو څخه یو هم نه شي

کولای هغه درک کړي.

د همدې لپاره ده چې حسي تصویرونه موږ په خپل عاطفي توان او

رواني عکس العمل درکولای شو نه یوازې په پنځه ګونو حواسو.

دلته زموږ ښه بیلګه د درویش درانی هاغه بیت دی چې وارله مخه

مو هم خبري پرې کړي دي.

له هنري پلوه حسي تصویرونه تر ذهني او عیني هغو، ځکه ډیر

اغیزمن دي چې مخامخ د انسان عاطفه تر تاثیر لاندې راولي، نوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدي پلوه په هغو شعرونو کې چې جدي مفکوره، کيسه يا پيام نه لېږدوي د داسې تصويرونو ايجاد د شعر محتوا يې نيمګړتيا پتهولای شي.

موږ په شعر کې د عاطفي حالت د ايجاد لپاره د داسې انځورونو جوړولو ته اړتيا لرو ځکه خو ځوانو شاعرانو ته بويه چې د خپل هنري صميميت د ښوولو لپاره د حسي تصويرونو پر پېژندلو سربېره د هغو تکنيکونه او پر ځای کارول هم زده کا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په شعر کې د حالت تصویر

د حالت تصویر په کیسه کې مهم دی. د ریالیستیکو کیسو یوه ځانګړنه د حالتونو د دقیقو انځورونو ارائیه وه. لیکوال په داسې کیسو کې د یوې پېښې یا زماني شیبې ټول جزیات، حرکتونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځبرې او مکاني ځانګړنې تصویروي. په کیسه کې، چې د نثر ژبه په کې کارېږي او د لږو کلماتو د کارولو اړتیا ډېره زیاته نه وي، دغه کار ممکن دی. د شعر د ژبې لومړی ځانګړنه لنډون دی، د شعر کلمات په ډېر اقتصاد او اختصار کارول کېږي، په شعر کې د وزن او آهنګ قید هم دا التزام رامنځته کوي، چې له شمارلو او ټاکلیو کلماتو څخه کار واخیستل شي دا ټول د دې لامل ګرځي چې په شعر کې د حالت تصویر پنځول ستونزمن او مشکل کار وګڼل شي. په شعر کې د کلماتو او مفاهیمو له سبمولیک رول څخه کار اخیستل کېږي او په تصویرونو کې هم د کلماتو له سمبولیک او ذهني موقعیت څخه استفاده کېږي، ځکه خو د یوه کامل تصویر د درک لپاره د شعر د لوستونکي ذوق او پوهه هم مهمه ده. په شعر کې ترکیبي مفاهیم لږ کاربږي هغه صفتونه او قیدونه چې په نثر کې کارول کېږي کټ مټ په شعر کې نه شي راتللی مثلاً، د کاریګر چاودې، خیرن او زیږه لاسونه په شعر کې په اسانه نه شي تصویریدلای شاعر یوازې د کاریګر لاسونه یادوي او انتظار لري چې د دغو لاسونو په ځرنګوالي دې لوستونکی پخپله پوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز دا به ستونزمنه وي که تاسو په شعر کې ولیکئ چې نجلۍ په مکیز میکز، کږه وږه په لاره روانه وه، پستې زلفې یې پورته پورته غورځولې او نرۍ ملا یې تاووله را تاووله... ددې تولو له یادولو څخه ښکاري چې د حالت تصویر په شعر کې ډېر نه کارېږي خو شته داسې شعرونه چې د حالت د بریالیو تصویرونو لرونکي دي او داسې شاعران شته چې په شعر کې د حالت تصویر ځایولای شي البته پرته له دې، چې د شعر ښکلا او هنري جوړښت ته یې زیان ورسیږي. همدا څه موده مخکې د ښاغلي محمد عاشق غریب له همداسې یوه شعر سره مخامخ شوم، چې تر کره کتنې مخکې یې لومړی تاسو لوستلو ته رابولم، د شعر متن داسې دی:

چېرته مو خړ کارتن کې

څو واره دولس میاشتې

هره ورځ دوه کرته

ساړه بې خونده خواړه

خپلو بچیانو سره

خدای خبر څه شي پنیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړو مايانو سره

په ټيټو سترګو په اشتها خوړلي

د ېرو المان کې خامخا خوړلي

* * *

دلته تور رنګ لکه تور کار دا سې

ګناه ده دوی ته

ځکه نو !

زوی مې په تور د تورو سترګو

چې ثواب وګټي

د تورو سترګو کسي

لکه زموږ د پنجشير

له زمردو جوړې

د فرانسې د کليسا مينارې

په شنو غمو سينګار کړې

* * *

لور مې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تور په بهانه

د خدای کعبې ته ورته

په خپلو تورو زلفو

د هغه لمر چې ورک له شرمه وي تل

زرينې وړانګې په ماشين کې جوړې

لکه سالو خورې کړې

* * *

ما هم په هغه جمعه

چې لمونځ قضا و رانه

د الماني پاسپورت د راکړې په شوق

هره شېبه شمېرله

او په مېرمن مې دريشي

دوهم ځلي او توکړه

ما ويل ښاروال د سيمې

پاسپورت د ګلو

له ګيډه يو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپلو سپینو لاسو

نن راکوي په خیر

المانی کېږمه زه

نور نو همدوی ته ورته

جرمنی کېږمه زه

* * *

خو ښارولۍ کې یوه عجیبه چوپتیا

لکه تیاره خپره وه

نه د ښاوال پته وه

نه هم د ګلو ګېډۍ

خو د اتمې ګوتې

له وره په ګونځې ټنډه

او دوه نریو ګوتو

چې یې نوکان تر ګوتو ډېر اوږده وه

د کوه قاف شیشکې

راته پاسپورت ونیوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



* * *

ځان راته سر تر پښو

تک زېړ جرمن برېښېده

او هېڅ تو پیر مې نه لید

څو ځل مې پټ په زړه کې

زه الماني یمه نور

زه جرمني یمه نور

سندره غبرګه کړله

* * *

بیا مې د ترن تم ځایه پورې

په وار وار بیا ویله

ما ویل په ترین کې ناست

دا ټول المانیان

هم خبر شوي رانه

چې جرمنی یمه نور

* * *

بیا مې همدوی ته ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کبرجنه هوا

په ترین کې ځای ونیوه

په بل تم ځای کې د ترین

له بیرو ډک المانی

له دوو خلتو او خپل

خیرن سپي سره

ترین ته را پورته شولو

بلا په ښه خواری یې

ځان او خلتې ورسره

څو سیټه واړوله

سپی دده شاته

زما مخکې کېناست

* * *

بیا په دریم تمځای کې

د ډېرو نورو ترمنځ

لکه پري یو چټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترين ته را پورته شوله

موږ ته نږدې خالي سيټونو تر څنګ

يو ځلې بيا يې ماته او بيا سپې ته

ښه په ځير وکتل

لاړه د سپي په څنګ کې

کېناستله

د سپي له سترګو يوه اوښکه راغله

لکه چې زما لپاره

تاسو ولېدل، چې دغه شعر له هماغه پيله په زړه پورې انځورونه لرل، شعر د ترخه طنز ترڅنګ، د سمبولونو جالبه کارونه هم لري؛ تور رنګ، پاسپورت، خيرن سپی، د سپي اوښکه او نور. که څه هم شعر خپل پيغام مخامخ او خورا په صراحت بيانوي او د ايماژ او هنري ابهام غوټې په کې نه شته مګر د دغه ډول شعرونو ځانګړنه همداسې ده، شاعر غواړي د يوه کډوال د ژوند څو شيبې تمثيل کړي، د هويت له لاسه ورکول، د اهانت احساس او پردي توب!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په کمو پښتو شعرونو کې د حالت (یا حالتونو) دومره بریالي تصویرونه موندلي دي، ځکه خو مې په دې اړه لیکل ددې شعر په ترلاسه کولو پیل کړل او غواړم بیلګې هم یوازې له همدې شعره رواړم. لومړی تصویري ټوټه:

په خړ کارتن کې ناپېژندلي خواره، په ټېټو سترګو، له ماشومانو سره د ورځې ځو ځله او هغه هم د هر کډوال لپاره. دا برخه موږ چمتو کوي، چې د شعر منځپانګې ته ورننوزو او آن له پیله مو پوهوي، چې له څه ډول یوه شعر سره مخامخ یو.

بیا یوه بله تصویري برخه چې د کډوال (راوي) د کورنۍ غړي ددې لپاره چې له (تور) والي خلاص شي څه ډول د خپل هویت هېرول پیلوي، د شعر دا برخه موږ د موضوع بدنې ته ورننباسي او شاعر خپله خبره پیلوي. په دوهمه تصویري ټوټه کې نوي، ښکلي، په طنز لړلي او د حالت مطابق تشبیهات شته: لکه د پنجشیر زمرد او بیا هغه هم د فرانسې د منارو په څېر د سترګو شین سینګار، او د لور زلفې چې د خدای د کعبې په څېر تورې وې د هغه لمر له وړانګو زرینې شوې چې ماشیني اصالت لري، دا تصویر د لوستونکي ذهن

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سینما د پرله پسې خو له بېلا بېلو مکاني تصویرونو څخه را اخیستل شوي ترکیب ته ورته ننداري ته بولي، چې د تفکر زیګزاګ رامنځ ته کوي، په جرمني کې لور، د کعبې په څېر زلفې، ماشیني وړانګې او بیا سالو، شاعر بله تمثیلي برخه له خپل تصور څخه پیلوي، فکر کوي چې پاسپورت به څنګه ورسپاري هغه پاسپورت، چې دده نوی هویت دی او د شعر له سترې طنز څخه ښکاري چې راوي ورته ډېر تږی دی، د پاسپورت ترلاسه کولو د مراسمو لپاره پر مېرمن د دریشي بیا بیا اوتوکول دا حالت بشپړ را پېژني او د رواي هیجان په ښه بڼه تمثیلوي.

تردې وروسته د ښاروالې د پېښې د تمثیل وار دی چې په شعر کې د حالت لومړنی بشپړ او په زړه پورې تصویر دی: د جرمني د کوم ښار ښاروالې د روای شاعر د ګومان پر عکس چوپه او سړه ده، له ده څخه هر کلی هم دده د توقع پر خلاف دومره ګرم نه دی، یوازې له اتمې کوټې څخه د اوږدو نوکانو څښتنه په کبر او غرو ورته پاسپورت ورکوي خو ولې (اتمه کوټه) په زړه پورې ده! له کوټې سره د عدد ذکر موږ ته څو حالتونه بیانوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ راوي سرګردانه دی او څو ځلې یې له چا پوښتنه کړې بالاخره یې اتمه کوټه موندلې او شمېره یې په یاد ده.

۲ـ شاعر غواړي ټول حالت تمثیل کړي او موږ (لوستونکي) پر خپل صداقت باوري کړي. دا حالت د وانګوګ د نقاشۍ پر پرده د هغه ناست مچ په څېر ده چې نندارچیانو یې څو ځلې د شړلو هڅه کړې وه خو وروسته پوه شوي وو، چې د نجلۍ پر لاس ناست مچ ریښتیونی نه بلکې نقاشي شوی دی.

۳ـ اتمه کوټه د ښاروال دفتر نه، بلکې کومه عادي کوټه ده، چې د یوې ماموریې له خوا کډوال ته پاسپورت ورسپاري، اضافي حقارت!

۴ـ او دوو نریو ګوتو
چې یې نوکان تر ګوتو ډېر اوږده وو
د کوه قاف شیشکې
راته پاسپورت ونیوه

په زړه پورې طنز، مبالغه او غیر عادي مکان (شیشکه او هغه هم په کوه قاف کې) چې انتظار کېږي ښاپیرۍ په کې وي، همدا د طنز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړنه ده، (خر په شودياره کې ترلی دی) دا عادي خبره ده، خو (خر د تدريس په ټولګي کې) غير عادي مکان دی او طنزي بار لري. په کوه قاف کې جرمنۍ شيشکه چې تر ګوتو يې نوکان اوږده دي، موږ ته کټ مټ هغه احساس راکولای شي چې راوي د خپل پاسپورت د ترلاسه کولو پر مهال درلوده.

تردې وروسته بله تمثيلي برخه هم په زړه پورې ده:

ځان راته سرته پښنو

تک زير جرمن ښکاره شو...

زموږ خلک له اروپايانو څخه همدا تصور لري، چې کوم انګريز يا جرمن ورته ياد کړې نو لومړی به يې په ذهن کې ژير يا سره ويښتان او شنې سترګې تداعي شي، دا که تحقير ګڼئ يا صفت خو د کوم چا چې ويښتان او سترګې رنګينې وي اکثراً ورته د انګريز يا جرمن طنز کارول کېږي. له رواني پلوه د پاسپورت په اخيستلو ځان ته تک ژير جرمن ښکاربدل که څه هم ظاهراً د خوشالۍ خبره ده خو تر شايې د ترخه حقارت نښې له ورايه ښکاري، دغه حقارت د شعر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستيو کرښو کې ځان را څرګندوي کله چې په ټرن کې شاعر څو نور رانه‌او په زړه پورې د حالت تصويرونه پنځوي.

په ټرن کې دننه (په کبرجنه هوا کتل)، (له بيرو ډک المانی له دوو خلتو سره او د هغه خيرن سپی)، (په خواری له ځان سره د خلتو اړول) هغه تصويري ټوټې دي، چې په بشپړ برياليتوب د شاعر مدعا حالت تمثيلوي. خو کله چې شاعر وايي:

سپی دده شاته

زما مخکې کېناست

دغه موقعيت کاملاً سمبوليک دی. يعنې د څو برياليو تصويرونو تر څنګ د حالت يوه سمبوليک تمثيل شعر نور هم په زړه پورې کوي.

سپی د خپل جرمن خاوند شاته کيني ځکه تر شا کيناستل يې زده کړي او بايد ځانته اجازه ورنه کړي چې تر خپل خاوند وړاندې کيني، مګر حتی همدا سپی هم ځانته اجازه ورکوي چې تر هغه چا وړاندې کيني چې نوی يې جرمني پاسپورت اخيستی خو له معنوي پلوه لاهم جرمن نه دی( ! ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته همدا دوه کلمې (شا ) او (مخکې) له تاسو سره یو عـالم خبرې کولای شي. وروستی لوی متحرک تصویر چې پخپل منځ کې څو ورې تصـویري ټـوټې لـري د شـاعرانه تصـویر جـوړونې یـوه بشـپړه بریالۍ بیلګه ده وګورئ:

بیا په دربیم تمځای کې

د ډېرو نورو ترمنځ

لکه پري یو چټه

ترین ته راپورته شوله

مور ته نږدې خالي سیټونو ترڅنګ

یو ځلي یې ماته او بیا سپی ته

ښه په ځیر وکتل

لاړه د سپي په څنګ کې

کېناستله

د سپي له سترګو یوه اوښکله راغله

لکه چې زما لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ نه غواړي د ناجرمني نارينه ترځنګ کيني، تر هغه د سپي ځنګ ته کيناستل غوره ګڼي او سپی چې دا حالت ويني د ناجرمني انسان لپاره د حقارت او خواشينۍ اوښکه بهوي. تاسو له شعر نه نور څه غواړئ؟ !

دغه شعر کولای شي له پيله تر پايه لوستونکی په هماغه ذهني فضا کې وساتي چې راوي (شاعر) يې انځوروي آن ويلای شم چې په هغه ډول فضا کې مو ساتي چې د شعر لومړی پرسوناژ په کې دی. د کرکټر پر فکري حالتونو برسېره مکاني حالتونه هم دقيق انځور شوي دي، موږ لوستونکي کولای شو د پېښو موقعيت ومومو، چېرته؟ په اتمه کوټه کې، په ټرن کې او يا هم په کور کې او له دې پرته د انځور فرعي اجزا هم ښوول کېږي چې د شعر په څېر ستونزمن ژانر کې يې ټول رعايت خورا ستونزمن کار دی او عجيبه خو دا ده چې دغه ستونزمن کار ښاغلي محمد عاشق غريب په خورا برياليتوب ترسره کړی دا سې ځوک چې د شاعرۍ ډېرې بيلګې يې موږ (يا لږ تر لږه ما) نه دي لوستي، ځکه خو کله چې په يوه مشاعره کې ما د هغه دغه شعر واورېد ورته هېښ پاتې شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میخایل الکساندروویچ شولوخوف نامتو رومان (آرام دن) د کره کتونکیو له نظره، له دې اړخه هم د پام وړ دی چې د پېښو حالتونه په کې په خورا دقیقه ژبه انځور شوي دي. د کرکټرونو خبرې، د یو ځانګړي موقعیت تصویري اجزا، رنګونه، چاپېریال او حتی وخت د کلماتو په وسیله تمثیلېږي، د دن آرام په څېر په څلور ټوکیز رومان کې دا ممکنه ده خو په دوه مخه شعر کې خورا ستونزمن کار بریښي. په مجموع کې د دا ډول انځور پنځوونې په اړه نظریه داده چې د هنرمند په فردي تجربو پورې مخامخ اړه لري، د هغه ذهني چاپېریال اجزا چې هنرمند یې غواړي انځور کړي، په عادي حالت کې څومره د پام وړ دي؟ خو د هنرمند ذهن یې ثبتوي او کله چې د همداسې انځور جوړونې وخت راشي دغه ټول ذهن ته سپارل شوي توکي په کاریږي.

په شعر کې د داسې تصویر هستوونې اړتیا په منظومو (کیسه یې نظمونو) او یا هم هغو شعرونو کې ډېر لیدل کېږي چې محتوا یې د ښاغلي غریب د دغه شعر په څېر د دقیقې انځورهستونې اړتیا ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه لېږيکـو غزلونـو ، او زړو فورمونـو کـې د داسـې تصـويرونو راوستل يوځه ستونزمن کار دی. اصلاً پـه شاعرۍ کې نوي يا آزاد فـورم تـه د مخـه کولـو يـو منطـق هـم دا و ، چـې پـه تنګـوا و محـدود قالبونو کې د خيال ټول تصويري اړخونه نه ځايېدل، د بيلګې پـه توګه که ښاغلي عاشق غريب غوښتي وای چې د خپل شعر همدغـه محتوا په يوه اوږده قصيده کې ځای کړي، ګومان نه کوم چې دومره به بريالی وای.

ځوان شاعران کـه غـواړي چې پـه شعر کې د خورا مهم جوړښتي عنصر (انځور) ډولونه وپېژني او بريالۍ کارونه يې زده کړي نو دې ته اړ دي چې بريالۍ بيلګې هرومرو ولولي او پر تخنيکونو يې ځان پوه کړي، چې د ښاغلي غريب دغه شعر لـه همداسې بريـاليو بيلګو څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا ساده انشا رنګينه د رحمن کړې

## (د رحمن بابا د شاعرۍ ښکلا ییز اړخ)

د ادب تیوري پوهانو پښتو کلاسیکه شاعري د شکل او موضوع له مخې په درېیو کټګوریو ویشلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱.ديداکتيک نظمونه

۲.فورماليستي اشعار

۳.او قصصي شعرونه

۱ـ ديداکتيک نظمونه هغه دي چې موخه او هدف يې يوازې د موضوع او پيغام رسول وي په هغو کې له وزن او قافيې پرته د شعري صنعت نورې اړتياوې په پام کې نه نيول کيږي.

چې د پير روښان، ميا فقيرالله جلال آبادي او اخوندرشيد نظمونه په دې ډله کې راځي.

۲.فورماليستي شعرونه هغه دي چې تر ډېره په کې شکلي ښکلا، ژبنی سينګار، بديعي صنايع او په يوه کلمه کې (شعريت) ته ډېر پام ساتل کيږي چې د حميد مومند، کاظم خان شيدا او پيرمحمد کاکړ شاعري يې بېلګې دي.

۳ـ قصصي شاعري هماغه کلاسيکې منظومې دي چې کيسې او حماسې د نظم په ژبه ارائيه کيږي او غوره بېلګې يې د عبدالقادر خان خټک (يوسف وزليخا) د صدرخان (آدم و درخانۍ) د حميد مومند (نيرنګ عشق) او نور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې شوې د پښتو کلاسيک شعر دوه ستري څيرې خوشال خان خټک او رحمان بابا دا چې په دې شعري وېش کې ددوی ځای کوم دی تر یوه بریده د پام وړخبره ده، ارواښاد استاد محمد صدیق روهي د خوشال بابا سیاسي، ټولنيز او اخلاقي شعرونه په دیداکتیکو نظمونو کې راولي خو نوره غزليزه او ليريکه برخه يې په غوره فورماليستي هڅو کې. (۲-۱۹۹)

او په رښتیا چې ستر خوشال د دواړو ډگرونو نومیالی پهلوان دی.

خو د رحمان بابا په هکله استاد روهي په دې نظر دی چې: (د رحمان بابا پر اشعارو باندې هم (دیداکتیکیزم) خپل سيوری غورځولی دی او نیمه دیداکتیکه بڼه لري. ۱۱ (۴-۱۹۹) د شعر د ښکلاييز اړخ څېړنه په تيره بيا په کلاسيکه دوره کې له همدې سرليکونو څخه پیلیږي.

ښکاره ده چې استاد روهي د رحمان بابا شعرونه دوه ډوله بولي د هغه ديني موعظې، ټولنيز او نصیحتي نظمونه په دیداکتیک وېش کې راولي او ښکلې غزليزه شاعري يې په فورماليستی هڅه کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمان بابا د مهال له پلوه د ګڼو بديعي او ښکلا ييزو بيلګو لومړنی

راپيلوونکی دی:

بيا دې نوي شراب څښلي دي پوهيږم

په رخسار دې ګل کرلي دي پوهيږم

که هزار ځله لاس سره کړې په نکريزو

تا زما په وينو وللي دي پوهيږم

معرکه زما د مرګ نه ده نور څه ده

رقيبان چې تا بللي دي پوهيږم

څه حاجت دی چې دې خط په ملا لولم

چې زما په باب دې کښلي دي پوهيږم

ته خپل جورو جفا څه وايې وماته

ما همه واړه ليدلي دي پوهيږم

چې رقيب او تا غوږونه بل له وروړه

ما هغه ساعت ژړلي دي پوهيږم

رقيبان ځکه تيری په رحمان کاندي

چې تا خوا پورې نيولي دي پوهيږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا غزل ښيي چې رحمان بابا څوا کمن انځورګر دی يعنې په شعر کې د تخييل د ځواک په مرسته دا سې تصويري پا رکي زموږ په مخ کې ږدي چې تر ده وړاندې يې لږې نورې بيلګې شته.

پوهاند ډاکتر محمد رحيم الهام د رحمن بابا په شاعرۍ کې د خيال د صورتونو په هکله ليکلي:

(د رحمان بابا په شعر کې.... د خيال د صورتونو دغه ټول ډولونه موندلای شو د رحمن بابا په زياترو بيتونو حتی د يوه غزل په ډېرو بيتونو کې د خيال د صورتونو بيلا بيل ډولونه په ډيره خوندوره، ساده او طبيعي شانته ژبه څرګنديږي) (۱ـ ۸۹)

د رحمان بابا په شاعرۍ کې د غه ځانګړنې ترسترګو کيږي چې کولای شي د هغه کلام ښکلی کړي.

لومړی خو دا چې دده شعر ډېر ځله له بې ځايه تکلف، تصنع او ابهام څخه لرې دی او شعري خوځښت يې په اشنا ذهني موقعيتونو کې ترسره کيږي او په عامو پښتنو کې د هغه د شاعرۍ د ډيرې طرفدارۍ يو لامل همدا ساده توب او رواني ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله دا چې رحمن بابا لـه ښکليو تشبيهاتو ، استعارو او سمبولونو ځخه کـار اخلـي او دا پـه کلاسيک شـعر کـې د تصـوير هسـتونې لومړني شرطونه دي.

زه رحمان په زړه نرى کړم هغو نجونو

چې يې ملا وې د ويښته په دود نرۍدي

د دغـه بيـت دوهمـه تصـويري برخـه د تشـبيه د ښـکلې کـارونې پـه مرسته ډېر ژر په ذهن کې تداعي کيږي، دى هغه نجونې يادوي چې مـلا وې يـې د ويښـته پـه شـان نـرۍ وي لوسـتونکي کـه لـږ ځـه مکث وکـړي او داسـې نجـونې د شـاعر د تشـبيه پـه مرسـته لـه ځـان سـره تصوير کړي نو خامخا به له ټول بيت ځخه خوند واخلي ځکه شاعر هغو نجونو په زړه نرى کړى دى چې ملا وې يې د ويښتو په څېر نرۍ دي.

ستا د عشق حرفونه تور نه دي ګلګون دي

هم په دا چې نوشته په جګر خون دي

تش به نه شي هغه خم د عشق له ميو

چې يې خاورې د فرهاد اود مجنون دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنیا چارې همه واړه فاني دي

دا دستا جورو جفا ولې افزون دي

مقتولان ستا د غمزو دي لاله نه دي

چې په سره کفن له زمکې را بیرون دي

چې یې هیڅ بها زلمیو څخه نه شته

جو نه نه دي سکه ګنجونه د قارون دي

د رحمان د زړه خوناب مګر قبول شه

چې مخونه د دلبرو پرې ګلګون دي

د رحمان بابا په شعر کې یو بل ښکلا ییز کمال دادی چې دغه شاعر د خپل شعر اشیا ، تشبیهات او تصویري اجزا له خپل محیط او چاپیریال څخه انتخابوي، ځکه خو یې لوستونکو ته د هغو درک، منطقي پیوند او له ځان سره تصویرول آسانه کار دی و ګورئ دا بیلګه:

ګوره بیا به څوک ادا کا په زړه غوندړه

چې دا هسې مسته درومي مخ بربنډه

ته چې ګل د آشنا یې له باغه غواړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرزده کړه د هجران له خارو خنده

ما رستم د زماني وليد په سترګو

چې د يار له جوره ژاړي لکه کونډه

... زه رحمان د هغه حسن ثناخوان يم

چې جرګه د عاشقانو وې پرې پنده

د شرقي ادب په منظومه برخه کې تشبيه، استعاره، کنايه، مجاز او د بيان يو شمير نور صنايع د شعر د ښکلا لپاره د سينګار توکي دي خو اوس،اوس يو شمېر نوي اصطلاحات لکه تصوير، سمبولونه او اساطير هم مطرح کيږي دواړه ډوله اصطلاحات په خپلو کې ټينګ مانيز اړيکي لري مثلاً ډير ځله تشبيهات ښکلي تصويري شعرونه رامنځ ته کوي، مګر په ګڼو اوسمهاليو(معاصرو ) شعرونو کې پرته له دې چې د بديع او بيان ياد شوي ظرافتونه وکارول شي نګه تصويري برخې د شاعرانه کلماتو په مرسته رامنځ ته کيږي، چې په يوه عاطفي او فکري چاپيريال کې حرکت کوي او موخه ورځخه د شاعرانه ښکلا بشپړ تمثيل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو عجيبه داده چې څو سوه کاله مخکې زموږ صوفي شاعر رحمن بابا همداسې نګه ښکلي شاعرانه تصويرونه رامنځ ته کړي دي. دا بيلګې وګورئ:

په ليمه کې مې مدام
عکس ګرځي د ګلفام
تورې سترګې مې ګلګون شوې
په آرزو د ګل اندام

يا:

ستا دې خواب آلودو سترګو خواب راښخه يووړ
شونډو دې لذت د مى ناب راښخه يووړ
کړى ما رحمان په زړه کې نقش د محراب و
ستا ابرويو نقش د محراب راښخه يووړ

رحمان بابا په ډيره توانمندى سره د ذهني او عيني انځورونو منطقي تړون په پام کې ساتلى، په لومړى بيلګه کې د ګلفام عکس عيني انځور دى خو کله چې دا عکس د عاشق په ليمو کې تل ګرځي يو مجموعي ذهني انځور جوړوي چې کلک هنري منطق لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز په دوهمه بیلګه کې، په زړه کې د محراب نقش کول ذهني انځور دی چې له نورو عیني انځورونو سره ډېر ښه اړخ لګوي او دا زموږ د کلاسیک شاعر د انځور جوړونې لوړ کمال ښیي.

په شعر کې د ښکلا او صمیمیت د رامنځ ته کولو لپاره عاطفي ځواک ته پام ساتل ډېر رول لري رحمان بابا له اروایي پلوه یو عاطفي شاعر دی خو د هغه په شعر کې هنري عاطفه او صمیمیت کله کله په ښکاره بڼه ځان را څرګندوي.

خراب زړه مې د دلبرو هوا یوړ

د هوا له وړیو چازده چې چا یوړ

ګوښې ګوښې ښایسته چې زړه وکاږي

زه وکوم یوه ته وایم چې تا یوړ

چې مې زړه لره د تورو زلفو ځای غوښت

هغه زړه را څخه توري بلا یوړ

هیڅ ناحق پرې شوی نه دی که حق وایم

معشوقې د رحمان زړه په رضا یوړ

یا خو دا بیلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا چې رنګ د میو ورکړ د لبانو

اوردې پورې کړ په کور د میخوارانو

چې دې جوړه کړه لینده د کږو ورځو

خود به ښکار کړې په حرم د غزالانو

چې دې اسم د زنځیر په زلفو کېښود

معطر دې کړ دماغ د د یوانګانو

سور پیزوان دې په سرو شونډو هسې زیب کا

لکه جیم په قلم ښکلی کاتبانو

د سرو ټیک دې شهزاده په جبین پروت دی

شینکی خال دې محاصل په بندیوانو

دواړه لیچې دې وکښلې مصری توري

در پوهیږم سربه پریکړې د خوارانو

ستا له غمه په ځان زړه د رحمان سوزي

لکه شمع په زیارت د شهیدانو

که خپلې خبرې را لنډې کړو ویلای شو چې رحمان بابا د نګه ښکلا

د هستونې په نیت له لومړنیو فورمالیستو شاعرانو څخه دی چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديد اکتيکو بېلګو تر څنګ يې په شعر کې د انځور هستونې، ښکليو بديعي ظرافتونو او عاطفي چاپېريالونو د ايجاد لپاره د خپل مهال په اندول ګڼې نوې تجربې هم کړې دي چې تر هغه وروسته د پښتو ادبياتو په بهير کې د نورو شاعرانو له خوا پالل شوي دي او وده يې کړې، چې په پايله کې يې نن سبا پښتو ادبيات د شعر په برخه کې د شهکارو بېلګو د شتوالي شهادت ورکولای شي.

سرچينې:


۱.الهام، پوهاند دکتور محمد رحيم، د عبدالرحمن بابا مومند ياد (د سيمينار ټولګه) ـ د رحمان بابا په شعر کې تخييل او تصوير ـ مقاله ۱۳۶۹د کابل پوهنتون خپرونه ـ کابل

۲.روهي، کانديد اکاډمسيين محمد صديق، ادبي څېړنې، ۱۳۶۰ خپروونکی ننګرهار پوهنتون، کابل چاپ

۳ـ ټول غزلونه د رحمن بابا له ديوان څخه اخيستل شوي، چې د استاد بېنوا د نسخې له مخې په جيبي کچه په کال ۱۳۶۱المريز کې خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بدلې

پټه خزانه د پیرۍ کتاب ګڼل شوی، یعنې د شلمې پیړۍ له نوادرو

څخه دی. په دې کتاب کې له ګڼو تاریخي او مانیزو خزانو څخه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د پښتو تر ټولو طبيعي او سوچه شاعرانه قالب دی چې بدله نوميږي.

دا قالب د لنډيو، نارو، سندرو، چاربيتو، بګتيو، سروکو او نورو بومي پښتني قالبونو په څير د پښتو ژبې له موسيقايي جوړښت سره سم خورا زوړ او مترنم قالب دی، چې زموږ نيکونو او اناګانو به وايه او غالبا چې زړې سندرې هم له همدې څخه جوړيدلې، د همدې قالب نوم ښايي وروسته دومره عام شوی وي چې اوس ګڼ شمير پښتانه د موسيقۍ پارچې (سندرې) ته هم بدله وايي. تردې مخکې چې يو شمير عربي قالبونه لکه غزل، قصيده، مثنوي او ترکيب بندونه پښتو ته راشي موږ خپل بومي قالبونه درلودل چې بدله يې يوه ممتازه بيلګه ده. بدله لومړی څلور يا دوه هم قافيه مسرې (نيم بيتۍ) لري چې تردې وروسته څلور څلور يا تر څلورو ډيرې مسرې داسې راځي چې لومړۍ درې- که څلور وي او که زياتې وې ټولې لومړۍ مسرې له وروستۍ جفتې څخه پرته- بيله قافيه او وروستۍ (څلورمه) يې له لومړيو څلورو مسرو سره ورته قافيه لري. هندسي جوړښت يې په لاندې ډول انځورولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ______ | X | ______ | X |
| ______ | X | ______ | X |
| ______ | O | ______ | O |
| ______ | O | ______ | X |
| ______ | I | ______ | I |
| ______ | I | ______ | X |

ترپايه.

د مسرو اوږدوالی او لنډوالی قيد نه دی او د شاعر له غوښتنې سره سم په لنډو او اوږدو بحرونو کې ليکل کيدای شي.

لوی استاد علامه حبيبي په پټه خزانه کې د لومړنۍ راغلې بدلې - چې د شيخ بستان بړيخ (رح) ده - په حاشيه کې دغه فورم داسې معرفي کړی دی:

«بدله: نوع مخصوصی است از اشعار پښتو که بالحان مخصوصی خوانده وسروده ميشود ، وبدله در ابتدا يک معيار عروضی مخصوصی داشته که آنرا کسر گويند ، وتمام بدله بايد برهمان معيار برابر باشد ، وبعد از هر بند تکرار ميگردد اوزان بدله بسيار است. قوافی اجزای غزل بصورت متحد يا مختلف می آيد. مثلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



درین بدله هر مصراع باجزو متعلق خود قافیه مخصوصی دارد ، تاکه بکسر میرسد وهر بند بدله که با ستاره ها ازهم جدا شده باصطلاح پښتو یک مسری است»

د استاد حبیبي په پیژندنه کې موږ وینو ، چې د بدلې د وزني ارکانو شمیر قید نه دی او د هغه په ژبه د بندونو د مسرو شمیر هم ټاکلی نه دی یعنې د بندونو شمیر په بندونو کې د مسرو شمېر او د مسرو اوږدوالی او لنډوالی د شاعر په خوښې پورې اړه لري، ددې تر څنګ د ارواښاد علامه حبیبي په تعریف کې ګورو چې بدله د خپل موسیقیت له مخې ځانګړی تون (لحن) لري. زموږ ارواښاد علامه داهم زیاتوي چې بدلې ګڼ وزنونه لري یعنې د لنډۍ یا کاکړۍ غاړو په څیر د کوم ټاکلي څپیز واحد چوکاټ تابع نه دي.

د بدلې یوه ځانګړتیا داده چې په اسانۍ سره د موسیقۍ په یوه بڼه کلې پارچه بدلیدای شي او تر ټولو غوره بیلګه یې هماغه د بهادر خان بدله ده چې د هېواد نامتو سندرغاړي احمد ولي ورڅخه یوه بڼکلې موسیقي جوړه کړې:

بیلتون دې زور دی تر لیمو می سهارنم څاڅي لکه شبنم څاڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سره ياقوت مې په لمن کې ستا په غم څاڅي په غم الم څاڅي

بدله د غزل او قصيدې په څير عربي روح نه لري او قالب يې تنګ نه دی، تر ډيره يې موضوعات عشقي دي او په پټه خزانه کې يوه وعظيه بدله هم شته. بدله د لنډيو په څير له تصنع او تکلف څخه پاک قالب دی او د ويناوال سوچه احساسات او طبيعي ولولې ليږدوي، مترنم جوړښت لري او لوستل يې سړی د پښتنو بې آلايشه او شډل ژوند ته بيا يي

د تورې او قلم ستر سپه سالار سيدال خان ناصر هم يوه ښکلې بدله لري چې د جوړښت او موضوع له نظره ډيره ښکلې نمونه ده. لوی استاد علامه حبيبي ددغې بدلې په اړه ليکلي:

«اين بدله که از طرف يکنفر سپه سالار معروف ودلاور، سروده شده است، از حيث بحر وعروض از نوادر ادبی زبان ملی است، وبحر مخصوصی دارد، که دربين اشعار پښتو که اکنون در دست است، کمتر ديده شده، وحفظ اين وديعه ادبی از غنايم اين کتاب (پټه خزانه) است».

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سید ال خان ناصر د بدلې جوړښت داسې دی، چې لومړی څلور لنډې مسرې لري بیا شپږ مسره یي بندونه راغلي خو په هر بند کې دریيمه او څلورمه مسره تر دا نورو اوږد بحر لري چې دا په ریښتیا سره یوه نادره بدله ګڼل کیدای شي.

(ددغې لیکنې په پای کې تاسو دغه بدله لیدلای شي)

د بدلې په اړه ددغه لنډ کي بحث په پایله کې دوه وړاند یزونه:

۱ـ د پټې خزانې تر څنګ که د ادب استادان او ځوان څیړونکي د ځینو څېړنیزو پروژو په لړ کې دا دنده واخلي چې نورې زړې او نوې بدلې بیا ومومي ثبت او چاپ یې کړي نو زموږ پر بډای فرهنګ به یوه ښکلي زیاتونه وشي.

۲ـ زموږ ځوان شاعران دې د ځینو کلاسیکو قالبونو تر څنګ دغه ښکلی قالب وپالي او خپل وس دې په کې وآزمويي کیدای شي دغه زوړ بیا ځوان شي او موږ په راتلونکي کې د ښکلیو بدلو یوه ارزښتمنه خزانه ولرو.

اوس دا تاسو او داهم په پټه خزانه کې د راغلیو بدلو بیلګې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعر چې بدله يې بولي:

اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما

راسه ګذر که پر ما

د مينې اور دې زما زړګی وريت په انګار کينا

ښې تار و نار کينا

خود به ويلېږم چې مې زړه پر تا مفتون کينا

ځان مې زبون کينا

اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما

راسه ګذر که پر ما

وکه نظر زما پر حال چې پروت رنځور يمه زه

په وير ناسو يمه زه

له زړه مې څاڅي وينې سور په وينو خپل يمه تل

په اور جلبل يمه تل

اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما

راسه ګذر که پر ما

له درده سوزه تل نارې او غلبلې وهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړېږي سو رې و همه

يو آن مې چيرې نه آرام نه ټيکاو نه وينم

نه راحت کړنه وينم

اوښکې مې ځاځي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما

راسه ګذر که پر ما

د خوږو زړو له حاله ته يې اې باداره آګاه

يې د بې وزلو همراه

د خپل عزت په روی بستان ته کړه د مهر ښندل

کړې له ګناهه ګوا ښل

اوښکې مې ځاځي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما

راسه ګذر که پر ما

د ملا باز توخی د بدلې نمونه:

راسه پر ځنګ راسه ليلی، ته مې نږدې سه له دل

يمه زخمي چې مې ونه نجتې په خوږ د زړه منګول

راسه پر ځنګ، راسه ليلی ولې له ما کړې بېلتون؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ستا له غمه مې زړګی دی په سرو وینو ګلګون
که هر څو تښتم نه پرېږدي مې ستا د عشق شو اخون
زه نه خلاصېږم له غمازه په لېږدنه په تلل
راسه پر څنګ، راسه لیلی، چې دې زړه کم ملهم
دا ستا په عشق کې مې تا شا کا د دنیا واړه غم
حساب کتاب مجلس مې واړه کا ستا مینې برهم
لار ورته نسته چې دې کښېنوم درون په ګوګل
راسه پر څنګ، راسه لیلی چې دې په زړه کم پورې
کجل درواخله دواړې سترګې به دې زه کم تورې
لیدل به ستا د مخ کوم، اند ښښنې نه کم نورې
په کار مې نه دی ستا بې مخه د جنت زېړی ګل
راسه پر څنګ، راسه لیلی چې سره وکړو خواله
پر تامین یم بې له تا مې نسته هیڅ اند ښښنه
زه د غرو «باز» وم تا بندي کړمه قفس کې پر څه؟
یو وار مې خلاص که، چې بیا زده کړم د وزر خپرول
محمد ګل مسعود:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مې جانان په نیمه شپه کې بېل شو
اور راباندې بل شو
چې رانه لاړې نو دې غم له ما نه مل شو
اور را باندې بل شو
ښکلې لیلی له مانه لاړه، زه نسکور یمه
سوی په اور یمه
د بېلتانه سوړ اړ کې ورک مرض مې جل شو
اور را باندې بل شو
رب دې ښایست در پورې اور کې زه دې سکور کړمه
وریت دې په اور کړمه
دا سپی رقیب مې ستا په ورد مینې غل شو
اور را باندې بل شو
راشه د خدای د پاره غور کړه ((محمد ګل)) ژاړي
تا ته تل۔ تل ژاړي
دا ستا د عشق په واویلا کې لکه نل شو
اور را باندې بل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوران بهادر خان:

بېلتون دې زور دی تر لېمو مې سهار نم ځاځي

له شبنم ځاځي

دا سره یاقوت مې په لمن کې ستا په غم ځاځي

له غم الم ځاځي

ګوره لیلی باران د اوښکو ستا په چم ځاځي

څنګه پرچم ځاځي

راغله لیلی په شینکي خال نڅا په ګلو کوي

په سرو منګولو کوي

سهار چې وزي سیل کا ، ږغ په بلبلو کوي

ګل په اوربلو کوي

ملالۍ سترګې یې کاته په ویرژلو کوي

زېب په کجلو کوي

د ژوبل زړه وینې په هر ګړي هر دم ځاځي

لکه شبنم ځاځي

ښکلې نجلۍ ! د باغ په لور مه ځه نڅا مه کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاشق رسوا مه کوه

وریت سوی زړه مې دی مین پورې خندا مه کوه

راشه جفا مه کوه

زه یم پتنګ ته یې د بوه ما جلبلا مه کوه

نور ظلم بیا مه کوه

یم ستا له عشقه لېونی پر ما ، ماتم څاځي

غم او الم څاځي

ملا محمد صدیق پوپلزی:

لکه بلبل چې بېله ګله بل ارمان نه لري

هسې بې یاره بله هیله عاشقان نه لري

چې ژړا کاندم بېله یاره بل مطلب نه لرم

چې هسې سور یمه په وینو بل سبب نه لرم

بې یاره نور څه نه غواړمه نور مطلب نه لرم

چې څوک مین سي بېله یاره بل ارمان نه لري

تر تا چې ځان قربانومه اې نیازمنه یاره

تل دې غمونه ګلومه اې نیازمنه یاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سترګو اوښکې تویومه اې نیازمنه یاره
زړه مې بېتا په یو ساعت دمه او توان نه لري
که ته مې وژنې، که پرېږدې اختیار خو تا لره دی
غم دې پیدا نه دی بل چا لره خاص ما لره دی
زړه له راغلی دی مېلمه سبا بېګا لره دی
د زړه له کوره څخه تګ په هیڅ_هیڅ شان نه لري

د ملا محمد حافظ بارکزي د بدلې نمونه:

که بخته مه کړه پر دنیا ډونګونه
که دې زړه غواړي د جنت ګلونه
کم بخته ! موږ یو مېلمانه پر دنیا
وطن مو بل دی آخر ځو په رښتیا
هم به ښه بد سي رامعلوم په عقبا
نو له سره اورکئ په امان ځانونه
کم بخته ! مه کوه حرام چې بد دی
چې کړې حرام هغه باطن کې د د دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعمال یې تول په عقبا کې رد دي

په لویه ورځ به یې وې تور مخونه

کم بخته مه کوه حرص، قرار سه

ثنا د رب کوه صبور په کار سه

توبه د دین وره په دې کار وبار سه

چې بیا توبې نه سې پیدا سودونه

کم بخته مه ځه د حرام په لورې

خدای به وتا ته په غضب وګوري

که دې زړه غواړې ښایستې حورې

ببځایه مه رډه بې پروا پلونه

د سیدال خان عالي مکان بدله:

یاره ما له هسې ګران سو

را تېر تر ټول جهان سو

نور نه وینم په سترګو

جهان ټول را ته جانان سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوې زلفې دې اوږدې کړې

پر مخ دې راخپرې کړې

سرې اشرپۍ دې په تندي باندې سپرې کړې

ګرزې په باغ کې په ګلونو کې نخرې کړې

په اور دې وسوم ياره

راته اور تازه بوستان سو

مين چې آشنايي کا

شپه ورځ په ګرياني کا

شهۍ ده ستمګاره خوشحال زړونه به زخمي کا

لېندۍ لري د ورځيو، د باڼو غشي کاري کا

پرهار مې ګوره خلقه

د دلبر د تير نښان سو

مين پر لويو غرو ځي

سر تور په نيمو شپو ځي

ووزي له وطنه، وطن پرېږدي پر چولو ځي

فريادو نارې وکا، په نارو غلبلو ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وصال يې نصيب نه سو

ګوره زړه ډک په ارمان سو

نارې وهم عالمه !

د شپې تر صبحدمه

ناتوانه د بېلتون يم يو ګړی نه لرم دمه

بېتا مې نفس خېژي راځه زما د زړه همدمه

نظر پر ما غريب کړه

چې تاخون مې ستا په ځان سو

شبنم پر ګلو ښکاري

زما اوښکې داري

خوناب ځي ستا له غمه زما په مخکې لارې ـ لارې

تمامه شپه کم تېره په ژړا په نارې ـ نارې

ښکاره سوه چې مجنون يم

لېونتوب مې اوس عيان سو

بوستان ښکلی زيبا دی

رنګين په اوښکو زما دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه پر هار ګلګون دی، چې بلبل په تماشا دی

په مینه مې زړه وچاودی ته وایې په خندا دی

نتلی د بېلتون یم

زه ((سیدال)) دا مې بیان سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رابعه او بکتاش منظومې يو شمېر هنري ارزښتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رابعه او بکتاش منظومه، چې درې سوه کاله وړاندې مهين خليل راژباړلې، د پښتو ادبياتو په تاريخ کې د ګوته په شمار هغو منظومو په کتار کې راځي چې دد غه شعري صنف اطلاق پرې کيدای شي.

منظومه د شعر په ژبه د يوه داستان داسې بيان دی چې د کيسې د پيښو او څېرو د پيژندنې ترڅنګ د شعر هنري او شکلي ارزښتونه هم ولري. د شعر هنري ارزښتونه خوږه او عاطفي ژبه، تصوير نګاري، او ښکلا هستونه دي. شکلي ارزښتونه يې د ټاکلي شعري قالب د ځانګړتياوو مراعت، وزن، د ژبې لنډون او آهنګين والی دی. په کلاسيکه شاعرۍ کې هم دواړه ارزښتونه د وزن پوهنې او بديع و بيان په علومو کې خلاصه کيدې. خو د منظومه ليکنې لپاره، يوازې پر همدې دوو ځانګړتياوو برلاسی کافي نه ده. د يوې بريالۍ منظومې د ليکلو لپاره د کيسې ليکنې پر رموزو پوهيدل هم ضروري دي، شاعر د خپلې منظومې کرکټرونه پيښې هنري ليدلوري او حتی د کيسې تلوسه داسې ټاکي چې په شاعرانه تصويرونو کې له خپلو ټولو جزئياتو سره ځای شي يعنې د شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلازمات نه ښايي داستان نيمګړی کړي او نه هم د داستان جوړښت، ډيالوګونه او د پيښو منطقي تړون د شعر پر کيفيت ناوړه اغيزه وکړي، منظومه ليکونکی په يوه لاس دوه هيندوانې ليږدوي. په شعري صنفونو کې منظومې ډرامې ډېر زوړ تاريخ لري، په لرغوني يونان او هند کې ډرامې د شعر په ژبه ليکل کيدې، چې هغو بيا ډيرې باريکۍ درلودې ځکه د ستيژ پر سر به لوبيدې او شاعر يې بايد د داستان، شعري ارزښتونو او تياتري ځانګړنو خيال ساتلای وای د سوفوکل پاچا اديپ، د يورو پيدس د ټرای ښځې، په هند کې د کاليداس شکونتلا او نور داسې په لسهاوو مثالونه يادولای شو. د هومر ايلياد او اوډيسې، د فردوسي شهنامه د ګويته د فاوست تراژيدي، د دانته الهي کميدي او نور داسې نړيوال شهکارونه ډېر دي چې د منظومو په قالب کې ليکل شوي دي.

په پښتو کلاسيکو ادبياتو کې هم ځينې منظومې له پاړسي ادب څخه راژباړل شوي او ځينې ولسي نکلونه نظم شوي او آن تر دې چې سندرغاړو د ټنګ ټکور په مجلسونو کې د ولسي کيسو خوږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظومې ويلې دي. د ځينو مشهورو عشاقو کيسې هم پخوانيو شاعرانو په نظم کړي دي.

رابعه او بکتاش يوه همدا سې ژباړل شوې منظومه ده چې ښايي هنري ارزښتونه يې د کلاسيکو ادبي معيارونو په تول وتلل شي.

اجازه راکړئ په همدې پيل کې يې ووايمه چې ما ته دغه ژباړه يوه آزاده ژباړه ښکاره شوه، مهين خليل د شيخ فريدالدين عطار په الهي نامې کې دغه کيسه لوستې او بيا يې په پښتو نظم کړې ده، يعنې د کيسې طرح، اډانه يا خاکه د عطار ده خو په پښتو شعر کې يې هنري بيان د مهين خليل دی، لنډه دا چې کلمه د کلمې يا بيت د بيت ژباړه نه ده.

له همدې امله يې د هنري ارزښتونو يوه برخه د مهين خليل ملکيت ګڼلی شو. په منظومه کې د شاعرانه تصويرونو لپاره د ايجاد بسترونه دوه دي چې يوه برخه يې په داستان او بله يې په شعر پورې مربوط دي. داستاني تصويرونه هغه عيني موقعيتونه دي چې پيښې او خيرې په کې انځورېږي. او شعري انځورونه، دواړه عيني او ذهني تصويرونه دي چې شاعر يې د ښکلا په خاطر ايجادوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه بیلګې به د رابعه او بکتاش په منظومه کې وګورو، یو شاعرانه انځور:

کج ابرو یې هسې ضم وو
چې خوبان ۀ بر ورته خم وو
چې یې نوې میاشت کتله
میاشت به ټیټه څنبیدله
چې به نمر په مشرق سر که
دې به څخو پرې نظر که
له هیبته په لړزان شه
په وریځ کې به پنهان شه
کج بانه ددې دراز وو
ګویا جوړ ناخون د ناز وو

وګورئ دا برخه چې د رابعې د ښایست توصیف دی د داستان له پرمختګ سره کومه مرسته نه کوي، مګر د شعر د هنري تمثیل لپاره او دا چې اوریدونکی د رابعې ټول ښایست درک کړای شي، کارول شوي دي. دا برخه، د منظومې د شاعرانه انځور هستونې یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه وه. مګر لاندینۍ تصویر جوړونه د منظومې په داستان پورې اړه لري وګورئ:

الغرض باد شاه رنځور شه

درست جهان په ده تنور شه

امیران یې واړه ټول کړه

چپ و راس یې تر ځان شپول کړه

شهزاده یې وبالنه

نصیحت یې ورته کنه...

نور یې لاس د لور په لاس کړ

شهزاده په لاس یې پاس کړ

هم ژړل، هم یې سپارله

چې پرده باندې کېدله

دا د کیسې یوه صحنه انځوروي، لوستونکي کولای شي دغه داستاني برخه د سینما د پردې په څیر په خپل ذهن کې تصویر کړي، داسې تصویر هستونه د شعري ضرورت په خاطر نه، بلکې د داستان د عاطفي بیانولو لپاره ترسره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شعر په کلماتو کې داخلي موسیقي د څو سره ورته حروفو راوستل دي چې هم په کلاسیکو او هم په معاصرو شاعرانو کې دود دی، دا کار که په لوی لاس وشي تفنن او تصنع ته خبر وځي خو که په طبیعي ډول راشي د ژبې ښکلا ییز صفت ګڼل کیږي.

مهین خلیل په خپلې دغې منظومې کې داسې برخې لري چې ترڅنګ یې ځینې بدیعي صنعتونه هم کارولي دي، وګورئ:

نام، ناموس یې د پلار هېر شه

ناست ولاړي په بل سېر شه

عین یې عقل د سرورک که

قام قبیل یې واړه سپک که

شین چې شرم ترې بدر که

نوم یې بد د خپل پدر که

اول خو د (نام ناموس ـ ناست) (عین ـ عقل) (قام ـ قبیل) (شین ـ شرم) کلمات د شعر د داخلي موسیقي له نظره جالب ځایونه لري او په دوهم قدم کې (عین) هم د الفبا یو حرف په توګه چې د عقل په پیل کې راځي او هم د سترګې په مانا، چې دلته د سترګو نظر له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرې عقل ورکوي، له کلماتو سره ښکلې لوبه ده همداراز شين د شرم د سر حرف او همداراز د شين رنګ په مانا ښکلې کارول شوي دي.

د مهين د منظومې ژباړې د منظره کشۍ قوت هم د پام وړ دی، سره له دې چې دغه شاعر ساده ژبه کارولې ده او تر ډېره حده يې د کيسې تصويرونه داسې تمثيل کړي چې په کلاسيکه شاعرۍ کې رواج وو، خو د عيني تصويرونو په رامنځ ته کولو کې يې هغه ميتودونه مراعت کړي چې په معاصره شاعرۍ کې دود دي. د مثال په توګه د عمومي يا اصلي او په بله ژبه د لوی تصوير د رامنځ ته کولو لپاره يې واړه يا فرعي تصويرونه بشپړ کړي او بيا يې يو د بل ترڅنګ په تنظيمولو سره لوی تصوير ورڅخه جوړ کړی، دا په منظومه ليکنه کې يوه مهمه تخنيکي مسئله ده. راځئ د دې ادعا د ثبوت لپاره د مهين د منظومې يوه برخه راواخلو چې د بلخ د پاچا د ماڼۍ او باغ يو ژوندی تصوير ارائيه کوي او همدا لوی تصوير له ګڼو وړو انځوريزو برخو څخه رامنځ ته شوی دی.

د بادشاه د کوره وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عظیم باغ و جوی ترې لاندې
په دنیا چې وو ګلونه
همګي په ده کې وونه
ښې خوږې ونې بارداري
هم په ده کې وې نامداري
چې په دوی پورې مېوه وه
تر مصري نبات خوږه وه
مېوې ډېرې چینار هم وو
په هر لور پکې ولې وې
ولې نه جوړې بیلې وې
منقشې په کنار وې
فوارې پکې بې شمار وې
د جنت په ترا جوړ و
جنت لوی دا ځینې ووړ و
څو بنګلې پکې عظیم وې
مرصع په زر و سیم وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



منقش پکې مرغونه
ښه ځوانان خوبرويه جونه
مصفا واړه ښه شان وې
پورته لوړې په ايوان وې
چې سړی به پاس پرې شنه
خاص ديوان به يې ليدنه
تماشا په باغ دننه
د بادشاه د خور دستورو
دا د ستورې مشهورو
چې به باغ له مدام تلله
تماشا به دې کوله
سهيلۍ به ورسره وې
په هر باب کره سره وې
هم به زنګ هم داريالونه
هم سرنا هم به ډولونه
په هر وقت به غريدنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې به جشن هورې کنه

دې به کړه د سوز بیتونه

دوی ویل په الحانونه

چې الحان به دوی آغاز کړ

بلبلانو به پرواز کړ

یا به ناستې وې چپ غلې

تر آوازې شرمېدلې

هم شراب هم به کباب و

هم پیالې هم به رباب و

په هر لور به شوې نوشلې

صراحۍ به خندیدلې

باغ به جوړ ارم جنت شه

ترې به، به په هر زینت شه

زما له نظره د مهین خلیل دغه منظومه ژباړه د پښتو شاعرۍ په کلاسیکه دوره کې د شعري تصویرونو د مطالعې لپاره یوه ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه ده او مونږ کولای شو په پښتو شاعرۍ کې د دغې برخې په تاریخي څېړنه کې ورڅخه یو شمېر بېلګې انتخاب کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو شعر د عَلم بردار نقد

ګڼ شمیر ادب پوهان خوشال بابا د پښتو شاعرۍ لومړنی نقاد بولي او دا ځکه چې یو خو د یو جلا ادبي مکتب بنسټ ایښودونکی دی او له بله پلوه لومړی شاعر دی چې په ښکاره خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاصر او تر ځان وړاندي شاعران تر نقد لاندې نيسي. د خوشال بابا نامتو قصيده چې د خپل شعر په ستاينه کې يې ليکلې ده، ددې ادعا ګواه ده:

په پښتو شعر چې ما عَلَم بلند کړ

د خبرو ملک مې فتح په سمند کړ

خان د هندي سبک يو شمير پيروان چې د روښاني مکتب لاروي دي يو د بل پسې يادوي وايي:

د ميرزا ديوان مې ومانده په ګوډي

مسخره مې ارزاني خيشکی زمند کړ

درويزه مې له مخزنه سره ونغړ

پير روښان مې ياوه ګوی سره مانند کړ

که دولت وُ که واصل و، که دا نور و

په خبرو مې د هر يوه ريشخند کړ

د خوشال بابا دغه ادعاوې ځکه خپل ځای لري چې تيره شاعری له خپل ځان سره مقايسه کوي او ګوري چې په خپله ده پښتو شاعري يوازې له صوفيانه عوالمو او عارفانه مدارجو څخه د پښتون قوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځني ژوند ته راکوزه کړي او د هغه مهال ورځني ژوند ، واقعات، ټولنيز حالات، تاريخي پيښې او د لمس وړ ښکلاوې يې بيان کړي دي. دده په نظر پښتانه شاعران تر ډيره د هندي شاعرۍ سوليدلي ترکيبونه اړوي رااړوي او يوازې د تصوف او عرفان په تکراري مفاهيمو کې خپل قلمونه آزمويي مګر خوشال د خپلو خلکو د ژوند هر اړخ ته پام ساتي له ښکار نيولې تر طبي مشورو ، د ښځينه جنس له خصوصيتونو څخه د پښتنو تر اجتماعي اروا پوهنې او اتنولوژيکو خصوصياتو پورې هرڅه څيړي، ددې ترڅنګ خوشال لومړی شاعر دی چې د حقيقت او مجاز پولې ړنګوي او خپله هغه معشوقه ستايي چې مخامخ ورته ناسته ده او لاس يې ور رسيږي:

د بوستان ونې مې واړه پيوندي دي
حقيقت مې له مجاز سره پيوند کړ
ځکه خو يو بل ځای وايي:
زه خوشال کمزوری نه يم چې به ډار کړم
په ښکاره ناري وهم چې خوله يې راکړه
خوشال په خپل شعر کې نوښت ته داسې اشاره کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



قتلمې مې ورته سازې کړې د قندو

د اوربشو په ډوډيو چې چا شخوند کړ

او دا په ښکاره هغه موضوعي نوښت ته اشاره ده چې د خوشال بابا د شاعرۍ يو لوی امتياز ګڼل کيږي.

خوشال بابا په داسې عصر کې ژوند کوي چې د پښتو شعر(سره ورته) جريان د مقايسوي نقد پر مهال پرته له خپلې شاعرۍ د بل ښه موډل او بيلګې سراغ نه لري ځکه خو مجبور دی د خپل معاصر شعر خامي له خپل شعر سره مقايسه کړي او دا وښيي چې د نوښت لاره کومه ده:

په تازه تازه مضمون د پښتو شعر

په مانا مې د شيراز او د خجند کړ

خوشال بابا لومړنی شاعر دی چې د پښتو شعر دواړو اړخونو (مضمون) او (شکل) ته پام ساتي، مانا دا چې هم د محتوا له نظره او هم د وزن، او بيلابيلو صنعتونو له نظره د نوښت راوستلو ادعا کوي وګورئ:

هر کلام مې واردات دی يا الهام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې موزون مې په تقطیع د بحر و بند کړ

په تشبیه او په تمثیل په نزاکت کې

عزوبت مې د خبرو چند در چند کــړ

خوشال بابا پر الهام او شهود ډیره تکیه کوي او خپل حساب له هغو ناظمانو څخه بیل ګڼي چې په وچ زور شعر لیکي، خوشال بابا ځو ځایه ټینګار کوي چې شعر ورته راځي او دی هیڅ کله نه دی پسې تللی په همدې قصیده کې یې ولولئ:

نه مې سود نه مې مقصود شته په دا کار کې

محبت زما په غاړه دا کمند کــړ

که نور سود د شعر نه لرم دا بس دی

چې حاسد مې د حسد په اور سپند کړ

او بل ځای وایي:

زه د شعر په کار هیڅ نه یم خوشال

ولې خدای مې کړ په غاړه دا مقال

نه په فکر نه په ذکر رابرسیر شي

ناګهــان لکه اوره د پشــکال

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ زما د شعر هیڅ سره ساز نه دی

لکه سپی را پسې ګرځي په دنبال

خوشال د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې بیا هم لومړنی شاعر دی چې د شعر په اشراقي او الهامي جوهر ټینګار کوي او تصنع او تکلف نه خوښوي.

زموږ شاعر د خپل عصر د شاعرۍ یوې بلې کمزورۍ ته هم ګوته نیسي، د هغه په نظر په شعر کې د چا مدح یا ذم کول ددې باعث ګرځي چې شعر خپل طبیعي مسیر پریږدي او د چا خبره د زړه په زور یې خلک منلو ته اړ ایستل شي.

نه اندوه د مدح و ذم نه هغه کس یم

چې د زړه په زور مې شعر د چا پسند کړ

خوشال بابا د مغولو د دربار او د محلي امیرانو په دربارونو کې مداحان لیدلي وو، چې څنګه د شعر دردانې په زرو پلوري، ځکه خو دغې نیمګړتیا ته ګوته نیسي او څرنګه چې خپله شاعري له دې اړخه بې نیازه بولي نو فکر کوي چې خلک به د هغه شعر د زړه په زور نه بلکې په خپله خوښه لولي، اوري او خوند به ورڅخه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشال بابا په خپلې دغې قصيدې کې دوه ځلې دې ته اشاره کوي چې عشق يې د شعر اصلي مضمون جوړوي:

نه مې سود نه مې مقصود شته په دا کار کې

محبت زما په غاړه دا کمند کـړ

او

عشقه ته تر اورنګزيب بادشاه بهتر يې

چې خوشال دې په عالم کې سربلند کړ

له دې څخه ښکاري چې دده په نظر شعر د معنويت د تمثيل وسيله ده او عشق د معنويت جوهر جوړوي. خوشال باور لري چې که شاعري د معنويت په جوهر، يعني عشق، آراسته وي تلپاتې کيږي. څلور پيړۍ وروسته او لا تر نن ورځې د خوشال شاعري په ټوله نړۍ کې لوستل کيږي او خوشال همدا اوس هم له هرچا سره خبرې کوي خو اورنګزيب يوازې د تاريخ په کتابونو کې ياديږي او بس، هم خوشال او هم د هغه لوستونکي دا مني چې عشق او شاعري ددغه ابديت او سربلندۍ عوامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشال بابا د خپل عصر شاعران اور اورکي ګڼي او ځان د سهیل ستوری، دده په نظر نور شاعران لکه اور ورکي د کمې مودې لپاره رڼا له بلې سرچینې څخه اخلي او بلاخره د شپې په تیاره کې ورکیږي مګر دده شاعري لکه د سهیل ستوری نه یوازې خپله د رڼا منبع ده بلکې د سهار د راتلو زیری هم له ځانه سره لري:

مدعي د تورې شپې اور اورکی و

د سهیل غوندې مې ځان باندې ځرګند کړ

خوشال بابا کله چې د ځان په اړه قضاوت کوي ریښتینتوب یې هغه مهال لا پسې ځرګندیږي چې کله خپله پارسي او پښتو شاعري سره پرتله کوي:

په پارسي ژبه مې هم ژبه ګویا ده

په پښتو ژبه مې خلک بهرمند کـړ

یعنې په پارسي، د دوهمې ژبې په حیث، هماغومره حاکمیت لري چې ژبه یې پرې ګویا ده خو په پښتو ژبه د شاعرۍ مړوند یې هیڅ څوک نه شي تاوولی او ټول خلک ورڅخه بهرمند شوي:

چا زما مړوند ټینګ نه کړ په دا کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د هر سړي نه خلاص په زور مړوند کړ

په ادبي کره کتنه کې له زماني پلوه هم عصره نقد نظر دې ته، چې څو پيړۍ وروسته په کومې ادبي دورې نقد وشي، ډير ارزښت لري ځکه د يوې زمانې شاعر او منتقد دواړه په مشترک اجتماعي او فرهنګي چاپيريال کې ژوند کوي له همدې امله که د پښتو شاعري پر کلاسيکه دوره نقد کيږي نو خامخا به د هغه مهال همزولي آثار کتل کيږي چې د هغه وخت په ادبي دورې کې د شاملو شاعرانو په اړه څه ډول قضاوت کيده ځکه خو د خوشال بابا دغه قصيده او نور نقدآميزه نظريات د تاريخي کره کتنې په بحثونو کې ډير ارزښت لري او بايد د منتقدينو د پام وړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خوشال بابا په رباعياتو کې د موضوع تنوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشال بابا په خپلو کلیاتو کې د نورو شعري قالبونو ترڅنګ یو ګڼ شمیر رباعیات لري، چې تعداد یې د پښتو ټولنې چاپ مجموعې د شمیر له مخې تقریباً (1674) ته رسیږي. دغه رباعیات د معمول رباعي وزن په قالب کې لیکل شوي او تر ډېره بریده یې وزني جوړښت سره ورته دي، خو د ځینو رباعیاتو وزن یې توپیر هم لري. د اکاډمیسین پوهاند رشاد له نظره د خوشال رباعیات زیاتره په هغه وزن کې دي چې لومړنۍ مصرعې یې لنډې او دوې وروستۍ مصرعې یې اوږدې دي او داسې تقطیع کیږي:

لل ل-ا ل　　　ا ا ل ل ل-ل ا ا

اووه اسمانه　　　اووه یې ستوري

دوولس برجونه　دي پکښې ښوري

غم جن دې طمعه د ښادۍ کاندي

د شمې ځښتن دې سحر ته ګوري　　　(لس مقالې **۵۷** مخ)

موږ په دغه بحث کې غواړو د خوشال بابا د رباعیاتو پر معنوي اړخ خبرې وکړو یعنې د موضوع د رنګارنګۍ او تنوع له نظره پر دغو رباعیاتو کتنه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رباعي د هرې ژبې د لنډو شعرونو په شان يوداسې فورم دی چې يوه فکري واحده مسئله په لنډه وينا کې ارائيه کوي، ډير ځله رباعي پر يوې واحدې موضوع باندې حاوي وي. يعنې په دغه لنډ فورم کې د ګڼو مسايلو مطرح کول ناممکن يا خو مشکل دي، کله کله په رباعي کې يو بيت د مسئلې طرح او بل بيت يې د ثبوت لپاره راځي لکه خوشال بابا چې وايي:

خواږه د مينې نه راپيدا کيږي

واړه په مينه سره غځيږي

مينه په مثل نافه د مشکو ده

نافه د مشکو چيرته پټيږي

وګورئ دلته خوشال بابا غواړي ووايي چې د مينې لذت او خوږوالی نه شي پټيدای او په بل بيت کې د مشکو د نافې مثال راوړی چې عطر يې هر چيرې ځان راڅرګندوي ګويا ددې مثال په مرسته يې ثبوت ته رسوي.

د خوشال په موجودو رباعياتو کې د عشق او ښکلا تر څنګه فلسفي، اخلاقي، تاريخي او اجتماعي مضامين هم ډير تر سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي دی د خپل عصر حالات او پیښې، د نړۍ، انسان او ژوند په هکله خپل طرز فکر او آن د طبیعت او معشوقي ښکلاوې په دې قالب کې بیانوي.

د خوشال اعجاز په دې کې دی چې لویه عقلي او یا هم جمالیاتي خبره په یوه واړه قالب کې په ډېر مهارت ځایوي دلته به د هر مورد لپاره یو شمیر بیلګې ذکر کړو:

د خوشال بابا په رباعیاتو کې عشقي مسایل: رند خوشال د غزل او نورو شعري فورمونو په څېر، په رباعیاتو کې هم عشقي او لیریک مسایل په خورا ښکلې او لنډه بڼه مطرح کړي دي دا څو بیلګې وګورئ:

زړه مې په تن کې په ډېر آشوب شي
چې ښکلي یاد کړم کله مې خوب شي
زوړ شوم لا خیال لرم د مهوشانو
په سپینه ږیره هم عاشق توب شي

***

زړه مې زخمي دی وینې ترې څاڅي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژاړم له درده څړيکې ترې پاڅي

تیر يې خوړلی د هسې ليندۍ دی

چې په آواز یې تار دژۍ ناڅي

***

زړه مې له ښکليو سره بيا بيوورغواړي

ګوره و ځان ته بلا په زور غواړي

زلفې چې تاو کا په مخ يې پريږدي

جنون پرې زور شو بيا رنتهبور غواړي

***

زلفې چې تاو کا په مخ يې پريږدي

ښکلی ګلونه په بارخو کيږدي

زړه مې بلبل شي وربا ندې راشي

له ډيره شوقه وربا ندې ريږدي

***

چې مې په غيږ کې يې ساعت همدا دی

بيلتون دې بلې لمبې په ما دی

پاڅه وردرومه په سر دې ويره کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يې سبا ګڼم وخت د سبا دی

***

بارخو يې نه دی ګل د ګلاب دی

زلفی يې طعن د مشک ناب دی

راشه که دواړه شونډې يې ګورې

چې پرې مستيږی هغه شراب دی

***

د بڼو تير دې په څو تيره دی

واړه لک شوی زما په زړه دی

دا د نکريزو نګار پرې نه دی

د خوار په وينو يې ورغوی سره دی

***

د خوشال بابا په عاشقانه رباعياتو کې له عشق څخه شکوه هم شته او د معشوقې وصف او توصيف هم، د عشق د رنګينيو ستاينه هم لري او عشق کله کله د ژوند جوهر هم ګڼل شوی دی. په ځينو عشقي رباعياتو کې تصوير هستونه، تشبيهات او ښکلي سمبولونه هم کارول شوي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عشقه ستا واړه چارې اوترې دي

چې زورور يې واړه بهترې دي

تر مرګه پورې سره نظر لري

ځلمي بازونه نجونې کوترې دي

فلسفي افکار: فلسفه په ختيځ کې کوم علمي ـ سيستماتيک تاريخ نه لري او د کوم بيل علم په توګه نه ده مطرح، د نړۍ ګڼ پوهان په دې عقيده دي چې مدام فلسفي افکار په ختيځ کې له ادبياتو، دين، الهياتو، تاريخ او حتی هنر سره ګډ وو او فلسفي فکرونو تر ډېره بريده په شعر کې ځان راښکاره کړی چې ښې نمونې يې د عمرخيام رباعيات دي، شايد رباعي د لنډو فلسفي فکرونو د بيان لپاره ښه فورم وي ځکه نو خوشال بابا هم خپل ګڼ افکار په همدې قالب کې بيانوي، د زاړه يونان يوه مشهوره خبر ده چې "نيکمرغي په ناپوهۍ کې ده" او دا خبره سوفوکل د پاچا اديپ له خولې هغه مهال کوي کله چې د خپل برخليک په هکله په هرڅه پوهيږي، هغه وايي "کله چې وپوهيدم، بدمرغه شوم" خوشال همدا خبره داسې کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خبردار شوم له دې جهانه

څه مسخرې کا په هر چا جانه

هوښیار لا هومره په ځان خوښ نه وي

لکه نادان کا خوښي له ځانه

سره له دې چې خوشال د جبر د فلسفې پلوي دی او ډیر ځله قسمت، بخت او طالع د انسان د برخلیک ټاکونکي ګڼي یا په بله وینا د برخلیک لیکه له پخوا څخه کښلې ګڼي:

په تا که راشي ډیر محنتونه

یا راحتونه فراغتونه

ته یې په نورچا حواله مکړه

چې ازلي دي دا قسمتونه

خو کله کله د نویو اګزستنسیالیستانو په څیر انسان په آزادۍ محکوم ګڼي او په دې باور دی چې دا انسان دی چې خپل ماهیت ټاکي وګورئ:

جهان کمر دی څخلی ته یې

فعل دې ږغ دی ږغ کړونی ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه چې ږغ کړې هغه به وا ورې

را شه خبر شه که خبر نه یې

د خوشال له ژبې کله کله د جبر په وړاندې د انسان مسئولیت د مسئلې پوښتنه هم راولاړیږي او دا هغه مسئله ده چې ختیزو منطقیونو ډیره شاربلې ده، که انسان مجبور خلق شوی نو ولې بیا د هغو ګناهونو لپاره مجازات کیږي چې په قسمت کې یې لیکل شوي دي:

خالق زما یې په دا پوهیږم

حکم دې حق دی منم ګروهیږم

چې دې ظلوم او جهول پیدا کړم

په بد مې نیسی دا اندوهیږم

خو ډیر ژر خپل ځواب بیا مومي او وایي چې د خلقت راز د ښه او بد په پیژندلو کې دی:

خبر د دهر په مکر دروه شوم

دا څه چې ښاد شم یا په اندوه شوم

نه یې ښادي شته نه یې اندوه شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه فساد دی چې ښه پرې پوه شوم

اجتماعي نظریات: خوشال بابا د یوه ځیرمن مفکر په توګه د ژوند هره تجربه په دقت څیړي او غواړي نور ورڅخه پند واخلي ډیر ځله د ژوند همدا اسې تجربې او اجتماعي نظریات د هغه په رباعیاتو کې راغلي دي.

د مال دولت، خاني او مشرۍ، کورني ژوند ، د ښځو خصوصیت او د قوم دود دستور دا ټول یې په رباعیاتو کې بیلابیلې جلوې لري د خوشال دا اسې نصیحتي رباعیات په شمار کې تر نورو ډیر دي، یو څو بیلګې یې وګورئ:

ګومان د نیکو تل په دوستانو کړه
ګومان د بدو په دښمنانو کړه
د جاهلانو سره قرین مه شه
صحبت یک لخته له عاقلانو کړه

***

له قامه ولاړ شوم لېرې په کروهه
خالي ارمان دی وروستنی پوهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تېرو چارو پسې ارمان کړم

اوس مې څه سود دی له دې اندوهه

***

ما د دانا کړه دا وینا خوښه

ړانده دې نه ځي بې عصا کښه

تمه مرغونه په دام بندی کا

سړی خوار یږي له خپله اشه

***

ښځه که هرڅو په مخ زیبا ده

په هر هنر کښې پسندلې دا ده

ظاهر یې مه ګوره باطن یې ګوره

هاله یې ستایه که دا پارسا ده

تاریخي او سیاسي مسایل: خوشال خان ختهک د یوه لایق پوځي مشر، قومي رهبر او سیاستمدار په حیث د خپل عصر او د چاپیریال ګنې پیښې، اشخاص او ستونزې په خپلو رباعیاتو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاد کړي دي او په دې توګه يې دغه حوادث د پښتنو په تاريخ کې لـه ورکيدا ژغورلي دي:

د بيلګې په توګه ډير ځله له مغلي واکمنو، خپلو زامنو، پښـتنو او ناپښتنو رقيبانو څخه سر ټکوي:

زويو مې خوی د خټکو نور کړ

زما په نقش يې پورې سور اور کړ

وخت د ګټنې د نام و ننګ و

بدو زامنو را څخه خور کړ

***

زويه که هسې وي لکه چې زه لرم

که هر څو ډير دي يو زويه نه لرم

يو يحيی خان نه شو يو اکوړی نه شو

چنجو منجو دی پټ به يې څه لرم

***

پورې په خونه د ايمل خان شو

په سول د خونې خان خانان شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اورکه و نه مړ دا يم ناري وهم

په وار وار پورې په درست افغان شو

***

بادشاه سني دی خلک حيران شو

درافضيانو دور اوان شو

که څوک په ملک کې يو شاه زلمی وي

توره تر ملا کا وخت د افغان شو

***

بخت د مغلو پښتانه نه پرېږدي

چې اتفاق وکا په توره زړه کېږدي

ګنه څه هو مره پښتانه نه دي

چې يې په ياد کا د مغلو زړه رېږدي

***

کال د غفج و خيبر کې هورې

مغل بندي وو ، هم کونډې بورې

مومند شينواري څو اپريدي وو

واړو وهلې د يادو تورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

خوشال له دې مسايلو پرته په خپلو رباعياتو کې د ښکار، باز ساتنې، جګړې، خانۍ او سردارۍ مهارتونه هم شرح کوي، د ښځو او جنسي مسايلو په اړه خپل تجارب بيانوي، حتیٰ د فصل، هوا او اقليم په اړه هم خپلې تجربې څرګندوي يوه بېلګه:

سهيل چې وخېژي اوړی تمام شي

زيرمه د ژمي د سرانجام شي

په اته مياشتې هسې هوا وي

چې د ځوانانو پکې هر کام شي

د خوشال تر يو نيم زرو زيات رباعيات سلګونه موضوعات په ځان کې نغاړي، دا په تيره هغه مهال چې پښتني ټولنې د حکمت او پند موجزو وجيزو او مقولو ته اړتيا درلوده د خورا لوی اجتماعي ـ ادبي او تاريخي ارزښت لرونکي دي چې د پښتو ژبې او ادب يو په زړه پورې او بډايه ګنجينه يې بللی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په پټه خزانه کې

# د سبکونو هراړخيزه رنګارنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټه خزانه د هوتکي پاچا اعلیحضرت شاه حسین هوتک، د عصر نامتو لیکوال محمد هوتک د داود خان هوتک زوی هغه تذکره ده چې په (۱۱۴۱-۱۱۴۲ هجری ق.) کلونو کې لیکل شوې او د پنځوسو پښتنو شاعرانو او لیکوالو ژوند لیکونه یې د تاریخ د خاورو په زړه کې ساتلي دي. دغه اثر په کال ۱۳۲۲ لمریز کې لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبی وموند او له پارسي ژباړې سره یې خپور کړ. د ((پټه خزانه)) له برکته د پښتنو ادبیاتو تاریخ ډیرې ورکې خو نامتو څیرې رابرسیره شوې او دا زبات شوه چې پښتو ژبه لرغوني ادبیات لري خو د وخت ناخوالو، پیښو او جګړو ورڅخه ډیر څه خوړلي دي. که څه هم د پټې خزانې تر خپریدو کلونو وروسته یو شمیر پښتو دښمنو او پردي پالو عناصرو پر دغه کتاب هوایي او له غرض و مرضه ډکې نیوکې هم وکړې او ځینو خو ځانته دا جرأت ورکړ چې دغه کتاب ته (جعلي) ووایي.

زما له شخصي نظره: قلندر مومند او د هغه شاګردانو ددغو عواملو پر بنا پټه خزانه جعلي ګڼلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ـ علامه حبیبي د (پټه خزانه) پر رابرسیره کولو سره د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې د یوه داسې څېړونکي په حیث وپیژندل شو، چې د پښتو ژبې تاریخ یې راژوندی کړ، ټولو پښتنو د علامه دغه هڅه هومره وستایله چې د ځینو ځانته غره لیکوالانو او محققینو حسادت او رخه یې راوپاروله، ځکه خو یې په علامه حبیبي او پټې خزانې پسې راواخیستل. دوی فکر کاوه چې په دې کار به هماغومره شهرت وګټي لکه علامه حبیبي چې د پټې خزانې په موندلو او خپرولو سره ګټلی و.

۲ـ د پټې خزانې تر خپرېدو پورې داسې ګومان کېده چې پښتو ادب له بایزید روښان، خوشال بابا او رحمن بابا څخه راپیلېږي او دوی ټول د پېښور د حوزې یا لږ تر لږه د لوی افغانستان د هغې برخې اوسېدونکي وو چې اوس یې کوزه پښتونخواه ګڼي. حال دا چې پټې خزانې ثابته کړه چې تر دې ډېر پخوا د غور ـ کندهار، زابل او کوټې په علاقو کې ستر شاعران تېر شوي دي، له بده مرغه دغه حقیقت هم د پټې خزانې مخالفینو ـ چې د ټولو پښتنو نه بلکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې د خپلې سیمې او د خپل شهرت په اړه فکر کوي .ونه شو زغملای او پټه خزانه یې جعلي وګڼله.

۳.د شلمې پیړۍ له پیله چې د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ لپاره یو ملي غورځنګ راپیل شو او یوشمیر فاضلو استادانو د دغې ژبې د ادب د تاریخ تیاره ګوټونه روښول دې مسئلې د ګاونډیو فرهنګونو یوشمیر متعصبو کړیو ته خوند ورنه کړ، د هغوی په نظر پښتو د غرو د خلکو یوه وحشي ژبه ده او که د فرهنګ نړیدلي ځلي یې ودان شي نو پښتانه به مدني ژوند ته متوجه شي او بلاخره به یې ملي شعور لوړ شي چې په پای کې به سیاسي واک هم په لاس کې ونیسي، ددې پروسې د مخنیوي لپاره ایرانیانو او پنجابیانو په یوشمیر د سیسو جوړولو پیل وکړ چې یوه یې هم د پټې خزانې د جعلي والي ډنډوره وه، له بده مرغه یوشمیر پښتانه لیکوال هم یا مخامخ یا په غیرمستقیمه توګه د دغو ډنډورو ښکار شول.

دا و، زما له شخصي نظره، له پټې خزانې سره د دښمنۍ عوامل.

خو ولې پټه خزانه له دومره دښمنیو سره سره لا هم د افغاني فرهنګ پر هسک د لمر په شان ځلیږي؟، ځکه چې دغه کتاب که له علمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوه وڅېړل شي ګڼ شمير داسې نه انکار کيدونکي اسناد پخپله د کتاب په متن کې شته چې د دغه کتاب پر اصالت ګواهي ورکوي، له دې دلايلو څخه يو هم په پټه خزانه کې د راغليو شعرونو د سبکونو هراړخيزه رنګارنګي ده چې هيڅ کله هم زموږ د پيړۍ د يوه يا حتی څو تنو محققينو پر لاس نه شي ايجاديدلای او که څوک ډير لږ هم د هنري ارزښتونو پر رموزو پوه وي پر دې پوهيدلای شي چې د داسې متفاوتو هنري ارزښتونو رامنځ ته کول د تاريخ په بيلابيلو پړاوونو کې د بيلابيلو شرايطو او تاريخي موقعيتونو په نظر کې نيولو سره، نه د منحصر به فرد سبک لرونکو شاعرانو کار دی، نه د يوه يا څو تنو څېړونکيو.

تر دغې مقدمې وروسته د پټې خزانې سبکي ويش له لاندينيو اړخونو څخه ترسره کيدای شي؛ له تاريخي پلوه د پټې خزانې د سبکونو توپير، له موضوعي پلوه د سبکونو پيژندنه او د هغو شکلي بدلون. په لاندې کرښو کې به د هرې موضوع لپاره بيل بحث وکړو.

١ـ په پټه خزانه کې د سبکونو تاريخي رنګارنګي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اساساً پټه خزانه لـه (۱۰۰) هجـری ق. کـال څخـه تـر (۱۱۰۰) هجـری ق. پـورې د پښـتني فرهنـګ بیلابیلـې تـاریخي دورې پـه ځـان کـې رانغاړي لـه همدې پلوه ټول هغـه متـون چې پـه پټه خزانـه کې ثبت شوي د خپل وخت له پلوه د بیلابیلو منځپانګو لرونکي دي.

عجیبه دا ده، چې د پټې خزانې فاضل مؤلف (محمد هوتک) هم پـه دې تفـاوتونو پوهیـدلی او پټـه خزانـه یـې پـه درې برخـو (پخوانیـو شـاعرانو، د مؤلـف معاصـرو شـاعرانو او ښـځینه شـاعرانو) بانـدې ویشلې ده.

تر ټولو زوړ شعر د امیرکروړ هغه تاریخي ویاړنه ده چې لـه تـاریخي پلوه د خورا ارزښت خاونده ده چې د ویلو تـاریخ یـې (۱۳۹) هجـری ق. ته ورګرځي:

زه یم زمری، پر دې نړۍ له ما اتل نسته

په هند و سند و پر تخار و پر کابل نسته

بل په زابل نسته

له ما اتل نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ویاړنه هم د لغاتو له نظره لرغوني ده او هم د شکل له نظره ځکه تر ډېره حده په هغه وخت کې د پښتو معمول وزن او جوړښت لري چې د دغه میړني ولس زیږېدنه ده او له هیڅ پردي قالب څخه تقلید شوې نه ده.

له تاریخي پلوه د پټې خزانې د متونو بل اهمیت دا دی چې د یوشمیر قدماوو په متونو کې ګڼ تاریخي ارزښتونه، پېښې او حوادث ثبت شوي چې بل ځای نه شي موندل کیدای مثلاً د بابا هوتک په سندره کې:

پر سور غر بل راته نن اور دی
وګړیه جوړ راته پیغور دی
پر کلي کور باندې مغل راغی
هم په غزني هم په کابل راغی

چې په هغه وخت کې له مغلو سره د پښتنو د جګړو یو انځور ارائیه کوي او په کې د هغه وخت تاریخي پیښې ثبت شوي دي. د سبکونو له مخې څرنګه چې هر شاعر او ویونکی د بیل ټیپ او شخصیت خاوند دی شعرونه یې هم په بیلا بیلو سبکونو ویشل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیرکروړ اساساً یو امیر او جنګیالی دی، پهلوان دی او له توري او ننګ سره سر و کار لري ځکه یې شعر ویاړنه ده حماسي رنګ لري او په هغه کې پر خپله پهلواني نازیدلی دی، چې خپل سیال په کابل او زابل نه ویني، بابا هوتک د یو قومي ملي مشر، مدبر شخصیت او بانفوذه وګړي په حیثیت د ویاړنې او حماسې ترڅنګ د دښمنو (مغلو) وحشیانه اعمال غندي او د خپلو زلمیو جنګیالیو ویاړونه او شهامت ستایي او هغوی جګړې ته هڅوي:

غښتلو ننګ کړئ دا مو وار دی

مغل راغلی په تلوار دی

په پښتونخوا کې یې ناتار دی

پر کلي کور باندې مغل راغی

ترآخره

د ملکیار بابا هغه سندره چې ترنک سیند ته یې ویلې همداسې یوه تاریخي ارزښتمنه هستي ده چې هم د شکل له مخې او هم د هغه وخت د ټولنیزو ځانګړنو ښه سند یې ګڼلای شو. ددې په مقابل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هغه مهال چې تصوف او عرفان په پښتو کې ډیر دود شو او پیري مریدي په کې معموله شوه صوفي شاعران وځلیدل او د عرفان ډیرې جلوې یې په پښتو ادبیاتو کې خوندي کړې. په دې دوره کې له شیخ متي او شیخ رضی لودي څخه رانیولې آن تر رحمن بابا پورې ګڼ شمیر نور شاعران راځي چې د دغې تاریخي دورې ځانګړنې په کې خوندي دي. په دې لحاظ د تاریخي دورو رنګارنګي یو له هغو معیارونو څخه دی چې په پټه خزانه کې د بیلا بیلو شاعرانو سبکونه پرې بیلولای او ویشلای شو.

۲ـ له موضوعي پلوه د پټې خزانې د متونو تفاوت:

د پټې خزانې خوندي کړي شعرونه د موضوع له نظره خورا بډای او رنګارنګ دي، ویاړنې، عشقي موضوعات، ویرنې، حماسي شعرونه، د طبیعت د ښکلاوو ستاینې، فلسفي مسایل، عرفان او تصوف، د تاریخي پیښو ثبت او نور موضوعات په کې ارائیه شوي دي. مثلاً د ریدي خان مهمند د محمودنامې هغه برخه چې په پټه خزانه کې راغلې د افغانستان د ویاړلي تاریخ یوه مهمه برخه رانغاړي او د موضوع له نظره ډیره ارزښتمنه ده، یا هم د شیخ اسعد

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوري بو لله (قصیده ) چې ښایي په شرق کې تر ټولو ممتازه او عالي

ویرنه یې وبللی شو:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار

زمو لوی هر ګل چې خاندي په بهار

هر غټول چې په بید یا غوړیده وکا

ریژ وي یې پاڼې کاندي نار په نار

ترآخره

او په همدې توګه د ښکارندوی غوري هغه شهکار قصیده چې د

پسرلي ښکلاوې یې په پوره مهارت ستایلي دي:

د پسرلي ښکلوونکي بیا کړه سنګارونه

بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه

مځکه شنه، لاښونه شنې، لمنې شنې سوې

طیلسان زمردی واغوسته غرونه

ترآخره

د ښکارندوی ددغې قصیدې لویه برخه د نچرلیزم (طبیعت پالنې)

یو نړیوال شهکار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د موضوع له نظره بیا د شیخ بستان بړیخ بدله بیخي متفاوته ده:

اوښکې مې څاڅي پر ګریوان یو وار نظر که پر ما

راسه ګذر که پر ما

د مینې اور دې زما زړګی وریت په انګار کینا

ښې تار و نار کینا...

ترآخره

دا بیا د عشق سوز او ګداز په هغه ژبه شرح کوي چې د یوه ښه لیریک شعر خصوصیت دی. په پټه خزانه کې د موضوع رنګارنګي دومره پراخه ده چې آن له پند و عبرت څخه ډکې کیسې یا منظومه ګۍ هم په کې شته او یوه ښه نمونه یې د حافظ عبداللطیف اڅکزي د سوی او اوښ کیسه ده:

غوږ ونیسئ یارانو دا د اوښ او سوی قصه سوه

خورا ډیره خوږه سوه

ترآخره

د موضوع له پلوه د هر شاعر سبک دومره متفاوت دی چې سړي ته د پښتو لرغونو ادبیاتو د بډاینې او پراخوالي په اړه حیرانتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیښوي چې څنګه زموږ نیکونو د هرې ټولنیزې پیښې، پدیدې او ارزښت لپاره ادبي ایجاد او هستونې کړي دي او په دې اړه یو لوی ګنج (پټه خزانه) د ثبوت ښه شاهد دی.

**۳ـ له شکلي پلوه د پټې خزانې د سبکونو رنګارنګي:**

پټه خزانه د پښتو شاعرۍ د بیلابیلو فورمونو یوه لویه ګنجینه ده. د معمولو قالبونو لکه غزل، قصیده، مثنوي، رباعی، ترکیب بند، ترجیع بند، قطعه، او نورو پرته د هغه مهال پښتو معمولو قالبونو موجودیت هم خورا په زړه پورې دی، په دې کې بدله، ناره، سندره او نور محلي قالبونه دومره خواږه دي چې له عربو څخه راغلي یوشمیر ادبي قالبونه ورسره سیالي نه شي کولای او له دې څخه دا ثرګندیږي چې هغه مهال د پښتو ځانګړي فورمونه ښه په کلکه پالل کیدل او په ولس کې ډیر منلي او په زړه پورې وو.

زه غواړم دلته پر همدې موضوع یو څه تم شم؛ غزل، قصیده، مثنوي او نور قالبونه له خپل عربي خصلت سره ډیر وروسته پښتو ادب ته راغلل او تر دې پخوا پښتنو خپل بومي شعري فورمونه لرل.

د ادب د تاریخپوهانو له نظره د لنډۍ یو تاریخ نه دی معلوم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرګونو کاله پخوا ته رسیږي همدا راز بدلې چې په طبیعي توګه د پښتو ادب یو ممتاز فورم دی، دغه فورم نه یوازې په ولسي او فولکلوریکه بڼه په خلکو کې، بلکه له نیکه مرغه په پټه خزانه کې هم خوندي پاتې شوی دی.

بدلې یو له بلې سره له وزني پلوه یو څه تفاوتونه لري خو د هندسي جوړښت له مخې ګډ قالب لري، لومړی مسرې یې اوږدې او دوهمې یې لنډې وي. دوه دوه بیتونه سره همقافیه وي او په ځینو بدلو کې اوله مسره تر دوو بیتونو وروسته تکراریږي. بدله عالي موسیقیت لري او ښکاري چې زموږ لرغونیو شاعرانو به په ترنم ویلې، ځکه خو یوشمیر دغه بدلې اوس هم په اسانۍ او خوږلنۍ سره د موسیقي په پردو کې راتلای شي. بدله د پښتنو له اجتماعي فطرت سره په طبیعي توګه مطابق فورم دی او که څوک وغواړي کره کتنه وکړي نو نظر غزل ته له موضوعي پلوه ډیرې پوره او بشپړې دي ځکه په بدلو کې وزني او قالبي محدودیتونه هیڅکله د یوه شاعرانه تصویر د ناقصې ارائیې، باعث نه ګرځي. په پټه خزانه کې د شیخ بستان بړیخ، د سید ال خان ناصر او نورو ګڼو شاعرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږې بدلې د یادولو وړ دي او د موسیقیت لپاره یې د بهادر خان
دغه خوږه بدله د یادولو وړ ده چې زموږ د زمانې ښه سندرغاړي
احمدولي ډیره خوږه سندره ورڅخه جوړه کړې:
بیلتون دې زور دی تر لېمو مې سهار نم څاڅي
لکه شبنم څاڅي
دا سره یاقوت مې په لمن کې ستا په غم څاڅي
په غم الم څاڅي
ترآخره
پایله:
لـه پورتنیـو یـادونو څخـه دا زبـاتیږي چـې پټـه خزانـه لـه تـاریخي ـ
موضـوعي او شـکلي پلـوه د بیلا بیلـو سـبکونو یـو رنګینـه خزانـه ده
چې په هیڅ ډول د یوه یا حتی څو ذهنونو حاصل نه شي کیدای او
ددغـه کتـاب د منکرینـو پـه حد س هـیڅ کلـه یـو جـوړ شـوی (جعلـي)
کتاب نه شي کیدای ځکه چې د دومره ډیرو رنګینو ـ متفاوتو او
عالي سبکونو رامنځ ته کول په هغه مهال (۱۳۲۲) لمریز کې هغـه هـم
د یـوه شـخص لـه خوا د نـه منلو وړ خبره ده. زما پـه نظر دا مسـئله لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو څېړنو ته اړتیا لري، ځکه د پټې خزانې د متونو رنګینې او عالي سطح او دقیقه پلټنه په خپله د دغه ارزښتمن کتاب حقانیت او لرغونوالی ثابتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو يادښتونه:

# له ادبياتو سره د تاريخ

# او افسانې په پوله کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بشري تاريخ په بهير کې، چې څومره شاته ځې نو په ګډه حافظه کې شته انځورونه داسې شي لکه يو ماشوم چې په سپينه پاڼه د ېر څه انځور کړي خو تناسب يې په پام کې نه وي نيولي، د ماشوم په تابلو کې به تاسو يو کوتره وګورئ چې له پيل څخه غټه ده او بيزو به په کاچوغه ډوډۍ خوري خو الوتکه به بيا د کوتې دننه الوزي... لويان چې دا تابلو ګوري هڅه کوي د ماشوم په هنري منطق پوه شي او د هر انځوريز عنصر سرحد وټاکي. د تاريخ حافظه زرګونه کاله وړاندې همداسې ګډه وډه ده، له لرغونپوهنې پرته څومره چې په تاريخي رواياتو پورې اړه لري موږ له همداسې ګډوډۍ سره مخامخ کېږو. (دلته دا يادونه اړينه ده چې لرغونپوهنه د تاريخ مادي توکي تر ساينسي څېړنې لاندې نيسي او کار يې پر تجربه ولاړ دی ځکه نو لږ اشتباه کوي، خو د تاريخي پېښو په اړه ځينې روايات چې ساينسي اساس نه لري ډېر د باور وړ نه دي).

يو مهال تاسو يو شمېر تاريخي روايات له ادبياتو، افسانو، اساطيرو او مذهبي متونو سره ګډ موندلای شئ، په دغه ځای کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو سخته ده چې د هرې برخې پوله بېله کړئ. راځئ یو مثال یاد کړو. ګېل ګمېش چې تر ټولو زړو اساطيري موندل شوی متن دی موږ د ادبیاتو، تاریخ، افسانې او مذهبي روایاتو له همداسې ګډون سره مخامخ کوي.

ددغې زړې حماسې دولس ګونې لوحې چې لرغونپوهانو يې متن ترلاسه کړی دوه ارزښتونه لري، یو خو پخپله لوحې دي چې د لرغونپوهنې له نظره په یوه خاص ځای، ځانګړي زمان او مادي جوړښت پورې اړه لري، لرغونپوهنه یوازې د لوحو په لرغونوالي او څرنګوالي کار لري خو د متن محتوا او تاریخ يې بېل ارزښت دی. د ګېل ګمېش په کیسه کې له محتوايي پلوه د بشري ژوند هره ځانګړنه بېلول خورا سخت کار دی. ګېل ګمېش یو قهار، ځواکمن، مستبد او پرځان مین قهرمان دی، هره ناوې چې ودېږي باید او له شپه له ده سره تېره کړي.

اودی په خپل ځواک کې چاته تن نه ورکوي. له بلې خوا انکېدو نيمه انسان او پرخوی ځناور هغه پهلوان دی چې د ژویو شودې روي او له غولانو سره په بیدیا کې څري، ددې لپاره چې انساني خویونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غريزې پيدا کړي د برخليک پر حکم د معبد يوه ښکلې کنچنۍ ورځې او شپې ورځې ورسر ځان لوبوي، انکېدو چې د نجلۍ خوند ګوري نو ښار ته راځي او له ګېل ګمېش سره تر پهلوانۍ وروسته ملګرتيا پېل کوي دا ملګرتيا پر مخ ځي تر دې بريده چې دوی دواړه د ځنګلونو د ساتونکي هېولا جګړې ته ملاتړي او په دې جګړه کې انکېدو وژل کېږي. ګېل ګمېش د خپل ملګري مړينه نه شي زغملای، ژړا او انګولا ډېره کوي او څوک نه پرېږدي چې وژل شوی ملګری يې خښ کړي تردې چې د هغه له پوزې څخه چينجيان راخوځېږي او ګېل ګمېش دا مني چې ملګری بېرته نه راستنېږي، دا پېښه په ځان غره پهلوان ته دا لوست ورکوي چې مرګ حتمي دی او يوه ورځ به دی هم مړ شي، له مرګ څخه ويره او تلپاتې ژوند ته د رسيدو تلوسه ګېل ګمېش دې ته اړ باسي چې بلې دنيا ته سفر وکړي.

او هلته له (اوته نه پېش تيم) څخه، چې د کيسې د روايت له مخې له لوی توپان څخه ژوندی وتلی، د تلپاتې ژوند د راز پوښتنه وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بالاخره په دې پوهېږي چې مرګ حق دی او هر ژوندی مخلوق په مرګ محکوم دی.

دا کیسه که تاریخ ته واړوو نو دومره څه درته وېلای شي چې د زاړه بابل (اوسني عراق) په نینوا کې د ګېل ګمېش په نوم پاچا تېر شوی دی.

که د کیسې افسانوي اړخ وګورو نو ډېر څه دا سې شته چې له تاریخي ارزښت څخه یې افسانوي ارزښت پیاوړی کوي: د ګېل ګمېش، انکېدو، د ګېل ګمېش مور او نور کرکټرونه عادي بشر نه دي بلکې ډېر د ماشومانو په ذهن کې دیوانو او هیولاوو ته ورته دي، کیسه خپل ادبي ارزښت هم لري، په دې کیسه کې کرکټرونه، پېښې، غوټې، تلوسه او پای داسې راغلي چې د یوه هنري روایت ځانګړتیاوې لري او د ژباړې له ژبې څخه ښکاري چې په کیسو کې تشبیهات، استعارې، سمبولونه، تصاویر او نور هنري ارزښتونه هم ښه ډېر دي.

په کیسه کې د اوته نه پیش تیم له خولې داسې روایت دی چې کټ مټ د حضرت نوح علیه السلام کیسې ته ورته ده، نړۍ توپان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوبوي او دی له یو شمېر نورو ژوندویو موجوداتو سره په خپله جوړه کړې بیړۍ کې ژوندی پاتې کېږي دلته نو کیسه مذهبي اړخ خپلوي.

ښه اوس نو زموږ ددې لیکنې اصلي پوښتنه رامنځ ته کېږي او هغه دا چې: « دغه کیسه په ادبیاتو کې راځي او یا میتولوژي (اساطیر) یې وګڼو، تاریخ دی یا د مذهبي متونو یوه برخه؟».

ددې پوښتنې ځواب په تاریخپوهنه، انتروپولوژۍ، ادبپوهنه او میتولوژۍ کې لټولای شو، خو د سپیناوي ځای یې دغه لیکنه نه ده.

دلته به د تاریخ او افسانې د قلمرو پر پوله او په دې کې د ادبیاتو په دریځ خبرې وکړو.

لرغونی ادب له افسانې، اساطیرو، حماسو، عقایدو او تاریخ سره ګډ دی، ویدي سرودونه ګاثونه (ګیتونه) او په مجموع کې اوستا، مهابهارت، شهنامې، په لویدیځ کې ایلیاد او اډیسې، او نور لسګونه آثار یې بیلګې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بر خله تاریخ لیکونکو د خپلو لیکنو پرمهال د تاریخي پېښو د ګونګو ځنډو روښانولو لپاره د هغې دورې ادبي آثارو ته سر ور ښکاره کړی او کله کله خو یې د استناد تر بریده باور پرې کړی دی.

ادبیات چې له تخییل سره ټینګې اړیکې لري، بلکې د بر خله د تخییل مولودوي، په علمي برخه کې استناد نه شي پرې کیدای، خو له شکه پرته چې د لرغونو انسانانو د افکارو، ژوند پېښو، عقایدو، باورونو، ارزښتونو او ټولنیز ژوند په اړه تر ټولو پراخ معلومات را رسولای شي، نو له همدې پلوه لرغوني ادبیات د لرغونو انسانانو د پېژندلو لپاره خورا په زړه پورې سرچینې دي.

هره هغه ټولنه چې داسې لرغوني بډای ادبیات لري نو د مدني ژوند له پلوه په ښه وضعیت کې وي، اروپایي مدنیت د خپلې روښانتیا ریښې د زاړه یونان او روم په فرهنګ کېویني، چې رومي او یوناني ادبیات یې غوره برخه ده که څه هم د منځنیو پیړیو تیارې دورې او د کلیسا حاکمیت دې فرهنګ ته خورا لوی زیان ورساوه خو ویې نه شو وژلای بلکې پخپله یې هومره تر اغیز لاندې راغلل، چې زاړه ادبیات یې د نوی عیسوي اروپا فرهنګ ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورننوتل. چین، هند، مصر، عراق او زړه آریانا هم هماسې د ر واخله، سره له دې چې پر آریانا باندې د مغولو پراخ هجوم هرڅه درې ورې کړل خو نورو بیا تر یوه بریده وساتلای شول.

پښتانه د هر ټولنیز، چاپېریالي یا جوړښتي لامل له مخې چې و، په دې بریالی نه شول چې خپل لرغوني ادبیات په لیکنۍ بڼه وساتي د زړې پښتو لرغوني روایات یا په شفاهي کیسو کې تیت شوي او یا هم ځینې غاړې او ناړې ورڅخه پاتې شوې، چې دې پېښې د لرغونې بډایې ادبي زیرمې له لرلو څخه محروم کړل. داسې ادب چې د تاریخ او افسانې پر پوله ودریدای شي او له نړیوالو آثارو سره سیالي وکړي.

څو عشقي حماسې او افسانې طبعاً چې زموږ دولسي ادب غوره بیلګې دي، مومن خان او شیرینو، آدم خان او درخانۍ، موسی جان او ګلمکۍ، فتح خان او رابیا او نور داسې نکلونه دي چې زموږ ولسي ادب تر یوه حده د تاریخ او افسانې پر پوله درولای شي مګر له لرغوني مدون ادب څخه مو داسې پانګه ورکه شوې ده، یوه نیوکه چې موږ یې تل په خپل معاصر ادبي بهیر لرو هغه د لفظي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویاړونو او شعارونو افراط دی چې نه خو یې حماسي آثار ګڼلای شو او نه حتی ویاړنې، بلکې کلیشه یي نارې سورې دي.

زموږ د تاریخي ابهت او عظمت د بیا احیا لپاره ددغو شعارونو پر ځای همداسې بډای آثار ښایي وپنځول شي چې زموږ راتلونکو نسلونو ته د حقیقي میراني، مدني ژوند ،ملي ویاړونو او تاریخي جلال لاسوندونه او سرچینې شي.

زموږ ډېر معاصر ادب د داسې یو ځو بیلګو خاوند دی، خو لا غځول یې پر زلمي نسل د افغاني هنر او ادب یو پور وګڼئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګاڅونه (ګاتهونه، ګاتونه)

# د افغاني فرهنګ يوه لرغوني پانګه

ګاڅونه د پښتون روحاني مشر سپين تمان زردښت د مذهبي سرودونو هغې مجموعې ته ويل کيږي، چې د اوستا تر ټولو لرغوني برخه جوړوي. که څه هم دغه سرودونه په زړه پهلوي کې د ګاثونو په شکل ليکل شوې خو د (ګاته له تلفظ څخه ښکاري، چې دا هماغه د (ګاڅ) د اصلي تلفظ اوښتی شکل دی ځکه نو موږ په دغه ليکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې له ګات، ګاتهـ، ګات او ګاخ څخه وروستی هغه غوره کوو ځکه تر ټولو دقیق تلفظ په نظر راځي.

معاصر ژبپوهان او د تاریخي ـ مقایسوي ژبپوهنې متخصصین باور لري، چې پښتو تر ګردو هندو اروپایي ژوندیو ژبو څخه ډیره اوستا ته نږدې ژبه ده او مخامخ ورسره ارتباط لري دوی په خپل نظر تردې حده ټینګار کوي، چې که هر څوک غواړي اوستا زده کړي، یا یې وخیړي نو هرو مرو بنایي اول پښتو زده کړي. له همدې امله زموږ په فکر پښتنو لیکوالو او څیړونکو ته دا په زړه پورې او د اشنایي وړ مسله ده، چې د اوستا په یوه خورا مهمه پانګه یعنې ګاڅونو خبر شي. ګاڅونه په ټوله اوستا کې هم هنري ارزښت لري او هم د منځپانګې له نظره فکري او تاریخي بډایه زیرمه ګڼل کیږي.

لکه مخکې، چې ورته اشاره وشوه ګاڅونه زاړه زردښتي سرودونه دي، چې خپل ځانګړی وزن لري. ددغو سرودو قطعات په څپیزو خجیزو ټوټو ویشل کیږي، چې د پښتو ژبې له وزنې سیستم سره پوره ورته والی لري. ټول ګاڅونه ۱۷ هایې (فصلونه) **۲۳۸** قطعې **۸۹۲** شعرونه او **۵۵۲۰** کلیمې دي (پور داود ـ ګاتها ـ چاپ بمبیي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼ فصلونه پيل او پای نه لري ا و ښکاري، چې يو شمير سرودونه د تاريخ له حافظې څخه هير شوي دي.

کلک شواهد وجودلري، چې ټول ګاثونه د زردښت خپلې ويناوې دي، چې دهغه دمريدانو له خوا را غونډ شوي دي ځکه په ګڼو قطعاتو کې دی پخپله دلومړی متکلم شخص په توګه نور مخاطبوي.

دزمان له پلوه دګاثونو دليکلو نېټه پخپله دزردښت د ژوند د زمان په څير دابهام په ګردونو کې پټه ده. پور داود څه کم اتيا کاله وړاندې دګاثونو په هغې مجموعې کې، چې په بمبيي کې چاپ شوې ده، له يوناني مورخينو څخه نقل کوي، چې په يوه روايت ۱۰۸۰ کاله ترميلاد مخکې زردښت ژوندی واو دګاثونو سرودونه هم په همدې کلونو کې رامنځ ته شوي دي (۲۲مخ) نوموړی داهم رانقلوي، چې زردښت په بلخ کې زيږيدلی او همالته يې خپل عقيدوي او فلسفي افکار خپاره کړي. نوموړی په پوره انصاف د خپل کتاب په ۲۲ مخ کې ليکي، چې: «زردتشت.... خود را در گاتها زرتشتر مينامد وگاه نيز اسم خانواده را که سپيتمه باشد افزوده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



میشود زرتشتر سپیتمه این اسم اخیر را امروز سپنتمان ویا اسپنتمان گویم ظاهرا معني آن از نژاد سفید و یا خاندان سفید باشد»

سپین تومن له دوو پښتو کلماتو څخه جوړشوی صفت دی، چې دهغه دواړه سپین (سفید ) تومن (نژاد ) اوس هم معمول او ژوندي کلمات دي. ګاثونه، چې په پینځه ګونو ګاثونو هم ویشل شوي دهرګاتا نوم دادی: اهنود ، اشتود ، سپنتمد ، وهو خشتر او وهیشتواشت.

دلته به ښه وي، چې له ګاثونو څخه څو قطعې په پښتو راوژباړم، البته دیادونې وړ ده، چې دغه څو قطعې په ازاده توګه ژباړل شوي دي او هیڅکله ټکی په ټکی ژباړه نه ده:

- اوهاغسې چې دلومړۍ ورځې په ژمنه کې حکم وشو، څښتن به له دروغجن او ریښتیا پال سره وړ چلند وکړي. همدا راز له هغه چاسره، چې کړنې یې دبدیو اوښېګڼو ګډوله وي، هم حساب کیږي، چې څومره یې سم او څومره یې ناسم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«اهنودګاخ سینا -1-33_»

- هغه څوک، چې له دروغجن سره پخپله ژبه یا فکر یا لاسونو وجنګیده او یا یې خپل ملګري دنیکۍ دین ته راوبلل هغه به دمزدا اهورا خوښي دخپلې ژغورنې لپاره راوپاروي

(اهنود ګاخ یسنا -۲۳۳)

- خو هغوی، چې دبد کرداره واکمنو فرمانونه مني، د هغوی کارو خیال وایمان توراو تباه دی، اروا وې په دوزخې وهم پردروغجن راځي او د درواغو په دنیا کې به تر ټولو اول ځای د دوی وي.

(سپنتمدګاخ -۱۱)

- کومې خاورې ته ورشم، چیرې ځان پناه کړم؟ مشران او لارښوونکي دې له ما مخ واړوي او له بزګرانو هم خوشاله نه یم، د ښار له واکمنو څخه هم خوابدی یم، چې دروغ پلوي دي نو اې مزدا تا به څنګه خوشاله کړم؟

(اشود ګاخ یسنا -۴۶-۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مولانا خادم او نشنليزم

نشـنليزم Nationalism يـا ملت پالنـه د يـوې سيا سـي مفكـورې پـه توگه د يوه ملت د تشخص، پرمختگ او پر ځان متكي كيدو لپـاره د يوه سيا سي تمايل ترڅنگ يو فردي او رواني تمايل هم دى، يعنـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یوازې سیاسي مفکوره نه بلکې یوه رواني غریزه هم ده. دغه رواني غریزه هغه مهال د یوې سیاسي مفکورې په بڼه را ښکاره کېږي چې د سیاست پوهنې، ټولنپوهنې او ولسپوهنې له معیارونو سره سم په ځانګړو چوکاټونو، کړنلارو او منظمو خوځښتونو کې ځای شي.

فرد له ځانه سره مینه لري له کورنۍ سره د تړلو مزي ټینګوی ځکه د ځان تر ټولو نږدې اړیکې یې له دوی سره وي د روحي تړون دغه اړیکه په مخروطي بڼه له ځانه پیل بیا کورنۍ قوم او بلاخره ملت ته پراخېږي، زه غواړم ووایم چې له خپل ملت او ولس سره مینه سیاسي نه بلکه رواني تنده ده.

د تیرو دېرشو کلونو په اوږدو کې سرو - شنو انقلابونو د ډېرو افغاني او ملي ارزښتونو ترڅنګ د افغانانو دغه روحي غریزه هم وځپله او زموږ د افغاني نشنلیزم هغه محرکه قوه چې د هېواد د ودانۍ او د ملت د سوکالۍ د حل لاره کېدای شوه په دې او هغه نامه تر برید لاندې راغله. انقلابونو ډېر ښه او محبوب نومونه او اصطلاحات وسولول او بدنامه یې کړل، انقلاب، ګوند، آزادي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوله، پوهاند ، پروفیسور ، رهبر ، دیموکراسي ، تنظیم او ببلا ببل ایزمونه ځینې هغه اصطلاحات و چې تر سیورو لاندې یې جنایتونه وشول او اوس یې حتی یادول زموږ د بیچاره خلکو خوا راګرځوي. یو له همداسې بد قسمته اصطلاحاتو څخه نشنلیزم یا ملتپالنه هم وه، چې کله ارتجاعی او کپیټالیستي تمایل او کله کله د کفر او غیر اسلامي تمایل په نامه وځپل شوه، حال دا چې له خپل ملت او خلکو سره مینه او د ملت د سوکالۍ او هوساینې لپاره هلې ځلې نه ارتجاعی عمل و او نه هم کفري او غیر اسلامي کار.

د خپل هېواد ، ملت او خلکو قدر هغه وخت زیاد شو چې افغان سرګردانه مهاجر په هر اسلامي او غیر اسلامي هېواد کې روحاً وځپل شول، وشړل شول، خوار او فقیر د پردیو په دروازو کې ودرېدل او ایله په دې وپوهېدل چې خپل هویت څومره ارزښت لري، ددې وطن هر او سیدونکی له ملکه بهر اول افغان دی بیا احمد یا محمود او د کلبي یا مقصود زوی.

ښه نو چې داسې ده، د ملت پالنې غریزه هغه څه ده چې د ملت جوړونې او هېواد جوړونې لومړۍ خښته یې ګڼلی شو. او دا هغه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې ترسرو او شنو انقلابونو ډېر پخوا زموږ یو سترګور، ویښ او متبحر دیني عالم اروانباد مولانا قیام الدین خادم ورته متوجه شوی و. عجیبه داده، چې پر ملت پالنې معتقد ډېر افغان مشران له آره دیني عالمان وو، له پینځو ستورو یې راونیسه تر استاد عبدالله خدمتګار بختاني پورې چې لوی خدای «ج» دې یې تر ډېره راته ژوندی لري.

زموږ په مشرانو کې استاد خادم هغه څوک دی چې نه یوازې پخپله یو عملي ملت پال شخصیت و، بلکې د ملت پالنې یا نشنلیزم پر تیوري او علمي اړخونو، پېژندنه او څېړنه یې کار هم کړی او دغه تمایل یې افغانانو ته ور معرفي کړی هم و.

اروانباد استاد خادم په خپله یوه لیکنه «د ملیت علمي تشریح» کې پر ملیت او بین المللیت باندې بحث کوي او د هغه مهال په فکري چاپېریال کې د دغو اصطلاحاتو تعریف لټوي، استاد یو ځای لیکي:

«د شملې پېړۍ په ابتدا کې لومړی ځل د ملت پرستۍ پلوشې وطن ته راولویدې. د ملت پرستي رڼا د افکارو تنویر د وطن میدان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راووت. تعلیم او تربیه، نشریات او تبلیغات ورو ورو شروع شول...
د قوم پرستۍ بنا د ملت پرستۍ خواته توسعه ومینده تر څو چې
لومړی ځل د ملت پرورۍ عالي او مقدس روح د استقلال په جنګ
کې مجسم تبارز وکړ».
په پورته کرښو کې هغه باور له ورایه لیدای شو چې استاد خادم یې
پر افغاني نشنلیزم او د هغه پر نتایجو لري. استاد د نشنلیزم یا ملت
پالنې پر اغیز غږېږي او نتیجه اخلي چې که د افغان ولس د
افغانیت مینه او حب نه وای دغه ملت به څنګه تر نورو ولسونو
وړاندې خپل استقلال ګټلای وای.
بل ځای د یوه نشنلیست انسان ځانګړنې داسې شماري:
« ملت پرور د ملي سعادت او لوړتیا په مخه کې د وطن د ارتقا او
برم په لار کې له کور، کلي او قوم څخه تېروي، ملي ګټې ته له هرې
یوې بلې ګټې نه ترجیح ورکوي. دا حس چا کې نه شي پیدا کېدای،
تر څو چې پوه نه شي، سترګې یې خلاصې نه شي په خپل او د جهان
په احوال خبر نه شي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا کټ مټ هماغه حس دی چې نن ورته د آب حیات په څېر اړتیا شته د سرو او شنو انقلابونو په بهیر کې شخصي، ګوندي او ډله ییزې ګټې دومره مهمې وې چې افغانستان خو پرېږده حتی د انسانیت او اسلامیت آرونه هم هېر شول د وطن چور او ورانول ځکه مباح ګڼل کېدل چې په سیاستبازانو کې د ملت او وطن د مینې حس نه و.

هر چا خپله ګټه لټوله او ددې لپاره یې د افغان وینه داسې اسانه بهوله لکه د خوړ اوبه.

ددې لیکنې هدف دادی چې د نشنلیزم په اړه د مولانا خادم نسخه همدا نن هم او سبا ته هم ددې ملت رنځ دوا کولای شي.

اول دا چې که نشنلیزم د کفر معادل وای نو ولې د مولانا خادم په څېر ګڼ دیني عالمان او روحانیون پرې معتقد وو؟

دوهم دا چې د استاد خادم په څېر افغانستان دوسته او افغان دوسته شخصیتونو کې د نشنلیزم د حس قوت ډېر طبیعي و، نه سیاسي. هغه مهال د ایډیولوژیو دیکته او تحمیل لا رواج نه و، د استاد خادم د سیاسي مفکورې او تمایل روزنه هغه پخپله کړې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ډېر فکر کړی و، چې د وطن او ملت د ژغورنې لاره کومه ده؟ او بلاخره دې باور ته رسېدلی و چې اول دې له وطن او ملت سره مينه تعريف کړي او بيا دې په ټولو افغانانو کې وروزي. ښايي استاد خادم او د هغه همزولی روڼ اند ه نسل د لومړي ځل لپاره متوجه شول چې يوازې په ادبياتو او سندرو کې د وطن دوستۍ او وطن پرستۍ چيغې سورې کفايت نه کوي بلکې افغانان بايد عملاً خپله وطن پالنه او ملت پالنه زبات کړي. په اوسنۍ نړۍ کې په دې اړه د قضاوت معيار بدل شوی دی، تاسو نړيوالو ته يوازې په شعارونو او ترانو کې ځان ملت پال او وطن دوست نه شئ ثابتولی بلکې اوس د هر ملت لپاره د وطن دوستۍ معيار د هغه ملت د آبادۍ، پرمختګ، رفاه او نړيوال اعتبار سطح ده که يو هېواد ډېر آباد او پرمختللی وي نو ملت يې وطن دوسته دی او که يو هېواد وران، ويجاړ وروسته پاتې او فقير وي نو ملت يې وطن دوست نه شي ګڼل کېدای، ولاو که هر څومره يې په شعرونو او سندرو کې د وطن دوستۍ ډېرې پر سينه وهلې وي. لوی کار د همدغې مفکورې تعميم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه واړه ستوري په تېره بیا استاد خادم، استاد الفت او استاد بېنوا هغه مشران دي چې پخپلو خوږو نثرونو او لیکنو کې یې دې اصل ته پام کړی دی.

د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایې کې که څه هم د افغانستان سیاسي وضعیت ثبات درلوده خو عامه شعور او اجتماعي پوهه خوار ټیټ وو، د بې سوادۍ کچه لوړه وه ،اقتصاد کمزوری و او خلک له سیاسي –ټولنیز فرهنګ سره ډېر نه وو آشنا له همدې امله د نشنلیزم په څېر اصطلاحات خلکو ته ناآشنا وو. د استاد خادم په څېر منلو پوهانو او لیکوالو ته ډېر کار په کار و چې دغه اجتماعي ارزښتونه معرفي کړي، استاد خادم او د هغو همزولو لیکوالو یو امکان درلوده او هغه دا چې د خپل اجتماعي موقف، دیني پوهې او ولسي شخصیتونو له برکته په عامو خلکو کې منلي وو، او د هېڅ ډول بهرني سیاسي ایزم ټاپه نه وه پرې لګېدلې او خلکو پرې باور کاوه.

استاد خادم څنګه نشنلیزم خلکو ته ورپېژانده؟ عجیبه ده، د اجتماعي اصطلاحاتو پېژندنه ځانګړي میتودونه لري او استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم هغه مهال پردې میتودونو پوهېده. په نړۍ کې د نورو موډلونو معرفي او بېلګه يې شننه د دغه کار یوه برخه ده، استاد خادم پخپله یوه لیکنه کې چې د ملیت حس نومېږي د نشنلیزم موډلونه معرفي کوي. استاد د امریکا، هندوستان، پښتونستان او نورو ملتونو مثالونه معرفي کوي او د خپلې لیکنې په پای کې داسې نتیجه اخلي:« دا طبیعي ده چې د بشر یو فرد هغې ژبې سره علاقه او محبت لري چې هغه يې مورنۍ ژبه وي او همدا ژبه له ټولو ژبو څخه مرجحه ګڼي او هغه وخت ځان مسعود او نیک بخت ویني چې خپل قومي غرور د تاریخ په پاڼو کې ملاحظه کړي. ملیت په هر نسل کې خپل موجودیت ساتي او په یوه ځلانده څېره سره ظهور کوي.»

په نوې اروا پوهنه کې له فردي اروا پوهنې ورها خوا یوه اصطلاح شته چې قومي اروا پوهنه يې بولي، قومي اروا پوهنه د هغو ګډو ارکیټایپونو مجموعه ده چې له ارثي پلوه له یوه نسل څخه بل ته لېږدي او آن په فردي تحت الشعور کې یوه لویه برخه جوړوي، فردي شخصیت د ودې په بهیر کې په کلکه د لاشعور له دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسوبي خاطراتو څخه اغیز مني. له کورنۍ، مورنۍ ژبې، قومي جوړښت، نژاد، ملت او هېواد سره مینه مخامخ په همدغو ارثي اخیستنو پورې اړه لري.تاسو د کارل ګوستاویونګ په بحثونو کې د کلتوري او قومي ارزښتونو د انتقال او د قومي تمایل د رواني اړخونو ګڼ شمېر مثالونه کتلای شي ځکه خو موږ ددې کرښو په پیل کې یاده کړه چې نشنلیستي تمایل غریزي او رواني بنسټ لري، زموږ استاد خادم کلونه کلونه پخوا دې ته متوجه شوی و، د استاد دغه کرښې ولولئ.

«که څه هم ځینې مورخان او فلاسفه د ملیت او نشنالیزم مفکورې سره مخالف دي او په امحا کې یې زیار باسي خو سره ددې دوی نه شي موفق کېدلی چې د ملیت حس له منځه یوسي. ځکه چې دا کار د افرادو په ذاتي تمایلاتو متکي دی او لکه څنګه چې خلک د خپل موروثي هېواد «مسقط الراٴس» سره بې دلیله محبت او علاقه لري. همدا رنګه یې د خپل ملیت سره هم لري نو په دې لحاظ ویلی شو چې ددې مفکورې په ضد هر رنګ مقابله کول تاثیر نه شي کولای».

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېره دې نه وي چې له خپل ملت سره مينه او خپل ولس او هېواد ته کار هېڅکله د بل ملت او هېواد يا قوم پر ضد ګام اخيستل نه دي.

د نړيوال کېدو يا (Globalization) په عصر کې هم ملتونو خپل جوړښت ساتلی، د اروپا په لويه وچه کې چې اوس د يوه هېواد په څېر سره يو ځای شوې ده فرانسوي پر خپل فرانسوي توب نازېږي او جرمن پر خپل جرمنوالي وياړي، ملت ملت دی، له ملت سره همدا ليونۍ مينه وه چې له نړيوالې جګړې څخه را وتلې ټوټه ټوټه او ويجاړه جرمني يې د بېرژر د اروپا په لومړي اقتصادي ځواک بدله کړه.

افغانستان هم له جګړې څخه راوتلی، د نړيوالې ټولنې د مرستو د ميليونونو ډالرو بهېر هم ورته را روان دی خو لا هم نه جوړېږي، ځکه موږ له خپل ملت سره مينه نه لرو او د نشنليزم حس مو کمزوری دی.

که څوک دا بهانه کوي چې موږ خو بهرنيان نه پرېږدي چې جوړ شو، دا «عذر بدتر از ګناه» ده ځکه ولې بهرنيانو ته اجازه ورکوو چې موږ له آبادۍ څخه منع کړي او يو بل را باندې ووژني، موږ که پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېـواد او ملـت مـین وای او د هـر سیاسـي حرکـت هـدف مـو د افغانستان او افغان هوساینه او آبادي وای بیا خو بهرنیو دا لـوبې نه شوې را باندې کولای.

نشنلیزم له بل سره دښمني نـه ،بلکـې د ځـان آبـادي ده. د نشـنلیزم بـل منطق دادی چې تر هغو ټول قـوم نیکمرغـه نـه شي فـردي نیکمرغـي ناممکنـه ده. تاسـو بـه ښـکلی کـور ولـرئ، پـه ښـکلي مـوټر کـې بـه ګرځئ، پـه بانـک کـې بـه ډېرې پیسـې ولـرئ خـو همـدا چـې ښـار تـه راووځئ او د سوالګرو کتار وګورئ نو وجدان به مو وځورېږي چې د ښار سړک ویجاړوي نو ستاسو ښکلي موټر ته به تاوان ورسوي او ستاسو ښکلې جامې به په ختو شي، خاورې به تنفس کړئ او په یوه ویجاړ روغتون کې به مو علاج ونه شي.

داپه دې مانا چې فردي نیکمرغي هم په ملی نیکمرغـي کـې نغښـتې ده او د ملـي نیکمرغـۍ د رامنځتـه کېـدو لپـاره هانـد او هڅـې د نشنلیزم او ملت پالنې د روحیې پر اساس رامنځته کېږي هغوی چې په سروشنو انقلابونو کې ځانونه وپړسول او نړیـوال بانکونـه یـې لـه خپلو پیسو ډک کړل دغه اصل ته نه دي متوجه شوي، چې تر څو یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک نه وي نیکمرغه شوي دوی او کورنۍ یې نه شي نیکمرغه کېدای، او دادی د افغاني نشنلیزم حکم.

له پورتني بحث څخه داسې پایله اخلو:

استاد خادم د یوه متبحر دیني عالم په توګه نشنلیزم را پېژنده او د ملتونو د نیکمرغۍ او رفا لپاره یې د هغو معنوي سرچینه ګڼله، استاد باور درلوده چې هېوادونه یوازې د دوستۍ په شعارونو نه بلکې له ملت او هېواد سره د کلک محبت او مینې پر اساس د عملي هلو ځلو په پایله کې ودانېږي.

ملت پالنه کومه را تپل شوې سیاسي ایډیولوژي نه بلکې په افرادو کې یو ذاتي تمایل او رواني ځواک دی. ځکه خو انسان فطري ملت پال او هېواد دوست وي.

اوس چې افغانستان له ملي پلوه ډېرې ستونزې لري او خدای مکړه بیړۍ یې ډوبه ده، یو ځل بیا ډېرو ملي مرشدانو ته اړتیا لرو چې د استاد خادم په څېر را پاڅېږي، په قلم، قدم او درهم ملت راویښ کړي، رالوییدونکی نسل په دې وپوهوي، چې دوی هم یو هېواد لري چې افغانستان نومېږي، دوی هم یو ملت لري چې افغان ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایـي او دوی بایـد د افغـاني نشـنلیزم پـر ګانـه سـینګار د ودانـۍ معرکې ته ور ګډ شي. افغان نسل ته په تېر تاریخ تش ویاړونه روزي نـه ورکـوي او پـه ادبیـاتو او سـندرو کـې د ملـت پـالنې او هېـواد دوستۍ شعارونه کافي نه دي بلکې د افغاني ملت پالنې پر روحیه سمبال نسل باید یو شمېر داسې عملي میکانیزمونه رامنځ تـه کړي چې د هغو پر اساس وران افغانستان ودان او ځوریدلی ملت هوسا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد الفت یو نثر، یوه دنیا خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د استاد الفت پر نثري ليکنو ګڼې ليکنې شوي، زه غواړم د بيلګې په توګه د هغه يو نثر راواخلم او د بلاغت او اجتماعي پيغام رسولو د کمال له نظره پرې يوه لنډه تبصره وکړم، ځکه موږ د تاريخ په يوه داسې مرحله کې ژوند کوو چې تر هر څه ډېر ټولنيزې اصلاح او د اجتماعي شعور لوړولو ته اړتيا لرو، زموږ ډيرې بدبختۍ زموږ د ګډې شعوري سطحې له ټيټوالي څخه رازيږي. ادبيات او په ادبياتو کې د استاد الفت په څېر د يوه دراک ليکوال پاخه، منطقي او بليغ نثرونه د داسې اصلاح تر ټولو ښه وسايل دي، نن سبا د عامه پوهاوي Public Education لپاره داسې مواد په نړيواله سطح اهميت لري. ممتاز ادبي نثرونه يوازې د ښه پيغام رسولو له نظره اهميت نه لري، بلکې هنري ارزښت يې په دې کې وي چې د نظر وړ پيغام څنګه رسوي، په بله ژبه په کومو ادبي ارزښتونو يې پسولي. زما د نظر وړ نثري ټوټه (جګ برجونه) نوميږي چې دلته يې رانقلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د كلا برجونه او دېوالونه ډېر جګ و، د كلا شاوخوا ته خندق ډېر ژور و، له دغه ځګوالي سره دغه ټيټوالی تړلی و او د لوړتيا راز په همدغه كنده كې پټ و، تر څو چې يو ځای ډېر ژور نه شي د چا برجونه نه جګېږي. ديوه لوړېدل او د بل ټيټېدل يو له بله تړلي دي، دا جګ برجونه هر چا له لرې ليدل مګر دا لويه كنده له لرې چا نه ليده او د نژدې خلكو هم ډېر پام ورته نه و.

زموږ سترګې له ډېر لرې ځايه لوړ ځلي او جګ برجونه ويني مګر ژورې ځاګانې او لويې كندې څو قدمه هغه خوا نه ويني.

د دې هسكو دېوالونو او لوړو برجونو خټه له همدغه ټيټ ځايه اخيستل شوې ده، دا خټه د سندا له پښو لاندې پخه شوه او ډېرو خلكو په لتو ووهله بې له دېنه دا دېوالونه او برجونه نه لوړېده.

يوه لوړ مقام ته رسېدل دغه راز كارونه په مخكې لرې او ټيټ همدغسې جګېږي، د دنيا جاه و جلال عزت او منزلت هماغه لوړ برجونه دي، چې سرګذشت يې له ډېر ټيټ ځايه شروع كيږي. كوم سر چې د ډېرو خلكو په مخكې په تعظيم ټيټ نه شي نور سرونه ورته په احترام نه ټيټېږي، هغه چې بل ته لاس په نامه نه وي ولاړ نور ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس په نامه نه دریږي، دا هغه پور دی چې سړی یې یوه ته ورکوي او له بل نه یې غواړي.

که دا خبره تاسو منلې نو راشئ، د خان نوکران وګورئ ! هغه چې د خان په مخکې خپل سر ډېر ټیټوي په نورو باندې تفوق لري او درجه یې لوړه ده هغه آس چې د ارباب د سپرلۍ د پاره په کمند کې ولاړ دی له نورو اسونو نه ډېر قدر لري او میتران یې ډېر ښه خدمت کوي.

که موږ حقیقت ته ځیر شو عزت ډېر ځله په ذلت ګاټه شي او باداري د غلامۍ نتیجه ده، ډېر خلک شته چې د شخصیت د ګټلو د پاره خپل شخصیت له پښو لاندې کوي او د عزت د پاره عزه النفس قربانوي.

څنګه چې دهقانان غنم په خاورو کې شیندي او بیا د غنمو درمندونه اخلي دوی هم عزت او شخصیت له خاورو لاندې کوي او دې ته یې منتظر وي.

په دنیا کې ډېر لږ کسان دي چې خپل فطري او طبیعي لوړوالی په بل شان ساتي او د لوړو برجونو غوندې نه دي بلکې د غرو له جګو څوکو سره شباهت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا له قديمه دود و، چې د لوړو دېوالونو خاوندو کلاګانو به په خپله شا او خوا کې خندقونه هم درلودل، خندقونه به د دښمنانو د يرغل پر مهال د هغوی مخه نيوله، د لويو بالاحصارونو پر شا او خوا هم لوی لوی خندقونه راګرځېدلي وو، استاد الفت موږ ته د دغه تشبيهی مثال په را په يادولو خپله مفکوره هم را پېژني او وايي چې لوی د دېوالونه څکه لوړ دي چې تر څنګه يې خندقونه ژور دي يعنې هغه خلک چې لوړ شوي خامخا يې ځينې خلک واړه کړي چې نظر هغو ته دوی لوی ښکاري، د استاد الفت د خبرې يوه مانا دا هم ده چې د ځينو خلکو عزت د نورو په ذلت کې وي د استاد الفت هدف هغه مصنوعي وقار او حيثيت دی چې ځينې خلک يې د نورو په ذليلولو او خوارولو کې ګټي، زموږ په ټولنه کې ډېر داسې خلک شته چې د نورو په وژلو، لوټولو، ځورولو او خوارولو، لوی شوي، مهم شوي، او واک و ځواک ته رسيدلي. دا په حقيقت کې هماغه کاذبه لويي ده چې استاد الفت ورته اشاره کړې ده، د استاد الفت د منطق او استدلال يوه ښېګڼه، ځانګړنه او خوږوالی په دې کې دی چې هڅه کوي خپل خلک په داسې مثالونو پوه کړي چې د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره د پوهاوي وړ وي، خلک ورسره اشنا وي او په ورځني ژوند کې ورسره سر و کار ولري، آن نالوستي او عام خلک هم پرې پوه شي، وګورئ، برجورې کلاګانې، د هغو تر څنګ خندقونه د سنډا له پښو لاندې د ختو پخېدل او بیا ورڅخه دېوالونه او برجونه جوړول هغه څه دي چې د افغانستان خلک یې پېژني او په اسانۍ سره یې تصور کولای شي، استاد الفت د نیویارک او پاریس ماڼۍ ګانې او برجونه نه دي ښودلي، ځکه بېچاره افغانان له هغو سره نه دي بلد. د استاد نور مثالونه هم محلي او اشنا دي: خان او د هغه نوکران، دخان آس، کمند ، میتران، دهقانان، درمندونه او د غرونو جګې څوکې دا ټول د هغه د عالي منطق لپاره ساده او عام فهمه مثالونه او په زړه پورې تشبیهات دي. د استاد الفت استدلال دا دی چې د هېواد او ټولنیزو ازرښتونو اصلي ساتونکي خلک دي، سره له دې چې له لرې څخه یوازې لوړ دېوالونه ښکاري، یعنې ټول هغه کسان ویني چې په لوړو څوکیو ناست دي، فکر کیږي چې هر څه دوی کوي حال دا چې د کلا (کېدای شي د ازرښتونو سمبول وي) په ساتلو کې نه یوازې دېوالونه بلکې خندقونه (عادي خلک) چې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليدل کيږي هم د ډېر رول او ونډه لري. او عجيب دا ده چې د ډېوالونه دورانېدو او رالوېدو وړ دي مګر خندقونه تر ډېوالونو ډېر د اطمينان وړ دي.

د استاد الفت منطق دا دی چې: ((يو لوړ مقام ته رسېدل د غه راز کارونه په مخکې لري او ټيټ همد غسې جګيږي يا د دنيا جاه و جلال، عزت او منزلت هماغه لوړ برجونه دي چې سر ګذشت يې له ډېر ټيټ ځايه شروع کيږي.)) دا خبره دوه بېل بېل پېغامونه درلودای شي، يو دا چې تر هغو ذلت و نه منې او بل ته ټيټ و پاس نه شې لويي نه شته، په دې کې يو تريخ طنز او اجتماعي انتقاد نغښتی دی، يعنې له بده مرغه زموږ ټولنه په ارزښتونو نه ده ولاړه بلکې غواړه ماري، چاپلوسي او بې ځايه ټيټ و پاس کېدل يو ځای ته د رسېدو وسيله ده، ځکه خو استاد الفت وايي: ((کوم سر چې د ډېرو خلکو په مخکې په تعظيم ټيټ نه شي نور سرونه ورته په احترام نه ټيټيږي. هغه چې بل ته لاس په نامه نه وي ولاړ نور ورته لاس په نامه نه دريږي. دا هغه پور دی چې سړی يې يوه ته ورکوي او له بل نه يې غواړي)) استاد الفت په خپل دې استدلال کې په غير

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستقیم ډول وایي چې باید د لوېدو او مقامونو ته د رسېدو وسیله چاپلوسي او ټیټ پاس کېدل نه وای بلکې لیاقت، پاکي، استعداد او تخصص وای، ځکه هغه څوک چې استعداد، توانایي، پوهه او تخصص لري د مصنوعي او په لاس جوړ شویو برجونو غوندې نه دي بلکې((د غرو له جګو څوکو سره شباهت لري)) چې هیڅ ځواک یې نه شي را پرزولی.

خو د استاد الفت استدلال یو بل اړخ هم لري او هغه د دې لیکنې دوهم پیغام دی چې په نامستقیم ډول ورڅخه څرګندیږي، دغه مثبت پیغام داسې تفسیرولای شو چې: ټول ستر خلک او لوړ مقامات یو وخت واړه وو، دوی زحمت او خواري ایستلې، ځان یې ستومانه کړی د استاد الفت په اصطلاح د وخت د سندڼاګانو له پښو لاندې یې ځان پوخ کړی څو دغې درجې ته رسیدلي دي، یعنې تر څو خواري، زحمت او کوشش و نه کړو ځان لویو او هسکو موقفونو ته نه شو رسولای استاد په اخرو کرښو کې دې ته هم غیر مستقیم اشاره کوي چې په زحمت، زیار، کوشش، استعداد او تخصص یو ځای ته رسېدل د ختېښو دېوالونو په شان مصنوعي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاذب لوړوالی نه دی بلکې د غرونو د هسکو څوکو په شان لوړېدل وي چې د زمان هیڅ جبر یې نه شي راپرځولی.

د استاد الفت له دغې لیکنې څخه موږ یو بل واقعیت هم موندلای شو، سره له دې چې لیکوال دې ته هیڅ ډول مستقیمه اشاره نه کوي خو د ښه ادبي اثر ښېګڼه دا ده چې موږ په کې راز راز حقایق موندلای او تفسیرولای شو: موږ افغانان له بده مرغه ډېره سرمایه، بشري قوه، وخت او نور امکانات د لویو لویو کلاګانو او برجونو په جوړولو لګوو، حال دا چې د جریبونو جریبونو لویې کلاګانې موږ ته هیڅ ډول اقتصادي ګټه نه رسوي، بلکې موږ تاواني کوي هم، موږ د سیالۍ او ناسمې همچشمۍ له لاسه لوړې کلاګانې جوړوو خو په کې د ټیټې سطحې ژوند کوو، پوهه مو د ختو له خندقونو څخه هم ټیټه ده، په لوړو کلاګانو او برجونو کې د ژوند ډېر ټیټ امکانات هم نه لرو، کېدای شي په ډېرو لوړو کلاګانو کې محصورې افغانانې د جامو مینځلو یالاس و مخ پاکولو لپاره صابون هم ونه لري او په کلاګانو کې د محصورو ماشومانو لپاره د لوستلو کتاب خو لا څه کوې چې یوه ټوټه کاغذ به هم نه وي چې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورڅخه زده کړي.بله مسئله دا ده چې زموږ برجونه او دېوالونه زموږ د دښمنیو شاهدان دي، له دې ښکاري چې د جګړې، بدیو او وژنو، حملو او دفاع کولتور په موږ کې تر ټولو زورور دی، هر بهرني ته موږ په لوی لاس ثابتوو چې موږ د بدیو او جګړو خلک یو، ډاربږو ځکه نو ځانونه په لویو کلاګانو او برجونه کې ساتو زموږ د کلاګانو برجونه تیرکشونه (د ډزو لپاره سوري) هم لري او دا د دې نښه ده چې موږ له دې تیرکشونو څخه خپل دښمنان په نښه کوو.

د استاد الفت د نثر کمال دا دی چې د دې په شان ګڼ تفسیرونه ور څخه کېدای شي، استاد الفت پخپله نتیجه نه اخلي، هیڅ پایله اخیستنه Conclusion نه ورکوي، بلکې خپل پوخ استدلال داسې ارائیه کوي چې موږ په خپله ورڅخه نتیجه واخلو، موږ یوازې په همدې تیر لنډ بحث کې دوه درې نتیجې واخیستې او هر فکر ورڅخه خپله خپله پایله ترلاسه کړه.

د استاد الفت په نثر کې تصویر نګاري هم د پام وړ ده، استاد الفت خپله لیکنه داسې پیل کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«د کلا برجونه او د بېوالونه ډېر جګ وو، د کلا شا و خوا ته خندق ډېر ژور و.»

د ایو ساده خو روڼ عیني تصویر دی، زمو ږذهن مخامخ له یوې دنګې کلا او د هغې له خندق سره اشنا کوي، بیا پرته له دې چې د تشبیه کوم ارتباطي توری و کاروي خپل تز (د بحث اصلي موضوع) را وړاندې کوي:

«له دغه جګوالي سره دغه ټیټوالی تړلی و او د لوړتیا راز په همدغه کنده کې پټ و....»

دوه جملې وروسته استاد د خپلې لیکنې زمانه بدلوي او له ماضي څخه حال ته راځي:

«زموږ سترګې له ډېر لرې ځایه لوړ ځلي او جګ برجونه ویني مګر ژورې ځاګانې او د لویې کندې ژور قدمه هغه خوا نه ویني.»

د استاد په دې کار کې هم یو کمال دی، دی موږ (لوستونکی) هم ځان سره شریکوي یعنې لیکنه له یوازې روایتي حالت څخه استدلالي حالت ته را اړوي موږ په دغه اوښتون کې وینو چې لیکوال ناڅاپه موږ هم له ځانه سره شریکوي او د جمع متکلم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازیتوب بحث کوي. څو جملې وروسته لیکوال مور مخاطب کوي او لیکي «که دا خبره تاسې منلې نو راشئ، د خان نوکران وګورئ...» په لنډو ادبي نثرونو کې د کلام دا ډول اوښتون یو په زړه پورې تخنیک دی، زه فکر کوم په دې توګه د کلام له تکراري حالت او ساړه روایت څخه مخنیوی کیږي، او متن پخپله د یوه ژوندي متکلم په توګه له مور سره خبرې کوي، کله مور له ځان سره ملګرې کوي چې شهادت ورکړو، کله خطاب راته کوي او کله کله کیسه راته کوي، د فصاحت په اړه د یوه ښه خطیب کمال د ادی چې خپل مخاطب له ځان سره ولري، کله کله پوښتنه ورڅخه وکړي، کله یې د خپلو خبرو سموالي ته متوجه کړي، مور کله کله په ورځنیو ډیالوګونو کې خپل مخاطب ته وایو، همداسې نه ده؟ ته څه فکر کوې؟ که ته هم زما په ځای وای... او نور دا د دې لپاره چې خپل مخاطب ته د خبرو جدي والی وښیوو، استاد الفت همدا کار په نثر لیکنه کې کوي او په دومره مهارت یې کوي چې پرته له دې چې د لیکنې عادي بهیر ته زیان ورسیږي لوستونکی له ځان سره ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما له نظره د استاد الفت د نثرونو ډيرې بيلګې د داسې شننو وړ دي، چې زلميو نثر ليکونکو ته د زده کړې تر ټولو عالي مواد دي، موږ کولای شو د اروانباد استاد له راپاتې ميراث څخه د ښو ليکنو ډېر کمالات زده کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آیا «د تخت غمی» یوه حماسه ده؟

((د تخت غمی)) د اروابناد مصطفی جهاد هغه ناول دی چې په ۱۳۶۹لمریز کال کې د لیکوالو ټولنې له خوا خپور شوی دی، دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناول د ۱۳۲۸ لمریز کال لومړۍ درجه ادبي جایزه هم گټلې ده، او له ځو اړخونو د تبصرې او نقد وړ دی، خو زه غواړم دد غې تاریخي کیسې پر جوړښت له یوه اړخه وغږېږم او هغه دا چې د معاصرې ادبپوهنې له نظره دغه ناول یوه حماسه گڼلی شو که نه؟ د یوه اثر د حماسه گڼلو یا نه گڼلو لپاره یو شمیر معیارونه شته چې د هغو له مخې پر اثر قضاوت کیږي او تردې مخکې چې مونږ ددې معیارونو له مخې د داستان (حماسه) توب وارزوو، ښه به دا وي چې د کیسې پر لنډیز وپوهیږو:

د ناول لنډیز: کاکه شیر د کابل په زاړه ښار کې یو زرگر دی چې د زرگرۍ تر څنگ یو کاکه (عیار) او زړور ځوان هم دی له پلاره ورته ښه پانگه په میراث رسیدلې ښځه او یو زوی هم لري، په عسکرۍ کې یې بالاحصار لیدلی او په جنگي رموزو پوه دی. د داستان وخت د امیر محمد یعقوب خان (د امیر شیر علي خان زوی) د پاچاهی زمانه ده او په بالاحصار کې د ډارن امیر تر څنگ د انگریزانو واکمن جنرال (کیوناری) هم حضور لري د افغانستان خلک په خاصه توگه د کابل – لوگر او غزني مجاهدین عمومي قیام ته آماده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، کاکه شیر په خپل دوکان کې زرګري کوي، چې ناڅاپه پر یوې
خریدارې کوچۍ پیغلې زړه بایلي او کوچۍ پیغله (لښته) هم هغه
ته د مینې اشارې کوي، هغه چې د یوې چمکلۍ اخیستو ته راغلې
په کنایه پوښتنه کوي، چې دا چمکلۍ ولې دومره قیمته ده؟ څه د
امیر د تخت غمۍ خونه دی په کې لګیدلی؟! کاکه شیر ورته وایي:
بس یوه اونۍ وخت راکړه زه به درته د امیر د تخت غمۍ راوړم او په
چمکلۍ کې به یې ولګوم، کوچۍ یې ورسره مني او ځي. شیر سبا
شپه تکي تنها پر بالاحصار ورخیژي او په داسې حال کې چې پر
چاړه، سیلاوه او توره مسلح دی خو انګریزي ساتونکي وژني،
افغاني سرتیرو ته وایي چې زه یوازې انګریزان وژنم خو تاسو له ما
سره کار مه لرئ، شیر په پټه پټه او چریکي جنګ ځان د امیر د
خوب کوټې ته رسوي او هلته ګوري چې په تخت باندې غمۍ نه شته
او ددې پر ځای د امیر د ښځې غاړه کۍ پر میز ایښې ده. شیر خو په
غلا پسې نه دی راغلی چې ټوله غاړه کۍ یوسي نو یوازې غمۍ
ترې راباسي، د وروستي غمۍ د راویستو پر مهال امیر راویښیږي
خو شیر یې پر چاړه ګواښي چې غږ مه کوه، د امیر ژبون وهل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شیر چې کار خلاصوي له مانېږ څخه وځی مګر له بالاحصار څخه د راوتلو پرمهال له ګڼو انګریزي ساتونکو سره لاس او ګریوان کیږي، که څه هم ښه په نره جګړه کوي خو دی یو او انګریزان ډېر دي نو نیسي یې او مخامخ یې کیوناري ته وروليږ. کیوناري یې زړه ورتیا ته حیرانیږي او امر کوي چې بندي یې کړئ، دوه سرتیري ورسره روانیږي خو شیر د لارې په اوږدو کې دواړه وژني او تښتي، شیر د ملکې له غاړه کیږ څخه په راوړیو غمیو د کوچیږ لښتې چمکلیږ ښکلې کوي او بله اونیږ یې ورکوي کوچیږ د شیر له دې کاره هومره حیرانیږي، چې مخامخ ورته د مینې اظهار کوي، شیر وعده ورکوي چې پلار ته یې جرګه ورشي، خو د لښتې پلار نه راضي کیږي، شیر او لښته په پټه د یو ځل لیدو وعده ورکوي، خو په همدې ورځ د شیر ایکی یو زوی(ببری) مړ کیږي او بله ورځ د افغان انګلیس دوهمه جګړه پیل کیږي، شیر چې لا وار د مخه د غازی محمد جان خان وردګ له لوري د جګړې لیکلې بلنه ترلاسه کړې، پر بالاحصار د حملې د اصلي لښکر مشرتوب په غاړه اخلي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جګړې په ټوله موده کې شیر په پوره میړانه جنګیږي او له ځانه ډېر داستانو نه پرېږدي.

او کله چې د امیر عبدالرحمن په راتلو او د میوند له سترې فتحې سره د افغان-انګلیس دوهمه جګړه ظاهراً پای ته رسیږي له کاکه شیر څخه غازي شیر جوړ شوی وي، د لښتې له غم او بیلتونه اوږدې څپې او ږیره پرېږدي، یوه شپه یې کور ته غل راځي او کله چې شیر له پیش قبضو سره پرې حمله کوي څه ویني چې یو کوچی ځوان دی او د مرګ په شیبو کې ورته وایي چې د واده د خرڅ لپاره یې غلا کوله. شیر د هغه په ټپونو درمل ږدي او له مرګه یې ژغوري او څه پیسې د واده لپاره ورکوي. کوچی زلمی خوشالیږي او هغه ته په واده کې د ګډون بلنه ورکوي، شیر ورځي چې ګوري د لښتې د خور واده دی، د واده په جریان کې چې زوم او نارینه ټول د زیارت لپاره وځي لښته پټه پټه ځان شیر ته رسوي او ورته وایي چې ماتاته ننګ راوړی او مابه له دې ځایه تښتوې، شیر چې ګوری لښته پرې له سره تیره شوې او غږ یې پرې کړی، همدا سې یې پر آس سپروي او دواړه د ماښام په خړه کې ورکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تخت غمی کیسې تفصیل په منظره نګارۍ او توصیف کې دی پیښه هومره لویه نه ده او د داستان د کرکټرونو رواني جزئیات هم ډیر نه دي بیان شوي بلکې ډیر تفصیل د کاکه شیر د زړه ورتوب، د لښتې بې حده ښکلا او د انګریزانو په وړاندې د افغانانو د شهامت او میړانې په هکله دی. اوس به راشو دې ته چې آیا دغه ناول یوه حماسه ده او که نه؟

سرمحقق زلمی هیواد مل په خپله یوه لیکنه کې چې د پښتو په ادب کې د حماسو په اړه یې د ادبیاتو د ماسترۍ کورس ته د درسي لکچر نوټ په بڼه لیکلې ده د حماسې د تعریف په برخه کې لیکي:

((حماسه د ادبیاتو په موضوعي یا معنوي ډولونو کې یو ډول دی، چې د یو ملت، قوم، قبیلې او یا شخص د میړانې او تورې کیسې او جنګي کارنامې په حکایتي ډول بیانوي... که په حماسه کې اتل یو شخص، یوه قبیله او یا یو ملت وي، اما شرط پکې دادی چې د شخص، قبیلې، قوم او ملت کارنامې، تورې او میړانې به یې په داستاني شکل بیان کړې وي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه تعریف له مخې مور کولای شو د تخت غمی یوه حماسه وګڼو او هغه ځکه چې په کیسه کې د کاکه شیر میړانه (د شخص د کارنامې په حیث) بشپړه بیان شوې ده او که (داستاني والی) یې یوه ځانګړتیا وي نو هم د تخت غمي یوازې د میړانې او حماسیت ستاینه نه بلکې د یوه کامل داستاني جوړښت خاوند اثر دی. همدا راز د تخت غمی د ټولو افغانانو د میړانې او توري د تاریخي کارنامو یوه برخه را اخلي او د افغان-انګلیس د دوهمې جګړې یوه ځنډه بیانوي چې د دغې کیسې له لید لوري څخه د کاکه شیر کرکټر د هغې اصلي اتل دی.

د هدف له مخې د تخت غمی حماسه د یوه عالی هدف لپاره پر مخ ځي، یرغلګر انګریز ته خپل زور ښوول، ډارن امیر ته اخطار ورکول او د خپلې معشوقې لپاره خپل هوډ پوره کول، که څه هم د سر په بیه وي. د حماسې په تعریف کې ویل شوي چې ضرور نه ده په حماسه کې ترسره شوې جګړې دې خامخا د عالي هدف لپاره وي، په تاریخي حماسو کې د ایلیاد او اډیسې حماسې له تړای سره د یونان د تاریخي جګړې کیسې بیانوي چې د یوې ښځې (هلن) پرسر پېښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې ده. هلن چې د یونان په دربار کې یوه ښکلې میرمن وه د ترای له شهزاده (پاریس) سره وتښتیده، یونانیانو ددې لپاره چې له پاریس څخه کسات واخلي ټول ترای یې وسوزاوه، نارینه یې ووژل او ښځې یې د مینځو په توګه له ځان سره بوتلې، هدف عالي نه دی خو په جګړه کې د اشیل (Achilles) اکلیز، اخلیوس) اډیسې او نورو یونانیانو د جګړو کیسې په حماسي ډول بیان شوي دي. د مهابهارت په اتم پرب (فصل) کې د کرن اوارجن د جګړو مبالغه آمیزه کیسه راغلې، دا دواړه سره تربرونه دي، بالاخره هدف د قدرت ګټل دي چې یو تربور یې د بل په وژلو ترلاسه کوي مګر دغه حماسه نه یوازې د حماسې په توګه یو ادبي – تاریخي اثر دی، بلکې خپل مذهبي ارزښت هم لري. له دې څخه ثرګندیږي چې په حماسه کې د جګړو هدف ډیر مهم نه دی، آن دا مهمه نه ده چې د حماسې قهرمان دې خامخا عالي او نیک شخصیت ولري، د بیلګې په توګه د ګبل ګمبش په تاریخي حماسه کې پخپله ګبل ګمبش یو مستبد او ظالم پاچا دی، دی عادت لري چې تر ځان زورور نارینه ژوندی نه پریږدي او هره ناوې د واده په شپه مخکې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې چې له خاوند سره کور ته ولاړه شي نو لومړۍ شپه باید لـه ګېـل ګمېش سره تیره کړي، خلک د هغه له دې ظلم څخه پکودي،د هغـه دوست (انکیدو ) هم یو دیو صفته بنیادم دی، تردې مخکې چې لـه ګېل-ګمېش سره اشنا شي په بیابان او ځنګل کې اوسي، لوی لوی ځناور یې دوستان دي او دی له ځارویو سره څري او اوبه څښي.

وروسته بیا د معبد یوه بدلمنې ښځه په خپل معاشرت سره هغـه ځانته متوجه کوي شپږ ورځې ورسره په یوه بستر کې لوبیږي ترڅو انکیدو انساني ژوند تـه متوجه کوي، ګېل ګمېش او انکیدو یـو ځـای د رس (یـو ډول ونـه ) ځنګـل تـه ځي چې دغـه ونـې وریبـي او د ځنګل لـه رب النوع سره جګړه وکړي حماسه د همدغو جګړو، د انکیدو د مرګ او پـه هغـه پسې د ګېل ګمېش د ژړاګانو کیسـه ده، هیڅ عالي هدف او نیک کرداره قهرمان نه لري مګر کیسـه حماسـه ګڼل شوې، بلکې تر ټولو زړه را پاتې لیکل شوې حماسه هم ده.

له دې نظره د تخت غمی حماسه یو څه متفاوته ده، کاکه شیر د ښه خـوی، عـالی سـجایاوو لرونکـی اتـل دی او د عـالي هـدف لپـاره جنګیږي دا طبیعي ده چې د عالي هدف لپاره جګړه او د نیک خویـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قهرمان موجودیت یوه حماسه له رواني پلوه عام پسنده کوي، خو دا یو ضروري شرط نه دی.

د حماسو یوه بله ځانګړنه داده چې اتل (اتلان) به په کې غیر عادي او آن غیر طبیعي عادتونه لري مبالغه آمیزې پېښې به په کې پېښېږي له دې نظره د تخت غمی هم څه داسې پېښې لري مثلاً کاکه شیر هیڅ کله ټوپک نه کاروي، دده په نظر له ټوپک څخه استفاده بې غیرتي ده، دی خپل دښمن له لرې نه ولي، بلکې غواړي لاس په ګریوان جګړه ورسره وکړي او په اصطلاح نارینتوب ورسره معلوم کړي، د همدې لپاره د جګړې په وخت کې سره وسله یعنې پیش قبضه، سیلاوه، توره او چاړه کاروي.

او کله چې په بالاحصار ورخیژي نو په همدې وسلو ګڼ شمیر ټوپک پر لاس انګریزان وژني، چې دا کار د عادي انسان له توانه پوره نه دی. له بلې خوا د حماسو د یوې بلې ځانګړنې له اړخه چې معمولاً د حماسو اتل (یا اتلان) په یوه سخت کار پسې سفر کوي، مثلاً د ښامار د وژلو لپاره، له هندوستانه د خزانې د راوړلو لپاره یا په اډیسې کې له سمندري دیوانو او غلو سره د جنګ لپاره، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګیلګمش کې د رب النوع د وژلو لپاره او د اسې نور، د تخت غمی هم له همدا اسې یوه سفر څخه پیلیږي که څه هم د واټن له مخې دغه سفر اوږد نه دی او د نورو حماسو پر عکس هدف ډیر نږدې (د کابل بالاحصار) دی مګر هوډ او د هدف اجرا ډیر سخت دی، په یوازې ځان د ګڼو انګریزي او افغانی ساتونکو پر ډلو ورننوتل، د بالاحصار پر دیوالونو ورختل، د پاچا د خوب کوټې ته ځان رسول او د هغه له تخت څخه د غمیو راوړل ډیر سخت کار دی.

په دغې حماسه کې منفي کرکټرونه هم شته؛ امیر محمد یعقوب خان او یا د داستان په ژبه ځینې خائن سرداران، کیوناري او انګریزي منصبداران ځینې کسان چې په دروغ او ټګۍ د وطن ګټې پلوري دا ټول د منفي کردارونو لرونکي دي.

د ګڼو حماسو په څیر د تخت غمی اتل ډېر ځواکمن، زړه ور او پهلوان دی. د هغه د دغو اوصافو ستاینه ځای ځای ګورو، یوه بیلګه یې په یوه کرښه کې ګورو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((کاکه شیر که څه هم چې یو توریالی پهلوان، په غیرت مین ځوان و، خو ددې تر څنګه یې زرګري کې هم له خپل پلاره څه کمی نه و...... )).

همدا راز د هغه ((د سپین خیالی آس)) تقریباً یو فوق العاده حیوان دی چې ډېر ځله له قهرمان سره مرسته کوي. د داستان اتله (کوچۍ لښته) هم د کوه قاف له ښاپیریو ډېره ښایسته ده د هغې د ښکلا د ستاینو یوه برخه ولولئ:

((لښته..... ځومره ښکلی نوم، کټ مټ لکه تانده لښته، ماته را ماته خو له ګلو ډکه لښته، له سپینو او سرو شګوفو ډکه لښته.... لویه خدایه ځومره ښکلی ده.

.....کوچۍ پیغله داد دښتو او بیابانونو هوسۍ په رېښتیا هم ډېره ښایسته ده، کټ مټ لکه د ښاپیرۍ په شان، له کوه قافه د راغلې پري او له آسمانه د راښکته شوې پیرېښتې په څېر..... )).

د تخت غمی داستان ډېره ریالیستیکه فضا نه لري لیکوال هڅه کړې د خپل داستان روح حماسي وساتي د همدې لپاره ځو ځو ځایه د اتل په اتلولۍ او د اتلې په ښکلا کې له مبالغې څخه کار اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـايي د همـدې خصوصـيت لـه مخـې وي چـې پـر نـاول د سـريزه ليکونکي استاد محمد دين ژواک له نظره د جوړښت او فضا په نظر کې نيولو سره داستان د حماسي او رياليستيکو پيښو يوه ګډوله ده.

هغه ليکي: ((د جهاد داستان شباهت په حماسوي او رياليستيک رنګ کې:

د هـومر Homer د يونـان د لـوی حماسـه ليکـونکي دوې حماسـې مشـهورې دي چې يوه يې داليـاد پـه نامـه ده، پـه دې حماسو کـې د ((کاکه شير)) رول ((اشيل)) Achilles لوبولی دی څنګه؟ وايي د تړای شـهزاده پـاريس يونـان تـه سفر وکـړ او د ((سپارتا)) ښايسـته ميرمن ((هلن)) يې وتښتوله. جګړه شروع شوه او ((اشيل)) پهلوان ((هلن)) بيرته پاچا تـه راولـي او د پاچا نـاموس ګټي. مګـر ((کاکـه شير)) د ((کيوناري)) څخه دده په ايرې کيدلو هغـه هـم د بالاحصـار په شاهي قصر کې د ملت د نجات او قهرمانۍ هيرو کيږي.....)).

استاد ژواک وړاندې زياتوي چې دده په نظر داستان څکه يو څه رياليسـتيک اړخ هـم لـري چـې د هغـه مهـال (لـه انګريزانـو سـره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانانو دوهمه جگړه) د افغاني ټولنې جوړښت، د کابل ژوند او د انگريزانو د موجوديت څرنگوالی تمثيلوي.

دا چې د تخت غمی د حماسې کومه نوع ده، تر دې مخکې به د ښاغلي هيواد مل په بحث کې د حماسې د هغې نوعې تعريف راوخلو چې زموږ له نظره، د بحث وړ کتاب له همدې نوعې څخه دی، استاد هيواد مل د ذبيح الله صفا له نقله مصنوعي حماسه داسې را پيژني: ((په دې منظومو کې د شاعر سروکار د پهلوانی له مدونو داستانو سره نه دی، بلکې خپله ابداع او ابتکار کوي اوخپله يو داستان ايجادوی.)) که څه هم ښاغلی هيوادمل د صفا له يوه قيد سره موافق نه دی چې گواکې حماسه دې نو خامخا منظومه وي، زما (ليوال) له نظره ښاغلی هيواد مل په حقه دی، ځکه زموږ همدا ((د تخت غمی)) حماسه يوه نثري کيسه ده، ښه رابه شو ددی تعريف له نظره خپل بحث ته څرنگه چې د تخت غمي کيسه تر مصطفی جهاد مخکې په همدې بڼه او جوړښت په شفاهی روايا تو کې نه ده راغلي يا ليکل شوې، بلکې اروا ښاد جهاد ددغې کيسې طرح يا خاکه پخپله ابداع کړې ده نو موږ دې ته يوه مصنوعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماسه ویلې شو. خو په لږ تفاوت سره چې د کیسې تاریخي زمینه او د پیښو زمان په افغانستان کې په یوه مشهور جنګ پورې محدوده ده ځکه خو د اروابناد جهاد حماسه یو څه تاریخي ځانګړتیا هم لري.

ښاغلی سرمحقق هیواد مل د تاریخي حماسو په اړه لیکي:

((په دې ډول حماسو کې حماسه ویونکی شاعر یا حماسه لیکونکی لیکوال د خپلې حماسې موضوع د یو قوم یا ملت له پخواني تاریخ څخه اخلي او د تاریخ هغه مراحل په خپله حماسه کې رانغاړي چې قوم له دښمنانو، مهاجمانو او یا طبیعي موانعو سره شدیدې مبارزې کړې وي. دا هم کیدای شي چې د شاعر او لیکوال د خپل دوران تاریخي وقایع چې د قوم، ملت یو یا څو تنو قهرمانانو کارنامې، فداکارۍ او میړانې د حماسې کالب ته ور واچوي او خپله حماسه بشپړه کړي.))

دښاغلي هېوادمل همدغه تعریف پر ((د تخت غمی)) باندې د تطبیق وړ دی ځکه په دې حماسه کې د افغانانو د تاریخ یوه تاریخي کارنامه (د کابل عمومي قیام د کیوناري وژل او د هغه د کور سیزل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر بالاحصار او نورو انګريزي ميشتو سيمو يرغل) راغلي او د يو تن قهرمان (کاکه شير) لاس او ګريوان جګړې په تفصيل سره بيان شوي دي، نو سړی ويلی شي چې د تخت غمي يوه تاريخي مصنوعي حماسه ده.

که له انتقادي نظره وګورو د تخت غمی د داستان ليکنې له معاصرو ځانګړنو او شرايطو سره ډېر برابر نه دی ليکل شوی. ليکوال پخپلو تبصرو او تاريخي معلوماتو د داستان ادبي جوهر ته زيان رسولی، کله کله د داستان ژبه بيخي هيره شوې او د تاريخي تبصرو په شکل بې مزې او له اوږدو تفصيلاتو ځخه ډکه ده. ډېر ځله ليکوال د خپلو قهرمانانو احساسات او فکرونه، نه د هغوی د اعمالو يا عکس العملونو په وسيله بلکې مخامخ د هغوی له زړه او مغزو ځخه را ليکلي دي. داستان د ساده روايت شکل لري او ژبه يې هم ډېر خوږه نه ده. مګر زما له شخصي نظره داستان ځواکمنه طرحه لري، پيښې يې له مبالغې سره سره خپل منطق هم لري او د پيښو تسلسل په کې ساتل شوی دی. په پای کې غواړم وو ايم چې هو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخت غمی یوه حماسه ده او موږ ته بویه چې خپل د غسې آثار د بیا
ثیړلو له لارې له هېرېدا وژغورو او پر لیکوال یې آفرین ووایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترلې ټولنه، ژباړه، پرانيستې ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تړلې ټولنه په یوه جغرافیایي موقعیت کې د یو شمېر خلکو هغه مجموعه ده چې د سیاسي جبر، اقتصادي محدودیتونو، مدني وروسته پاتې والي یا کولتوري بېلتون له امله له نړیوالې ټولنې سره فکري، فرهنګي او مدني اړیکې و نه لري. خو پرانیستې ټولنه د دې پر عکس ده، چې د فکر، فرهنګي او مدني اړیکو د ټینګښت لپاره ځانګړې محدودیت نه لري.

دغه دواړه اصطلاحات هغه وخت په جدي بڼه مطرح شول چې په نړۍ کې سیاسي ـ اقتصادي متفاوتو سیمستمونو د خپل سیالانو د فکري نفوذ د مخنیوي لپاره په خپله محدودیتونه وضع کړل.

ټولنپوهان باور لري چې په منځنیو پېړیو کې اروپایي سخت دریځو او د کلیساګانو واکمنو خپلې ټولنې له فکري کولتوري پلوه تړلې ساتلې څو عقلي پرمختګونه د مذهبي ښکېلاک ګواښ رامنځ ته نه شي کړای همدا راز کلیسایي واک نه غوښتل ریښتیني دیني تفسیرونه را منځ ته شي، ځکه د دوی سیاسي واکمنۍ ته یې زیان رساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـر دې را وروسـتـه د کمـونيزم لـه رامنځتـه کېـدو سـره کمونيسـتـي ټولنو د پانګوالۍ او پانګوالۍ د کمونيستي هغو پروړاندې خپل ورونه وتړل او بيلې بيلې تړلې ټولنې يې را منځ تـه کړې، البتـه پـه داسې حال کې چې شوروي پلوه ټولنې په دې چاره کې ډېرې سخت دريځه او بې رحمه وې. هغـه مهال د سياسي جبر لـه مخې د فکر او فرهنګي نفوذ مخه د ټوپکو اوزندانونو د ميلو پـه وسيله نيـول کېده. له مدنيته ځينې لرې پاتې ټولنې هم تړلې ياد ېداى شي لکه د امريکـا تـر کشف مخکې هلتـه د بـومي سورپوستکو ټولنـه يـا پـه افريقا او اسيا کې د ځينو وحشي قبيلو خلک.

د پرانيســتو ټولنــو د رامــنځ تــه کولــو لپــاره پراخــو هڅــو او د ديموکراتيکو حکومتونو پراختيا په دې وروستيو څو لسيزو کې دومره ګرمه شوه ،چې د پرمختللې برېښنايي ټکنالوژۍ پـه مرسـتـه يې د نړيوال کېدو globalization مفکوره ايجاد او پياوړې کړه.

دا مهـال فکرونـو ، علمـي مونـدونو ، د سياسـي نظريـاتو زغـم او د فرهنګي تجربو او آثارو پراخېدل دومره عـام شـول چې نړۍ يې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رینښتیا هم د یوه کلي په اندازه راکوچنۍ کړه او په اصطلاح د کوزې کلا ډنګ تر برې هم ورسېد.

لویدیزې اروپا او د امریکې متحده ایالاتو چې له اقتصادي اړخه نړیواله سرخیلي په لاس کې درلوده سیاسي ـ فرهنګي برتري یې هم راخپله کړه او د ملګرو ملتونو اداري پنځه یا شپږ ژبې په نړیوالې کچه و منلې چې انګریزي، فرانسوي، جرمني، هسپانوي، روسي او عربي وې. د نړۍ ګڼو هېوادونو د پرانیستو ټولنو او نړېوال کېدو په بهیر کې پر دغو ژبو ځان وپوهاوه په تېره بیا انګریزي له دې پلوه ډېر مهمه شوه آن چې په یو شمېر ټولنو کې بې انګرېزۍ څه نه شول کېدای.همدلته و چې یو شمېر ځانته غره او پر خپلو فرهنګي اصالتونو ولاړو ټولنو بېله لاره خپله کړه، دوی چې نه غوښتل خپلې ژبې، فرهنګي ارزښتونه، ملي غرور او تشخص له لاسه ورکړي، له بلې خوا د پرانیستو ټولنو او بیا نړیوال کېدو له کاروانه یې هم وروسته پاتې والی نه شو زغملای، نو یې ژباړو ته زور ورکړ. ژباړو په دې بهیر کې دوه ګټې درلودې یو خو یې د نړیوالو پرمختګونو ارزښتونه دوی ته رارسول له بلې خوا یې خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبې يا د ژبو پانګه هم پياوړې کېږي، پته او سياسي ښېګڼه يې دا وه چې په ژباړو کې يې هر هغه څه سانسورولای شو چې دوی يې خپلې ټولنې ته راتلل نه غوښتل.

ايران،عربي هېوادونه، چين، جاپان، ځينې اروپايي هېوادونه (په تېره بيا سکانديناوي هغه) د داسې هېوادونو بېلګې دي. دغو هېوادونو خپلې فرهنګي سابقې ته ډېر اهميت ورکاوه او د دې تر څنګ يې غوښتل خپل خلک له هر راز سياسي، فکري ـ علمي او ادبي (په مجموع کې فرهنګي) پرمختګونو څخه باخبره وساتي او په اصطلاح له دې اړخه ترلې ټولنه پاتې نه شي نو يې متې را بډوهلې، له ادبي او علمي آثارو رانيولې تر سياسي مانوفيستونو، ويناوو، تاريخي کتيبو، اعلاميو قوانينو او... پورې هر څه يې راوژباړل. همدا راز د دې لپاره چې د نړيوال کېدو په بهير ورګډ شي او نورو ته د خپل فرهنګي ازرښتونو زور ور وښيي نورو ژبو ته يې هم خپل هغه ور وژباړل او نړيوال يې پر دې وپوهول چې (دلته هم څوک شته!) که څه هم ځينو هېوادونو تر دې اسانه لار غوره کړه او د دې لپاره چې پر انيستې ټولنه را منځ ته کړي او له نړيوال کېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ملګري وي د خپلو ژبو تر څنګ يې يوه نړيواله ژبه په خپل هېواد کې رسمي کړه او خلک يې وهڅول چې دغه ژبې زده کړي، البته چې دې چارې په دغو هېوادو کې تاريخي ريښې درلودې او د استعمار په پړاو پورې تړلې وې.

هند، پاکستان، لاتينه امريکا، افريقايي (فرانسوي ژبي او انګريزي ژبي) هېوادونه او په منځنۍ اسيا کې روسي ژبي هيوادونه له دې ډلې څخه شمېرلی شو.

له بده مرغه موږ هم په غير رسمي توګه همدې لور ته ور روان يو، که څه هم کومه بهرنۍ ژبه مو رسمي نه ده اعلان کړې خو د کار او روزۍ موندلو لپاره يې د خپل نوم تر زده کولو مخکې پر زده کړه ټينګار کوو.

په هر صورت اوس به لاندې درې پوښتنو ته ځواب ولټوو:

۱_ پرانيستې ټولنه څه ګڼي او زيانونه لري؟

۲_ ژباړه ديوې پرانيستې ټولنې په را منځ ته کولو کې څومره او څنګه ونډه لري؟

۳_ په دې بهير کې موږ چيري يو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ پوښتنه: پرانیستې ټولنه څه ګټې او زیانونه لري؟

په دوديزو ارزښتونو ولاړ ټولنپوهان وايي چې د پرانیستې ټولنې د رامنځ ته کېدو په بهیر کې (په تېره بیا په لومړیو پړاوونو کې) سنتونه، بومي عادات، کولتوري او کله_کله عقیدوي ارزښتونو ته زیان اوړي دا اندېښنه پر ځای ده په تېره بیا په هغو ټولنو کې چې اجتماعي شعور یې ټیټ وي او له اقتصادي پلوه کمزوري وي، ځکه د پرانیستې ټولنې غبرګ د نویو پدیدو منلو ته خلاصه وي کله کله د ژوند چټک پرمختګ پخپله د ځنډنیو عادتونو د هېرېدا باعث ګرځي. د پرانیستې ټولنې بل تاوان په فرد ، کورنۍ او ټولنه کې د بدلونونو له امله رواني ګډوډي ده. هر نوی، پردی چې له ځايي او زوړ ارزښت سره مواجه شي څه نا څه کشمکش را منځ ته کوي.

په لومړي سر کې د فرد اروايي حالت له نارملتیا باسي بیا د فرد برخورد له فرد سره بدلوي او په نتیجه کې ټولنه له ګډوډۍ سره مخامخېږي. کله کله دا ستونزې موقتي وي، ځینو ټولنو د داسې ستونزو د مخنیوي لپاره خپل قوانین هومره پرانیستي جوړ کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چې ارزښتونه د فرد د حقوقو په اساس ټاکل کیږي نه دا چې فرد خپل مکلفیتونه د موجودو کولتوري ارزښتونو تابع کړي. د داسې ټولنې یوه بېلګه د امریکا د متحده ایالاتو ټولنه ده، دوی په دې عقیده دي چې هر کولتور چې امریکا ته راځي هغه د امریکې کولتور دی. هیڅ کولتور ممنوع نه دی تر هغه چې د فرد او ټولنې تثبیت شویو حقونو ته زیان وانه ړوي او هیڅ کولتوري ارزښت، چې د یوه فرد یا ډلې خوښ نه وي مراعات یې لازمي نه دی.

په هر صورت د پرانیستې ټولنې ګټې ډېرې دي لومړی دا چې فکري او عقلي پراختیا ته لاره هواروي ټولنیزه پوهه پیاوړې کوي، د دموکراتیکو اصولو له تطبیق سره مرسته کوي او د انساني حقونو تامین ته هم لاره هواروي. خو په دې شرط چې داسې ټولنیز چوکاټونه موجود وي چې په ټولنه کې موجود سالم کولتوري ارزښتونه او عقیدوي اصول له زیان څخه محفوظ وساتي.

ټول مدني ارزښتونه لکه د قانون واکمني، د بل حق ته درناوی او د فکر و بیان ازادي په پرانیستو ټولنو کې ښه ترا د تطبیق وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲ـ ژباړه د پرانيستې ټولنې په رامنځ ته کولو کې څومره او څنګه ونډه لري؟**

ټول هغه فرهنګي ميراثونه چې په مکتوب، ثبت شوي يا په شفاهي بڼه وجود لري يا ايجاديږي د ژباړې وړ دي. په دې کې متون (کتابونه، رسالې، مجلې، بريښنايز متنونه، ورځپاڼې، کتيبې، ليکونه او نور) فلمونه ډرامې تصويري راپورتاژونه، آرشيفي مواد ، غږيز متنونه حتى ولسي او شفاهي ادبيات راتللای شي دا چې د هرڅه په اړه وي، اما د ټولې بشري نړۍ ګډه فکري پانګه ده هره ټولنه حق لري له دغې ګډې پانګې او بشري ميراث څخه زده کړه وکړي، تجربه يې کړي او پرې پوه شي، نو ددې لپاره هغه بايد وژباړي، پرانيستې ټولنه په حقيقت کې د پوهېدا لپاره هڅو ته د زمينې برابرول دي، پرانيستې ټولنه د ژباړې او ژباړه د پرانيستې ټولنې لپاره مکمل او متمم دي، يعنې د علمي، فرهنګي ـ ادبي او هنري ميراثونو ژباړه د جمعي فکر سطحه لوړوي، ټولنيز شعور ته وده ورکوي او په نتيجه کې د پرانيستې ټولنې لپاره شرايط برابريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز په پرانيستې ټولنه کې د ضرورت او اړتيا د شديد احساس په نتيجه کې خلک ژباړې ته هڅول کيږي. د پرانيستې ټولنې خصوصيت دی چې تاسو بايد له نړيوالو فرهنګي حوزو سره پلونه وتړئ، په دې لړ کې ژباړه د يو صنعت په توګه يو مهم پول دی. اطلاعاتو او معلوماتو ته لاسبری د دموکراسۍ او پرانيستې ټولنې مميزه ده او بشپړو اطلاعاتو او معلوماتو ته لاسبری له ژباړې پرته نا ممکنه ده. ژباړه فرهنګي بډاينه رامنځته کوي او فرهنګي غنا د پرانيستې ټولنې يو اصل دی. د دې لپاره چې بحث اوږد نه شي را به شو وروستۍ پوښتنې ته:

په دې بهير کې موږ چيرې يو ؟

له بده مرغه زموږ حال د خواشينۍ وړ دی. د يوې پرانيستې ټولنې د رامنځ ته کېدو لپاره زموږ ټولې هڅې نيمګړې دي اوبلکې کله دغو هڅو منفي پايله درلودلې ده. مثلاً، موږ نه يوازې دا چې پرانيستې ټولنې ته د رسېدو لپاره د خپلو ارزښتونو د حفظ لپاره سيستماتيک او قانوني چوکاټونه نه دي جوړ کړي ،بلکې مخکې له دې چې د پرانيستې ټولنې له ګټو او مزاياوو څخه خبر شو يا يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



را منځ ته کړو دغو ارزښتونو ته په زیان اړولو مو د پرانیستې ټولنې رنګه بده کړې ده. له بده مرغه په عامه ذهنیت کې د دیموکراسۍ، آزادۍ او پرانیستې ټولنې په شان اصطلاحات یو څه بدنام شوي او لامل یې دا دی چې نه لوستو وګړیو او نه هم عام ولس ته ورپېژندل شوي دي، خلک ګومان کوي، چې له عقیدوي ارزښتونو وتل، ناوړه غربي پدیدو ته تسلیمېدل او خپل کولتور هېرول د دغو اصطلاحاتو ماناوې دي.حال دا چې د نړیوالو فکري پانګې ته ځان رسول، پر ټکنولوژۍ سمبالېدل او د بشریت له جمعي پرمختګ سره اوږه په اوږه ګام ایښودل د ټولنیز شعور له هغې مرحلې څخه را پیل کیږي چې خلک د پرانیستې ټولنې پر واقعي ارزښت وپوهیږي او په خپله یې را منځ ته کړي. موږ د خپل جوړ کړي محور پر شاوخوا راڅرخو، خپل فکر، خپل باور او خپل دود دستور مهم دي خو که ځان ته وګورو له بوټونو او جرابو نیولې د سر ترخولۍ پورې د ژوند هره وسیله مو پردیو را جوړه کړې ده. موږ علوم نه زده کوو بلکې راکاپي کوو یې، حتی له طب، انجینرۍ او نورو سیاسي علومو نیولې د بشري علومو تر نظریاتو پورې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو ایجاد کړي، موږ پرته له دې چې سم نا سم په کې وپېژنو را کاپي کوو یې. له دې حالته د وتلو یوه لار ژباړې ته مخه کول دي ،ځکه موږ اړ یو اول د موجود علم ټول شکل را وژباړو. ولس د فکري تولید مصرفوونکی دی، روڼ اندي، لوستی او متخصصین د فکري پانګې تولیدوونکي دي، ژباړه د هرې برخې لپاره ضروي ده. روڼ اندي، لوستي او متخصصین باید د فکري تولید لپاره علوم،فنون، هنرونه او فکري زېرمې ترلاسه کړي، ژباړه بیا هم د ارتباط پول دی. ژباړه د علم د انتقال ژبنۍ وسیله ده. او موږ له پوهنې څخه لرې یو ، د پوهې او تکنولوژۍ یوه نیمګړې، زړه، له کاره لوېدلې نسخه لرو چې د تطبیق وړ نه ده.

ما یو مهال په یوه لیکنه کې لوستي و چې له ټکنولوژۍ سره د پرانیستې ټولنې او یوې تړلې ټولنې بېل-بېل برخورد یې ښوده هلته یې یو ساده مثال ورکړی و ، ویل یې: که تاسو تړلې ټولنې ته د فوتوکاپۍ ماشین ولېږئ هغوی هڅه کوي د استفادې طرز یې زده کړي او که کومه پاڼه پرې کاپي کړي ورته خوشاله وي ،خو که همدا ماشین یوې پرانیستې ټولنې ته ور ولېږئ نو په اول قدم کې هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي دغه ماشین وپېژني او پرې پوه شي چې څنګه کار کوي، بیا ځان وپوهوي چې دغه ماشین څنګه جوړ شوی دی، په دویم ګام کې کوشش کوي په خپله د فوتوکاپي ماشین جوړ کړي، د پرانیستې ټولنې وګړي د فوتوکاپی ماشین یو ځل راوړي او بیا یې ټولې ځانګړنې را ژباړي ځان پرې پوهوي او دوهم یې خپله جوړوي.

د دې مثال له نظره موږ چیرې یو؟ د فوتوکاپي ماشین خو پرېږده چې تر اوسه مو د خپلو ژبو په اړه هم علمي نظریات نه دي را ژباړلي.لا تر اوسه مو د کالیو مینځلو د صابون کیمیاوي فورمول هم نه دی را ژباړلی او د کچالو د بوټي امراض خو لا ډېره لوکسه خبره ده.

د پرانیستې ټولنې په پوهنتون کې هر کال علمي کتابونه نوي کیږي، بلکې د ځینو ژربدلیدونکو علمي تیوریو متون تر دې هم ژر ژر نوي کیږي. زموږ په پوهنتون کې د ۱۹۳۳ کال د انجینری هغه تیوری لوستل کیږي چې اوس د تاریخ حافظې ته سپارل شوې، همدا دی دترلې او پرانیستې ټولنې توپیر. که یو ملت د پرانیستې ټولنې په رامنځ ته کولو کې محتاط وي خپل کولتوري ارزښتونه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه ورنه کړي، نو په دې لاره کې ژباړه له یوه اړخه آب حیات ده ځکه پوهه به یې تر لاسه کړې وي خو ژبه او فرهنګ به یې هم ساتلی وي.

په ترڅې ټولنه کې هغه وګړي چې پرمختګ او اصلاحات غواړي منفعل قشر وي حال دا چې په پرانیستې ټولنه کې ریفورم غوښتونکي فعال وي نه منفعل. د منفعل قشر خصوصیات دا دي چې له پېښو سره په احساساتي او شعاري روحیه برخورد کوي نه په عقلي او ترمیمي روحیه حال دا چې فعال قشر په آرامو اعصابو فعالیت کوي او کار یې دا وي چې یو څه رامنځ ته کړي نه دا چې خلک خپلو غوښتنو ته متوجه کړي. دا څرګنده ده چې د هر حق غوښتونکي او اصلاح طلبه غورځنګ بدلون له منفعل حالته و یوه فعال حالت ته پوهاوي او فکري بلوغ ته اړتیا لري چې ژباړه یې یوه ښه وسیله ده. موږ که د ژباړې د یوه منظم غورځنګ له لارې فکري اساسات او علمي لاسته راوړنې راخپلې کړو نو، نه یوازې دا چې یو فعال پرمختګ غوښتونکی نهضت به ولرو ،بلکې د پرانیستې ټولنې لومړني اساسات به مو هم رامنځ ته کړي وي. د دموکراسۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فلسفې، د سياست علم، ټولنپوهنه، د جمعي شعور د لوړتيا لپاره فکري تغذيه، تکنالوژي، ساينسي علوم، نړيوال ادبيات، هنري پانګه، تاريخ او روزنيز مواد په لومړي سر کې د ژباړې لپاره مهم مواد دي.

د يوې پرانيستې ټولنې اړيکي له نړيوالې ټولنې سره طبعاً يو اړخيز نه دي موږ نه يوازې د نورو پېژندلو ته اړ يو بلکې بايد ځانونه هم پر نورو وپېژنو او د دې لپاره هم ژباړې ته اړتيا لرو، که له نړيوالو څخه څه اخلو بايد څه ورته عرضه هم کړو، زموږ تاريخ، زموږ کولتوري ارزښتونه، ادبي پانګه او ټولنيز واقعيتونه د ژباړې وړ دي. همدا اوس نړۍ د افغانستان په اړه سترې سياسي او نظامي تېروتنې کوي ځکه د افغانستان له کولتوري ارزښتونو، اجتماعي مناسباتو، عقايدو، اقتصاد، تاريخ،ژبو او قومي حقايقو څخه نه دي خبر، ولې نه دي خبر؟ ځکه نه يو ور ژباړل شوي.ولې؟ ځکه تړلې ټولنه يو د ژباړې په مرسته به موږ يو بل څه هم تر لاسه کړو، که علوم او فنون په خپلو ژبو کې ولرو د انګرېزۍ د مينې له دغې تبې به هم خلاص شو چې اوس يې لرو، نور به ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



علوم یوازې د انګرېزۍ او کمپیوټر په ابتدایي کورسونو کې نه خلاصه کیږي او پخو پوهانو ته به مو ثوک عریضه پر مخ نه ولي چې ولې یې انګریزي نه ده زده. د خارجي ژبو زده کړه هدف نه بلکې وسیله ده، د ژبارې لپاره وسیله، نه لکه علم، د هدف په توګه. موږ باید په پوره پام او احتیاط یوه پرانیستې ټولنه را منځ ته کړو د دې لپاره لومړی درشل ژباړه ده، یوه دوه اړخیزه ژباړه، بل درشل یې د خپلو ارزښتونو د ساتلو لپاره د چوکاټونو ایجاد او پالل دي او دریېیم ګام یې د منفعل پرمختګ غوښتونکي غورځنګ پوهاوی دی چې په یوه فعال او مثمر بهیر بدل شي او خپله پوهه د ټولنې پر هوساینه ولګوي.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library